# فرهنګي فقر



محمد اسمعیل یون

۱۳۸۷ ل

Ketabton.com

Downloaded from: ketabton.com

# فرهنګي فقر

(د تنظیمواکۍ د مهال څو لیکنې)

لیکوال

**محمد اسمعیل یون**

۱۳۸۷ لمریز کال

Downloaded from: ketabton.com

بسم الله الرحمن الرحیم

# کتاب پېژندنه


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | فرهنګي فقر |
| لیکوال: | محمد اسمعیل یون |
| خپرندوی: | یون کلتوري یون |
| چاپشمېر: | ۱۰۰۰ ټوکه |
| لومړی چاپ: | ۱۳۷۳ل کال |
| دویم چاپ: | ۱۳۸۷ل کال |
| د لیکوال | |
| پرله پسې نومره: | (۲۴ ) |
| د خپرندوی | |
| پرله پسې نومره: | (۲۴ ) |

Downloaded from: ketabton.com

# نیولیک


| مخ | سرلیک | ګڼه |
|---|---|---|
| ۱ | دا اثر د غمجنو پېښو انځورنه | ۱ |
| ۸ | د تنظیمو اکې د بهیر دا لیکنې | ۳ |
| ۱۲ | د جدي شپږمه زموږ د معاصر ... | ۴ |
| ۲۹ | فرهنګي فقر | ۵ |
| ۳۳ | د عقایدو بحران | ۶ |
| ۳۷ | که خبر نه یې نو واوره ! | ۷ |
| ۴۰ | جګړه او روحي ستونزې | ۸ |
| ۴۵ | فرهنګي ټولنې او فرهنګي ... | ۹ |
| ۴۹ | د کابل طب انستیتوت، د زیان تر ... | ۱۰ |
| ۵۳ | د افغانستان د ملي ګالرۍ برخلیک | ۱۱ |
| ۵۷ | د کابل د اوسنۍ ادارې ځو ځانګړتیاوې | ۱۲ |
| ۶۲ | دجدي د ۶نېټې غمیزه او د هغې ... | ۱۳ |
| ۷۱ | کابل: رنځونه، مرګونه او کړاوونه | ۱۴ |
| ۷۷ | کابل بیا په وینو ولمبل | ۱۵ |
| ۸۱ | د قدرت د انتقال مساله | ۱۶ |
| ۸۶ | یرغمل شوی ولس | ۱۷ |
| ۹۰ | غني، غني دی | ۱۸ |
| ۱۰۳ | ننګیال یو شاعرانه شخصیت | ۱۹ |
| ۱۱۱ | فرهنګي رغونه د افغاني ټولنې د... | ۲۰ |
| ۱۱۹ | په افغانستان کې تنظیمي اداره او ... | ۲۱ |
| ۱۲۴ | د محمد اسمعیل یون لنډه پېژندنه | ۲۲ |

Downloaded from: ketabton.com

سریزه:

# دا اثر د غمجنو پېښو انځورنه

د ډاکټر نجیب الله د رژیم د پای کلونه وو، چې افغان فرهنګیانو ((د خوشال فرهنګي ټولنې)) بنسټ کېښود. دغې ټولنې په لنډ وخت کې یو شمېر مهم سیمینارونه جوړ کړل، یو شمېر مهم اثار یې چاپ کړل او د طب او انجینرۍ په برخو کې یې هم څانګې پرانیستې، ډېر ژر یې د یوه ملي او فرهنګي غورځنګ بڼه غوره کړه. دا مهال یون صیب د ادبیاتو په پوهنځي کې و، ما او ډاکتر صیب ابراهیم شینواري د طب په پوهنځي کې زده کړې کولې. یون صیب نه یوازې د خوشال فرهنګي ټولنې د مشرتابه جرګې هڅاند غړی و، بلکې د دغې ټولنې په ایجاد کې یې هم مهمه ونډه درلوده. زما او د یون صیب او ډاکتر صیب شینواري ترمنځ په همدې وخت کې اړیکي ډېرې سره نږدې شول، په ګډه مو فرهنګي هلې ځلې کولې او په دې هیله وو، چې که دا فرهنګي غورځنګ همداسې پرمخ ولاړ شي، نو په ډېر لږ وخت کې به پښتانه له کلتوري غفلت څخه راویښ شي او د چټک پرمختګ لاره به غوره کړي. خو په همدې وخت کې له شمال څخه د افغانستان د تجزیې او نیواک یوه بله خطرناکه دسیسه د توپان په څېر

Downloaded from: ketabton.com

راروانه وه ، چې څېپې يې وارد مخه کابل ته هم رارسيدلې وې
.

همداسې وشول ، د ډاکتر نجيب رژيم نسکور شو ، خو د سولې او خپلواکۍ پرځای کورنۍ جګړه او د افغان په لاس د افغان وژنه پيل شوه او هغه څه چې له روسي تاړاک څخه خوندي پاتې و ، تنظيمي جګړو او تالان له کومې تېر کړل او هېواد مو پر ورږو ورږو کوږکيو وويشل شو. موږ به روانې پېښې او نادودې په ډېر ځير سره څارلې او که مونږ څه له وسه نه کېدل نو هڅه موکوله چې خپلې اندېښنې له يو شمېر اغېزمنو کسانو سره شريکې کړو.يو ځل مو پرېکړه وکړه ، چې په کابل کې يو ګډ کور ونيسو ، هره شپه به روان حالات سره څېړو او په سبا به يې د ټاکلي پلان له مخې له خپلې وسې سره منډې ترړې کوو ، خو زموږ کورنيو مسووليتونو دا موقع رانه کړه. څلور کاله وروسته ما له هېواد څخه بهر ته مخه کړه ، خو يون او ډاکتر شينواری همدلته پاتې شول، چې تل به زما د اندېښنې مزي ورسره تړلي وو.

ترکومه چې زه يون پېژنم، د دې تر څنګ چې پر هېواد د تېل شوې غميزې او ورڅخه رازېږېدلو پېښو پروړاندې ډېر حساس و ، همدغو پېښو ته يې تل په يوه ځانګړې ، ژور او ذره بيني نظر کتل او ډېر وخت به يې پېښې له يوې داسې زاويې څخه څېرلې، چې د يوه عادي کتونکي به هډو ورته پام

Downloaded from: ketabton.com

نه واو په همدې لړکې به يې کله کله د پېښو ، د هغو د لاملونو او پايلو ترمنځ عجيبه اړيکي او منطق موندل.

يون چې پياوړى قلم لري، تل يې هڅه کړې خپل دردونه، کتنې ،شننې او اند بښنې د کاغذ پرمخ راوړي او له نورو سره يې شريک کړي ،چې د مقالو همدا ټولګه يې د تنظيمو اکې د پېر د نادودو يو ښه انځور وړاندې کوي. په دغو ليکنو کې د تنظيمونو د مدعا او عمل ترمنځ د واټن له مخه پرده پورته شوې او د لوټ ،تالان ، وژنو ، ورانۍ او تباهۍ ترڅنګ داسې کيسې هم لولو ، چې د سړي له ډېره درده خندا ورته راشي ، لکه د پچو محصول ، له کابل څخه د اسلامي ځواکونو دفاع او دې ورته نورې کيسې.

خو په دې ليکنو کې تاسو يوازې د مرګ ژوبلو اوورانيو احصايوي رپوټ نه لولئ او نه هم يوازې د يوه شاعريا اديب عاطفي احساس ګورئ، بلکې يون د روان ناورين ځينو داسې زيانونو او څنډو ته ګوته نيسي چې که څه هم ډېر مهم دي، خو د ډېرو له پامه غورځېدلي دي.

د بېلګې په توګه ، کله چې موږ د جګړې د زيانونو خبره کوو ، نو سمدستي مو فزيکي ، مادي او اقتصادي زيانونه او ورانۍ سترګو ته دريږي؛ کله چې د بيا رغونې خبره کوو نو هم يوازې د مادي او اقتصادي بيا رغونې په اړه فکر کوو.خو يون د مادي او اقتصادي زيانونو تر څنګ او تر هغو لا زيات په فرهنګي او معنوي برخو کې زيانونو ته متوجه دی.د

Downloaded from: ketabton.com

اعتماد بحران ، د معنويت سقوط ، د افغان ولس ذهني وېش او فرهنګي زيانونه هغه مهم بنسټيز لاملونه دي ، چې نن يې هم موږ له پايلو سره لاس او ګرېوان يو. د بېلګې په توګه که څه هم د طالبانو د حکومت تر نسکورېدو وروسته په لسګونو ميليارده ډالره له افغانستان سره د مرستې په نامه راغلل، خو د معنوياتو د سقوط له امله د ولس د هوساينې پرځای د يو څو تنو جېبونه پرې ډک شول؛ که څه هم خلکو ته د سياسي او ټولنيزو فعاليتونو ازادي ورکړل شوه ، خو د هغه ژور ذهني وېش له امله چې د دښمنانو تبليغاتي چړو زموږ ترمنځ رامنځته کړی اوس هم پر سلو لارو روان يو او د يو بل پښو ته موتبرونه نيولي دي ،چې له همدې امله يوازې د ثبت شويو سياسي ګوندونو شمېر د سلو شاوخوا ته رسېږي. له بده مرغه موږ تراوسه پورې هم د معنوي ارزښتونود بيا رغونې او د ملي اوټولنيز -انتګراسيون يا بيا کوشير کولو کومه ستراتيژي نه لرو.

موږ معمولاً هغوخلکوته معيوب وايو ، چې د بدن غړي يې له لاسه ورکړي وي ، خو يون د افغانانو رواني زيانونه او ناروغۍ هم نه دي هېرې کړي او په همدې اړه د يوې ليکنې په پای کې ليکي: « لندن دا چې د ولس زياته برخه په ډول ډول رواني ستونزو واوښته. د کابل پوهنتون له يوه استاد څخه مې د دغه درد د شريکولو په ترڅ کې وپوښتل ، چې د افغانستان زيات وګړي تقريبا **۹۵** په سلو کې پر يوې نه يوې

Downloaded from: ketabton.com

ډول روحي ناروغۍ اخته دي ،هغه وويل: (تاته چې کوم روغ ښکاري هغه هم ناروغ دی ، ځکه چې دا دردونکې او غملړلې پېښې ولې پرې تاثيرنه کوي ).»

د يون د ليکنويوه بله ځانګړنه له شمېرو او ارقامو سره د ده علاقمندي ده . د دې ترڅنګ چې معمولاً د پېښو او زيانونو په اړه دقيقې شمېرې وړاندې کوي ، کله کله له دغو شمېرو او ارقاموڅخه داسې پايلې راوباسي ، چې سړی ورته اريانيږي او د موضوع اهميت ته متوجه کېږي.د بېلګې په توګه تاسو دا متن ولولئ:(( اوس نو تقريبا هره ورځ له هرو دريو افغانانو دوه تنه ضرور پر بې نتيجې سياسي بحثونو خپل وخت تېروي، نو لږ تر لږه که له ۱۵ مليونو افغانانو څخه لس مليونه تنه افغانان د ورځې يوساعت پرسياسي خبرو تېر کړي، نو په يوه ورځ کې به مو ۱۰ مليونه ساعته وخت ضايع کړی وي او که دا په يوکال کې ضرب کړو ، نو **۳۶۵۰** ميليونه ساعته وخت به شي او که دا بيا په **۱۵** کلو کې ضرب کړو نو **۵۴۷۵۰** ميليونه ساعته وخت به مو يوازې پر بې نتيجې بحثونو ضايع کړی وي.... ))

او يا د کابل طب انستيتيوت ته درسېدلو زيانونو په لړکې دا بله په زړه پوري بېلګه وګورئ:((... په دې موده کې د محصلينو درسونه يا په نيمه او يا په بشپړ ډول ودرول شوي وو. که د محصلينو د شمېر په تناسب د درسي ساعتونو شمېر په پام کې ونيسو ،نو په مجموعي توګه به نوموړي

Downloaded from: ketabton.com

انسـتيتيوت تـه د لسـو مليونـو پـه شـاوخوا كـې د درسـي ساعتونو د ضايع كېدو زيـان اوښتـي وي.)).پـه دغـو شمېرو كې د وخت دضـياع پـه اړه د يـون سخت حساسيت پـه خپلـه د پاملرنې وړ خبره ده. په دې كې هېڅ شک نشـته هغـو ولسـونو چې له وخت نه سمه ګټه اخيستې ده، د تمدن او پرمختـګ پـر لوړو پوړيوختلي دي. لـه بده مرغـه مـوږ اكثراًيـوازې د مـادي زيانونو په اړه خبرې كوو ، خو دا چې څومره وخت مـو لـه لاسـه وركړی او تر نوروهېوادونو څـومره وروسـته غورځېدلي يـو، دې ته پام نه كوو.

پـه دغـه ټولګـه كې د تنظيمـو اكۍ پـه اړه پـر ليكنـو سربېره دوې ادبي ليكنې هم راغلي ، چې زما پـه انـد بهتـره وه د ادبي ليكنـو پـه يـوه بلـه ټولګـه كې راغلې وای.كېدی شي پـه دغـه ټولګه كې د پېښو زياتره انځورونه زمـوږ لپاره اشناوي ،يامو پـه خپله ليدلي وي او يا موهم له بل چا اورېدلي وي ، خو يـو نسـل وروسـته همـدا ليكنـې د تـاريخ مينـه والـو تـه د تنظيمـو اكۍ د پېـر يـو ډېـر ربښتينی اوعينـي انځـور وړانـدې كولی شي او بل دا چې له هغه زاويې څخه چې دا پېښـې څېړل شوي ښايي د ډېرو لوستونكو لپاره نوې وي.

دا چې يـون صيب همت كـړی او خپلـې ليكنـې يـې پـه خپلـه راټولـې كـړې د ستاينې او قـدر وړ كـار دی، كـه نـه وروسـته د دغو ليكنو موندل ، راټولول او بيا د چاپ تر درشله رسول څه اسانه كـار نـه دی. پـه پـای كې يـون صيب تـه د دغـې ټولګې د

Downloaded from: ketabton.com

چاپ له امله مبارکي وایم او له قادر و متعال خدای(ج) څخه یې قلم ته لا ډېر برکتونه غواړم.

په درنښت

خوشال روهي

Downloaded from: ketabton.com

د سریزې په ډول:

# د تنظیمواکۍ د مهال دا لیکنې

په دې ورځو کې چې زه د خپلو لیکنو د راټولولو په هڅه کې یم، نو د خپلو ټولو چاپي لیکنو د راټولېدو لپاره مې د هغو چاپي خپرونو لټه پیل کړه، چې زما د لیکنو د چاپ احتمال په کې و. له نېکه مرغه چې ددې خپرونو یو زیات شمېر ما سره خوندي و، خو دا خوندیتوب هم یو ځای او یو مهال نه و، د ځینو خپرونو کلکسیون، په پېښور، د ځینو په کابل، د ځینو په ننګرهار او د ځینو نورو هم په لغمان کې و، په دې تېرو شلو کلونو کې ددغو اخبارونو او مجلو خوندي ساتل هم اسانه کار نه و، د موږکانو دې خونه ړنګه شي، هغوی هم پرې صرفه نه وه کړې، بادوباران هم د ځینو پاڼې دوړولې وې او لېږد رالېږد هم خپل تاثیر ښندلای و. خو بیا هم د یو مسلکي لیکوال په توګه زه له پیله بیا تر دې دمه د خپلو لیکنو خوندیتوب ته متوجه وم، له هغه مهاله چې زما لومړني شعرونه په اخبارونو کې چاپ شول او بیا تر څو کلونو پورې، ما په منظم ډول د خپلو چاپي لیکنو یو فهرست په یوه کتابچه کې لیکه او هلته مې دا واضح کوله، چې زما کومه لیکنه او شعر په کومه خپرونه کې څه وخت چاپ شوي دي، دې کار ته مې تر یوه وخت دوام

Downloaded from: ketabton.com

ورکړ، خو دا لړۍ بیا وروسته وشلېده او کله چې مې ددې لیکنو پر راټولونې پیل وکړ، نو هغه کتابچه هم راڅخه لادرکه شوه، خو په هر ترتیب د اخبارونو او مجلو لړۍ مې چې وپلټلې، ډېرې لیکنې مې ترلاسه کړې او یو کم شمېر داسې لیکنې چې پر بیا چاپ ارزېدلې، لاسته رانغلې، ځینې لیکنې داسې هم وې چې د همغه وخت په انډول یې یو څه ارزښت درلود او یا یې هم خبري او ژورنالستیکه بڼه لرله او پر بیا چاپ نه ارزېدلې، هغه خپله ما ترې حذف کړې، نو له څو لیکنو پرته چې بیا چاپ یې زما په نظر ضرورو، نورې اکثره ترلاسه شوې.

زه د ښوونځي په اتم او یا نهم ټولګي کې وم چې زما لومړني شعرونه په (ستوري) مجله او بیا په (قبایلي زلمیان) جریده کې چاپ شول، دا نو د انسان لپاره یوه نه هېرېدونکې خاطره وي، هغه شعر چې په ستوري مجله کې چاپ شوی و، مطلع یې دا وه:

نن کې زه ماشوم یم د سبا د ورځې پلار به شم
نوی ژوند به جوړ کړم د غریبو خدمتګار به شم

او هغه چې په قبایلي زلمیانو جریده کې چاپ و (زما هوډ) نومېده مطلع یې دا وه:

جوړ به مې هېواد کړم چې ځلاند شي په نړۍ

Downloaded from: ketabton.com

## لا بـه مـې د رنـه کړم د خپل پلار نيکه پګړې

البتـه دا زمـا لـومړني شعرونه نـه وو ، خـو د لومړنيـو چـاپي شعرونو له جملې څخه وو. بيا همدا سې په نورو اخبارونو او مجلو کې زما ليکنې او شعرونه راغلل، خو لـه ۱۳۶۴ل کـال بيا تر دې دمه چې زما ليکنې پـه کومو چـاپي خپرونو کې راغلي دي، اکثـره پـه دې خپرونـو کـې دي: سـتوری مجلـه، قبـايلي ځلميان جريده، درفش جوانان اوونيزه، هېـواد ، انيس، پيـام، ملي ارمان ورځپاڼې، جرګه، ژونـدون، هيلـه، ډيـوه، شمشـاد ، بـاختر، کابـل پوهنتـون، خپلـواکي، ګندهارا ، ښـکلا ، کمکـی خيبر، روهي، انګـازه، الينګـار او الفت مجلې، وفـا ، ارمـان، دعـوت، سـپوږمۍ او قلمـوال جريـدې او همدارنګـه ټـول افغـان، بېنـوا ، لـر او بـر، غـورځـنګ، ققنـوس او ځينـې نـورې وېبپاڼې چې زما ځينې شعرونه او ليکنې په کې راغلي دي.

کله چې مـا د خپـل تېـر کـار پـر ټولولـو پيـل وکـړ، نو طبعـاً د مهـال او محتـوا لـه مخـې د هغـو د ډلبنـدۍ مسـئله هـم راسـره مطرح شوه، دغه ليکنې چې په دې ټولګه کې راټولې شوې، د هغو ليکنو ټولګه ده چې يو مشخص مهال په خپله لمـن کې رانغـاړي: ۱۳۷۱-۱۳۷۵ لمريـز کلونـه چې د هېـواد پـر بېلابېلـو سـيمو مختلـف تنظيمونـه واکمـن وو او پـر ټـول هېـواد د ګـډوډۍ، لـوټ او تـالان لمـن خـوره وه، دا ليکنـې د بېلابېلـو سياسي، ټولنيزو، کلتـوري او ورځنيـو مسـايلو پـه اړه ليکـل شـوي او پـر يـوه واحده ټولګه کې مې د مهال له مخې د هغـو

Downloaded from: ketabton.com

راتلونکې کيسې

را تېرولېدنه ځکه غوره وبلله، چې د همدې يوه غمجن مهال د بېلابېلو ژوند پېښو څرګونه په کې ليدل کېدی شي، که څه هم د موضوع او محتوا له پلوه سره توپير لري، خو که په ځير ورته وګورو د هغې زمانې د تاوجن او غمجن حالت تصوير راکاږي، ددې ليکنو په منځ کې د هغې ليکنې شتون هم ضروري و چې ما پر کابل باندې د تنظيمي واکمنۍ تر پيل وروسته لنډ مهال کې ليکلی و. ددې ليکنې نوم و: ((له سره ښکېلاکه تر سپين زبېښناکه )). په دې ليکنه کې د روسيې (استعمار) او د پاکستان (استثمار) سره پرتله شوي وو، څرنګه چې دا مهال په کابل کې چاپي خپرونې پر ټپه ودرېدلې وې او نه د خپرونو ازادي وه، نو دا ليکنه د کوزې پښتونخوا په مردان کې، يوې خپرېدونکې مجلې خپره کړه، خو تر دې مهاله يې زه په بيا پيدا کولو بريالی نه شوم او همدا رنګه يو شمېر نورې ليکنې چې پر بيا چاپ ارزېدلې.

د تنظيمو اکې تر رنګېدو وروسته د ډاکټر نجيب الله د وژنې په باب زما د يو ليکلي يادښت چاپ هم ضروري و. دا يادښت ما د ميزان پر (۷) نېټه د کابل په اريانا څلورلارې کې هغه مهال ليکلی و، چې د ډاکټر نجيب الله او د هغه د ورور احمدزي ځوړند مړي مې، په خپلو سترګو، په داسې حالت کې وليدل چې د کابل په زرګونو خلک ورته راټول شوي وو، ما په دې يادښت کې ددې صحنې تصوير ايستلی دی، خو په

Downloaded from: ketabton.com

خواشینۍ سره چې ددې لیکنو د چاپ تر مهاله یې په پیدا کولو بریالی نه شوم.

ددې ټولګې درنو لوستونکو پام دې ټکي ته را اړوم چې دا لیکنې زما د هغه مهال د فکر اخیستنه ده او کوم تصویر چې ما د هغه وخت د حالاتو کاږلی، تر ډېره بریده له واقعیت سره منطبق دی، په دې لیکنو کې ما بیا لاس نه دی وهلی او نه مې دا د مهال له غوښتنو سره عیارې کړې دي او هدف مې دا هم نه دی چې عیارې یې کړم، ځکه نه هغه وخت ما ته چا ددې لیکنو په خاطر امتیاز راکړی او نه به یې اوس راکړي، زما لپاره تر ټولو غټ امتیاز همدا دی چې خپل روح او روان مې ارام وي، په دې کې مې یو څو هغه ځایونه چې د املایي، انشایي او چاپي تېروتنو د سمون ایجاب یې کاوه او همدارنګه ځینې نېټې او ارقام چې هغه هم د طباعتي تېروتنو زېږنده وه، په هغو کې سمون راوړی او یو دوه عنوانه مې لنډ کړي دي. نور متن مې د تاریخي اصالت له مخې کټ مټ همغسې پرې ایښی دی، حتی ځینې هغه املایي تېروتنې چې تراوسه پورې دود دي، هم پر خپل حال مې پرې ایښې او هغو ته به خپل بل اثر ((پښتو لیکنی سمون)) کې اشاره کوم، دا تېروتنې لا تراوسه پورې عامې دي.

((تېرې لیکنې په خپل شکل)) له چاپ څخه زما هدف دا دی چې لیکوال، لوستونکو ته دا په ګوته کړي، چې تېر وخت چا څه کړي؟ او په راتلونکي کې باید څه وکړي؟، تېر حالات زموږ

Downloaded from: ketabton.com

د راتلونکي لپاره يو پُل دی، که چا د دغه پله ستنې سمې ايښې وي، نو د راتلونکي مزله لپاره به يې لاره اواره کړې وي او د نورو د باور د خپلولو لپاره به يې اساسات پاخه وي، زما له نورو ليکوالو څخه هم هيله ده، چې خپل تېر اثار راټول او د خپلو لوستونکو مخې ته يې د قضاوت لپاره کېږدي، ليکوال خپله هم بايد په ژوندوني خپل امتحان ته حاضر شي.

په خپله د خپلو ليکنو راټولونه ځکه ښه کار دی، چې يو خو به يې د خپل کړي او نيمګړي کار د راټولونې بار پر بل چا بار نه شي او بل د ډېرو هغو تېروتنو او ناسميو مخه به ونيول شي چې راتلونکي ليکوال يې د تېرو ليکوالو د اثارو د راټولېدو پر وخت زغمي، دا سمه ده چې پر ژوند باور نه شته او انسان د خپل ژوند له برخليکه خبر نه وي، مرګ هم چا ته د خپل راتګ خبر نه اعلانوي، خو زه دومره وايم چې ليکوال ته په کار دي چې هر څو کاله وروسته (که ژوندی و) لږ تر لږه پنځه کاله وروسته، يو څه وخت د خپل تېر کړي کار ارزونې او راټولونې ته بېل کړي او خپل هغه څه راټول کړي، چې پر بيا راټولونې او بيا خپرونې ارزي، په دې ډول به مو د خپل راتلونکي نسل او هغه ليکوال وخت سپما کړی وي، چې بيا يې زموږ د اوسني ليکوال د کړي او متفرق کار پر بيا راټولونې لګوي او هم به مو د هغو تېروتنو، ناوړه پوهاوي او زياتې مبالغې مخه هم نيولې وي چې بيا وروسته د دغه ليکوال په باب کېږي. يو ليکوال چې په خپله د خپل کار د راټولولو وس او وخت ونه لري، نو بيا

Downloaded from: ketabton.com

له نورو ولې دا هيله وشي، چې هغوی به په ښه ډول دا کارونه ترسره کړي. زموږ يو شمېر ليکوال د خپل ژوند پر مهال د خپلو اثارو شمېر تر حقيقت لوړ ښيي، دا سې ليکوال هم شته چې يوه موضوع يې تر يوه حده څېړلې وي، خو بشپړه کړې يې نه وي، هغه هم په بشپړ کار کې حسابوي او د خپلو اثارو په نيوليک کې يې راوړي او ځينې لا داسې هم دي چې يوازې موضوع يې ټاکلې وي او بيا يې هغه هم په اثارو کې وشمېرل شي، نو د دغسې تېروتنو او ابهاماتو د مخنيوي په خاطر هر ليکوال ته بويه چې د خپلو اثارو د راټولېدو غمه په خپله وخوري. اوس له نېکه مرغه د کمپيوټر او انټرنيټ زمانه ده، ليکنې يوازې په چاپي خپرونو کې نه خوندي کېږي، اوس که ليکنه يو ځل د کمپيوټر او انټرنيټ څپو ته ورداخله شوه، بيا يې د محوه کېدو امکان ښېخې کمېږي، نو ليکوال ته په کار دي، چې د خپلو ليکنو تر ټولېدو وروسته د هغود خونديتوب په باب يوازې پر چاپي رسنيو بسنه ونه کړي، بلکې ښېلابېلو وېبپاڼو ته يې هم ورکړي، چې هم يې ګټه زياتو خلکو ته ورسېږي او هم د مرګ له بلا وژغورل شي. ما چې د خپلو ليکنو د راټولولو تکل او کار پيل کړی، هدف مې همدا دی چې په راتلونکي کې نور له ما سره په تکليف نه شي او هم نورو ليکوالو ته خپل دا پيغام پرېږدم، چې که غواړئ کار وکړئ او کار خلاص کړئ، نو خپله يې وکړئ! په همدې هيله دا ليکنې د قدرمنو لوستونکو مخې ته ږدم.

Downloaded from: ketabton.com

په ډېره مينه او درناوي

ستاسو يون

۱۳۸۷ل کال د مرغومي ۱۲نېټه

کابل- افغانستان

Downloaded from: ketabton.com

# د جدي شپږمه زموږ د معاصر تاریخ غمیزه

دا لیکنه هغه مهال له پېښوره د خپرېدونکې وفا جریدې په پرله پسې (۷۹) گڼه کې چې د ۱۳۷۲ل کال د مرغومي له (۱۰) مې نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده. په دې لیکنه کې له بېلابېلو اخځونو څخه گټه پورته شوې وه، چې د چاپ پر مهال، هغه له چاپه غورځېدلې دي، خو کومو ځایونو کې چې متن په غبرگو لیندیو کې نیول شوی، د بل چا د اثر ښکارندویي کوي، نو زه دلته د لیکنې همغه بڼه بیا خپروم چې وفا جریدې خپره کړې ده.

د ۱۳۵۸ لمریز کال د جدي ۶ نېټه زموږ د هېواد په تاریخ کې د ویر او درد هغه غم لړلې ورځ ده، چې د نړۍ ستر فکري او پوځي ښامار، په اقتصادي لحاظ د افغانستان له مظلوم، خو په رواني لحاظ له غښتلي ولس سره، د زور ازموینې لپاره، د جنگ ډگر ته را ودانگل او زموږ پر سپېڅلې او غیرتي خاوره یې څه ناڅه د فکري او اقتصادي ښکېل ترڅنگ د پوره پوځي ښکېلاک لاره خپله کړه.

دوی دې کار ته ((د انترناسیونالیستي)) مرستو نوم ورکړ او خپل روزل شوی غلام (ببرک کارمل) چې روحاً او جسماً د

Downloaded from: ketabton.com

شوروي اتحاد د اوامرو تابع و، د خپل يوه جمهوريت د راډيو له لارې د افغانستان ولس ته لا ښه راوپېژانده، يوه ورځ وروسته يې د خپل سره پوځ د زور پر اوږو سپور کابل ته راواستاوه او د کابل پر تخت يې کېناوه. تر دې وخته پورې (ببرک کارمل) زموږ په ټولنه کې د يوه منفي سياسي کرکتر په توګه ځان تثبيت کړی و؛ سياسي کړيو او روښنفکري قشر له روسانو سره د هغه له نږدې اړيکو نه خبر وو، مذهبي او روحاني کړيو کې د هغه عقيده يې تګلوري ته په سپکه سترګه کتل کېدل او په فرهنګي او ملي حلقو او اذهانو کې د هغه د ملي او قومي هويت د ناڅرګند تيا په وجه هم د هغه پر وړاندې ځه ناځه حساسيتونه راپارېدلي وو، له دې دومره نيمګړتياوو او منفي صفاتو سره سره روسانو د پخوانيو روابطو په تعقيب هغه په چکوسلواکيا کې د افغانستان له سفارت نه (شوروي اتحاد) ته بوته او تر ځو مياشتو ځنډ وروسته يې د خپل ۸۵ زره کسيز پوځ په زور د (حفيظ الله امين) واکمنۍ او ژوند سقوط او پر ځای يې دی (ببرک کارمل) کېناوه. ببرک کارمل له شوروي ځخه د ((سپاس)) او منني ادا کولو په ترڅ کې خپله ځېره خلکو ته وښوده، د افغانانو تاريخ، فرهنګ، معنويت او اتلولي يې له نظره وغورځوله او د افغانستان برخليک يې د شوروي انترناسيوناليستو(!) مرستو سره تړلی وباله. په لسګونو ځله يې په رسمي او مطبوعاتي غونډو کې دا خبرې په ډېر وياړ او جرئت سره د تاريخ حافظې ته

Downloaded from: ketabton.com

وسپارلې چې: ((ما هرگز شکست نه خواهیم خورد از خاطریکه اتحاد شوروی بزرگ عقب ما ایستاده است، اگر کمکهای بجا و انترناسیونالستی اتحاد شوروی بزرگ نمیبود، افغانستان هرگز در نقشه سیاسی جهان وجود نمی داشت، دوستی افغان شوروی خلل ناپذیر است، اتحاد شوروی دوست صدیق مردم افغانستان است)).

## عکس العملونه:

د پخواني شوروي د زورواکانو دا تېرى د ټولې نړۍ، د ملگرو ملتو، اسلامي هېوادونو او ملي ازادي بښونکو غورځنگو وغانده او زمونږ د هېواد دخلکو له غوځ ملي، جنگي، رواني او عقیده یي پاڅون سره مخامخ شو.

ملگرو ملتونو د (۱۹۸۰-۱۹۸۷) کلونو په موده کې په خپلو عمومي کلنیو غونډو کې د افغانستان په باره کې ((**۳۷/۳۵**، **۴۳،۷۳/۲۴، ۳۸/۲۹، ۳۹/۱۳** په لسگونو پرېکړه لیکونه صادر کړل چې په دې ټولو کې د رایو په اکثریت سره د شوروي د یرغل غندنه او له افغانستان څخه له قید او شرط پرته د هغو د پوځیانو د وتلو غوښتنه شوې وه. د ملگرو ملتو د بشر د حقوقو کمیسیون، د اروپا گډ بازار، د اسلامي هېوادونو کنفرانس، امریکا او د لویدیزې اروپا ټولو هېوادونو د شوروي تېرى وغانده او ((د ملتونو دایمي محکمې چې د نړۍ لوی علمي او سیاسي شخصیتونه د هغې غړي دي او په ازاد ډول کار کوي، د ۱۹۸۰ کال د مې پر لومړۍ نېټه د سویډن په

Downloaded from: ketabton.com

مرکز (ستوکهولم) کې پر افغانستان باندې د سره پوځ قضیه وڅېړله او په نتیجه کې د دې محکمې له خوا د شوروي یرغل محکوم شو)).

## د یرغل عوامل:

شوروي اتحاد چې تر دویم نړیوال جنګ وروسته په نړۍ کې د یو ستر سیاسي، فکري، پوځي، جغرافیایي او څه نا څه د اقتصادي ځواک په توګه سر راپورته کړی و، ځان یې لوی فاتح، د کمونیزم لوی مرکز او د سولې مدافع(!) باله، نو په پاتې نړۍ کې یې د کمونیستي فکر د خپراوي، د سیاسي او اقتصادي ګټو لاسته راوړلو او پر امریکا باندې د پوځي لاسبري لپاره ځان براباروه. نو افغانستان پر دې وخت په سیمه کې د جغرافیایي موقعیت له مخې سترو ځواکونو ته خاص اهمیت درلود او سترو قدرتونو ورته په ډېرې ځیرتیا کتل.

د شوروي د زورواکي (لیونید برژنیف) د یوې وینا له مخې: ((موږ افغانستان ته ځکه لښکرې واستولې، چې زموږ جنوبي پولې په خطر کې وې)). خو د شوروي دربار او کمونست ګوند ارمانونو ته وفادار او د ببرک کارمل ډېر نږدې ملګری (اولیانو فسکی) وایي: ((موږ پر افغانستان باندې ځکه لښکر کشي وکړه چې هلته د اکثریت ځواک ختم کړو او دولتي قدرت اقلیتونو ته انتقال کړو)).

Downloaded from: ketabton.com

ځيني نور وايي په افغانستان کې د شوروي هدف دا و، چې د افغانستان د کانونو، ځنګلونو، د اقتصاد د ودې ځرنګوالی او د ټولو طبيعي منابعو انحصار په خپل لاس کې ولري، خو ځيني نور بيا د شوروي لويو او ستراتيژيکو هدفونو ته ګوري او وايي شوروي غوښتل د افغانستان له لارې د هند ګرمو اوبو ته ځان ورسوي او په دې توګه هغه پوځي او عقيده يي کمربند چې (ناتو) ورخخه تاو کړی و، مات کړي. د جګړې عوامل او لاملونه چې هر څه وو، خو جګړه د افغانستان پر خلکو وتپل شوه.

## د جګړې د دوارو غاړو د ځواک ځرنګوالی:

د کفارو او مشرکانو پر وړاندې د اسلام د ستر پيغمبر حضرت محمد (ص) او صحابه کرامو له غزاګانو پرته چې ډېرې نا انډوله جګړې وې او مسلمانانو په کې ډېر وسايل نه درلودل خو روحي قوت يې زيات و، د افغانستان او شوروي جګړه داسې يوه نا انډوله جګړه وه چې د نړۍ تاريخ به يې بېلګه کمه ثبت کړې وي. د جګړې په لومړي پړاو کې ۸۵ زره شوروي عسکرو پر افغانستان تېری وکړ او وروسته د حالاتو د کړکېچن کېدو له امله ۳۰ زره تنه نور هم پرې زيات شول. د دې ترڅنګ د کارمل د رژيم منظم قطعات چې شمېر يې وروسته پنځه سوه زره تنه ته اټکلېده، هم جنګېدل، د هغو شوروي عسکرو شمېر چې په جګړې کې يې برخه واخيسته،

Downloaded from: ketabton.com

یو ملیون تنو ته رسېده، په دې جګړه کې روسانو له خفیفه وسلو، لکه مکروف، کلاشینکوف، کلکوف، ګرونوف، پیکا او داسې نورو نورو وسلو څخه چې د ټولو یادول یې ضرور نه دي، له دې لاندې درندو وسلو څخه هم کار واخیست:

((جټ الوتکې ۳۰۰

هلیکوپټر ۲۰۰

ټانکونه ۱۴۲۰ عرادې

له هغو مدرنو الوتکو څخه چې روسانو د مجاهدینو پر ضد ورڅخه کار واخیست د MI-۱۷,MI-۸, MI-۲۴, MI-۲۴/۲۷ هلیکوتپرو په ګډون او Tu-۱۲, Bedger, Su۲۴, Fancer , Tu-۲۲ Blinderd، بمب غورځونکې الوتکې دي، دغه راز د روسانو د شتوالي پر وروستیو وختونو او د وتو پر مهال د کابل د رژیم قوتونه په لاندې ډول تثبیت شوي وو: (( څلور قول اردو او یو امنیتي زون، ۱۲ پیاده فرقې، د خاص ګارد یوه فرقه، د خاص ګارد ۳ غونډونه، د کمانډو ۵ غونډونه، توپچي یو غونډ، ۲۲۰ درانده ټانکونه، ۲۰۰ سپک ټانکونه، ۲۵۰ جګړه ییز ماشینونه، ۸۵۰ نفر وړونکي زغروالې واسطې، ۱۰۰۰ توپونه چې ۱۵۲mm او ۲۲۰ mm درانده توپونه هم پکې شامل وو، ۱۰۰۰ هاوانونه چې په هغه جمله کې m۴۳ هم شامل وو، د سکاډ توغوندي د توغولو دوه دستګاوې، ۱۰۷ جټ الوتکې، ۱۰۲ هیلیکوپټرې، ۷۲ انتونوف

Downloaded from: ketabton.com

(ترانسپورتي) الوتکې، د ۱۱۰-۲-SA او ۱۱۰-۳-SA لرونکي د سام ۲ غونډونه، د دافع هوا يو غونډ او د رادارو يو غونډ.))
په تبليغاتي جنګ کې د هېواد په داخل کې د رژيم په لسګونو جريدې، مجلې، ورځپاڼې، راډيو او تلويزيون او په بهر کې د شوروي اتحاد خپرونو، راديو او تلويزيون او د نورو سوسياليستي هېوادونو خپرونو په بېلابېلو ژبو، په څليريشت ساعتونو کې په لسګونو ساعتونه په خپله ګټه تبليغات کول. په رواني لحاظ شوروي خپلو عسکرو ته د کمونيزم د پلي کېدو او انټرناسيوناليزم روحيه ورکوله او د کابل رژيم د انقلاب دفاع او وطن پالنې روحيه چې دواړه يې د ورځې په تېرېدلو سره کمزورې کېدلې.

## د مجاهدينو پوځي څرنګوالی:

کله چې شوروي پوځ له مدرنو او وژونکو وسلو سره پر افغانستان باندې يرغل وکړ، نو افغان ولس يې په تش لاس مقابلې ته ورودانګل او په يوه نا انډوله جنګ کې له روسي پوځ او د هغو له کېنول شوي رژيم سره ښکېل شول. د مجاهدينو وسلې پر دې وخت بېل، کلنګ، تبر، مش کش ټوپک، ښکاري چريز ټوپک، سرپي ټوپک، لاسي پټرولي بمونه، خال خال پنځه ډزي او لس ډزي ټوپک وو، وروسته يې په جګړه کې له دولتي عسکرو څخه ځينې وسلې او له بهرنيو سرچينو څخه د ټانک ضد ماينونه او توغندي لاسته راوړل او

Downloaded from: ketabton.com

همدارنګه د جګړې په وروستيو وختونو کې د درندو وسلو، د بلوپايپ او ستېنګر هوايي ضد توغنديو درلودونکي شول، چې د جګړې د برخليک په ټاکلو کې يې د مجاهدينو په ګټه اغېزمنتوب ورځ پر ورځ زياتېده. له تبليغاتي پلوه مجاهدين له عصري امکاناتو څخه بې برخې وو، خو څرنګه چې د افغانستان اکثريت ټولنه نالوستې وه، نو د شفاهي او مخامخ تبليغ تاثيرات پرې زيات پرېوتل، نو روحاني قشر، ملايانو او سيمه ييزو مشرانو د مجاهدينو په ګټه عمومي روحيه وروزله او له اسلام نه يې د يوه رواني سپر په توګه د يرغلګرو پر ضد ګټه واخيسته، ټول مجاهدين يې له اسلام او خپلواکۍ سره د مينې په روحيه وروزل، د مجاهدينو د يوه مشر د وينا له مخې چې پر ۱۳۶۱ل کال يې يوې غونډې ته کړې وه، ويلي وو چې: ((موږ هرو مرو بريالي کېږو، ځکه چې موږ ستر رواني ځواک او تکيه ځای لرو او هغه اسلام دی)) نو د فزيکي جنګ په اندول په رواني جګړه کې د مجاهدينو روحيه ډېره پياوړې وه.

په تبليغاتي او سره جګړ کې مجاهدينو وروسته عصري تبليغاتي وسايل پيدا کړل، له اخبارو نه نيولې تر راډيو پورې د وسايلو خاوندان شول، او همدا راز نړيوالو خپرونو او راډيوګانو هم د دوی په تبليغاتي جنګ کې د دوی په ګټه ونډه واخيسته.

Downloaded from: ketabton.com

## د جګړې تلفات او زیانونه:

په دې جګړه کې د ځینو سرچینو له قوله د شوروي د مړو عسکرو شمېر ((۱۳۳۱۰-۱۵۰۰۰) د ټپیانو (۳۵۴۷۸-۳۷۰۰۰) تنه او د ورکو (۳۱۱)) تنه ښوول شوی دی. خو ځینې نور دا تلفات ډېر زیات ښیي، مثلاً د استونیا (نوته هال) نومې ورځپاڼه د روسي پوځیانو د تلفاتو په باب لیکي: ((د افغانستان په جنګ کې ۵۰۰۰۰ تنه پوځیان وژل شوي او ۱۵۰۰۰۰ تنه ټپیان شوي دي)). ((یو روسي جنرال د خپل یو لیک په ترځ کې د شوروي سوسیالستي جمهوریتونو اتحاد ته لیکلي: ((تر هغه ځایه چې د ځاني تلفاتو په باب ماته راپور رارسېدلی دی، عرض کوم چې ۲۷۹۸۱ تنه مړه، ۷۲۵۲۰ تنه ټپیان او ۱۸۱۸ تنه اسیر شوي دي.)) د ماسکو د ختیځپوهنې انستیتیوت ((په دې جګړه کې د کابل د رژیم د مړو عسکرو شمېر ۲۸۵۵۲ تنه، د ټپیانو ۱۱۲۵۸۹ تنه او د اسیرانو ۱۷۲۴۵ تنه ښوولی دی)). (البته د روسانو تر وتو پورې).

په دې جګړه کې د یرغلګرو((۷۰۰-۷۵۰) جټ او هیلیکوتپر الوتکې، (۵۰۴-۲۰۰) عرادې ټانکونه، (۷۴۰-۵۸۰) نفر وړونکې زغروالې واسطې، (۸۲۰-۹۵۰) ډول ډول توپونه او (۵۴۰۰-۲۰۰۰) عرادې لارۍ له منځه تللې دي.)) همدارنګه په دې جګړه کې شورویانو (۹۵) بلیونه ډالره زیان زغملی دی، چې د افغانستان له اوسنۍ بودجې سره د پرتلې کولو له مخې د افغانستان تر ۱۰۰۰ کلونو څخه د زیاتې مودې بودجه جوړوي. دغه راز د جګړې د دوارو غاړو د یوې ورځې لګښت ۵۰ ملیونه

Downloaded from: ketabton.com

ډالره اټکل شوی دی. پر دې تلفاتو سربېره شوروي اتحاد، له سترو رواني او روحي ناروغيو سره مخامخ شو. په کلني اقتصادي بودجه کې يې په سلو کې ۱۲ کمښت راغی، نړيوال حيثيت يې راټيټ او تجزيه کېدو ته يې لاره اواره شوه. شوروي وګړو ته سترې رواني ناروغۍ پيدا شوې، هغه يو مليون شوروي عسکر چې د افغانستان په جګړو کې يې ګډون کړی و، ډېر زيات يې پر مخدره موادو، الکولو، چرسو او نورو رواني ناروغيو اخته وو، دوی خپلو کورونو ته تر ستنېدو وروسته خپلې يو مليون کورنۍ او کورنيو سره د ارتباط له مخې خپل خپلوان او بيا ټوله شوروي ټولنه پر رواني ناروغۍ اخته کړل؛ دوی ته د افغانستان خاوره، لکه دوزخ داسې ګرځېدلې وه او پر افغانستان باندې د يرغل په لومړيو شپو او ورځو کې يې چې د انټرناسيوناليزم په روحيه او د خوشالۍ په جذبه په عسکري بارکونو کې د افغان وژنې سندرې ويلې، وروسته په ډېره مايوسۍ او خپګان د خپلو ماتو ساندې ووهلې. لکه ((اليچ پشماکوف يو روسي جنرال چې د مجاهدينو له خوا د کره باغ په سيمه کې وژل شوی، د يادښت په کتابچه کې يې لاندې ځلوريزه په روسي ژبه ليکل شوې، چې ترجمه يې داده:

((خدای(ج) ناز او مهرباني پيدا کړې ده
شيطان ماشيندار او پوځي خولۍ پيدا کړې ده
خدای(ج) جنت پيدا کړی
شيطان د افغانستان خاوره پيدا کړې.))

دغه راز يو روسي عسکر ته يې خپله معشوقه ليکي:

Downloaded from: ketabton.com

((خوږه او ګرانه شاسا سلام !

ته هر وخت زما په زړه راورېږې، دایا د ګروزین قطب په خوا تللې ده، د ګروزین څوکې په واورو ډکې دي، یخني ساعت په ساعت زیاتېږي، زه هر وخت په کار مصروفه یم، نه شم ویلای ته به کله راځې، مور مې ځان مصروفه ساتي، له تلویزیون وروسته خپل زیاتره وخت د راډیو په اورېدلو تېروي. څو ورځې د مخه چې سخت بارانونه وو، له افغانستان د ((ویکتور)) غریب لاش راورسېد، کم بخت ویکتور، له دایا سره د هغه د واده لا یوه میاشت هم نه وه تېره شوې، اوف بدنصیبه دایا ! څومره د بدمرغۍ تیارو ګیره کړه.

ګرانه ! ته به کله راځې؟)). دغه راز د دې جګړې زیات معیوبین چې کله خپلو کورونو ته ستانه شول، نه یوازې خپله پر رواني ناروغۍ اخته او له ژوند مایوسه وو، بلکې خپلې کورنۍ یې هم پر ناروغیو اخته کړې.

((مثلاً د منسک په سیمه کې **۷۵** تنه معیوب، په سپینه روسیه کې **۴۳۲** تنه، په (پارلوګراد) کې **۴۰۰** تنه، په سنت سترز بورګ کې **۱۵۳** تنه په (تولا) کې **۱۰۳** او په ګورکي ښار کې **۹** تنه معیوبین ژوند کوي)). ((له همدې کبله په شوروي کې د هغه وخت د حکومت پر ضد پټ او ښکاره عکس العملونه رابرسېره شول، لکه د روسي لیکوال (الکساندر پروخانوف) د (اوکراین مولد) ورځپاڼه، میخایل وستوفسکي، پروفیسور یاچوشي د ایشیوف او د اندري

Downloaded from: ketabton.com

سـخاووف ځرګنـدونې او د خلکـو پـتې او ښـکاره عکـس العملونه...))

## افغانستان ته د جګړې زيانونه:

سره لـه دې چې دې جګړه کې افغانـانو يـوه ستره او معجزه ډوله اتلولي وکړه، چې په نتيجه کې د ختيـزې اروپـا هېوادونـه او ځينې نور نيمه مستعمره هېوادونـه ازاد شـول، امريکـا او د لويديزې اروپا هېوادونه د شوروي او کمونيزم د يرغل له خطر نه خلاص او د سترو رواني ناروغيو له فشار نـه بې غمـه شـول، خـو د جګـړې درونـد پېټـی او نـاخوالې افغانـانو وزغمـل او زغمـې يـې. د دې جګـړې پـه تـرڅ کـې پـه زرګونـو کيلـومتره سړکونه وران، په سلګونو پلونه او پلګوتې خراب او يـوازې د ډاکټر نجيب الله تر وخت پورې ۳۰۰۰ ښـوونځي وران شـول، پـه زرګونو هکتاره د کښت ځمکه ويجاړه او له کښـته پـاتې شـوه، دوه مليونه کورونه وران شول، د ډېرشو مليونو په شاوخوا کې ماينونه پـه ځمکـه کې ښخ پـاتې شـول، ۷ مليونـه افغانـان (دوه مليونه په داخل او پنځه مليونه په بهر کې) مهاجر شول، يونيم مليون تنه شهيدان شول، د تليفون او برېښنا په زرګونـو سـتنې له منځه لاړې او د برېښنا ستيشنونو ته سخت زيـان ورسـېد او دې بدمرغيو مجاهدينو ته د قدرت تر انتقال وروسته هم ادامه پيـدا کـړه، د هېـواد ډېـر زيـات ښـارونه وران شـول، يـوازې پـه کابل ښـار کـې دوه زره لـويې او وړې فـابريکې د اور تـر سـتونې

Downloaded from: ketabton.com

تېرې شوې، د ښار په سلو کې اویا برخې پر کنډوالو بدلې شوې، ملي او تاریخي افتخارات مو لوټ او یا د اور په لمبو کې وسوځول شول، لنډه دا چې د سوونو او زرګونو کلونو مادي او معنوي شتمنۍ مو له خاورو سره برابرې شولې.

Downloaded from: ketabton.com

# فرهنګي فقر

دا لیکنه د ارمان جریدې په ۵ ګڼه کې چې د ۱۳۷۳ ل کال د سلواغې له ۳ سره سمون لري، خپره شوې ده.

په ټولیز ډول فرهنګ د یوې ټولنې له ټولې جوړې شوې مادي او معنوي شتمنۍ څخه عبارت دی او په ځانګړي ډول د ټولنې ذهني او دودیزې پانګې ته فرهنګ ویل کېږي.
له فرهنګي پلوه افغانستان په نړیوال فرهنګ کې ځانګړی مقام درلود او د تاریخ په اوږدو کې زموږ لرغوني هېواد ته د فرهنګ او فرهنګپالنې زانګو ویل شوې ده. هر کله چې افغانانو تر یوې څه ارامې ساه کښلو وروسته د خپل ذهني او مادي اعمار لپاره ځانونه چمتو کړي او یوه معنوي پانګه او شتمني یې راټوله کړې، بیا نو یو طاعون، یو توپان او یوه تباه کوونکې سیلۍ پرې راخوره شوې او د هغوی هرڅه یې له خاورو سره برابر کړي دي، د مقدوني سکندر تر تاړاک دمخه او هم وروسته دې قام په پرله پسې ډول پنځه لسیزې هم د سولې او ارامۍ پر پالنګ خوب نه دی کړی، کله چنګیزیانو، کله مغولو، کله فارسیانو، کله انګرېزانو، کله روسانو او کله هم... نورو په دې خاوره کې د خپلو زور ازمویلو آسونه زغلولي دي. کورنیو جګړو او داخلي اختلافونو هم وخت پر وخت د

Downloaded from: ketabton.com

هېـواد فرهنـګ تـه درانـه زيانونـه اړولـي دي. لـه انګرېـزي ښکېلاک نه د خپلواکۍ تر ګټلو وروسته سمدلاسه په هېواد کې د ذهني ښېرازۍ او مادي هوساينې لپاره ګړندي ګامونه پورته شول، ايله يوه لسيزه لا نه وه پوره شوې، چې د ناپوهۍ يو بل طاعون پر هېواد خور شو. خو د هېواد ويښو او خبيرو اشخاصو ډېر ژر د دې طاعون علاج وکړ او بيا د هېواد د فرهنګي پرمختيا، مادي رغونې او سوکالۍ لپاره هڅې پيل شوې او همدا (۱۳۰۹-۱۳۵۷ل کلونه) له يو څه خفيف اړودوړو پرته، د معاصر افغانستان د فرهنګي او ارام ژوند کلونه دي.

په ياد شوي زماني واټن کې د مادي پرمختيا ترڅنګ، په هېواد کې په سلګونو ښوونځي، په لسګونو پوهنځي، څو پوهنتونونه، په لسګونو نندارتونونه، موزيمونه، د تاريخي اثارو ارشيفونه او د فرهنګ ډېر نور روزنځايونه جوړ شول. په سلګونو عنوانه علمي، تاريخي او ادبي اثار چاپ شول او په زرګونو علمي او ادبي غونډې جوړې شوې. زموږ دښمنان هم په دې زماني واټن کې لاس تر زنې پاتې نه شول، زموږ په هېواد کې يې لومړی د ذهني پاشنې لپاره سياسي ډلې وروزلې او د ملاتړ لپاره يې بې حسابه لګښتونه وکړل او دا په دې هيله چې په افغانستان کې د اوږدې جګړې لپاره، ذهني شرايط برابر کړي. بالاخره دا جګړه پيل شوه او د روسانو په عملي دخالت خپل اوج ته ورسېده. د افغانستان ګاونډيو، لرې او نږدې هېوادونو هر يوه په دې جګړه کې ځانګړي

Downloaded from: ketabton.com

هدفونه لرل. خو ځينو د نورو موخو ترڅنګ دا درې مهم هدفونه تعقيبول: د افغانستان د پوځ له منځه وړل، د اقتصاد ختمول او د فرهنګ محوه کول. کېدی شي چې ځينې نورو هېوادونو هم دا غوښتل، خو د يو څو هېوادو علاقه ورته د مينې او يوازينۍ. هيلې تر پولې رسېدلې وه او په پای کې همدا سې وشول. په ۱۲ کلنه جګړه کې پر مالي زيانونو سربېره تر ۳۵۰۰ څخه زيات ښوونځي وسيزل شول، پوهنتونونه ړنګ شول، کتابتونونه، موزيمونه چور شول، ارشيفونه غلا شول، نندارتونونو ته اور واچول شو او څه پاتې تاريخي اثار په ناڅيزه بيه د دوی لاس ته ورغلل، د دغو اثارو له تباهۍ څخه د دوی مقصد دا دی چې زموږ تاريخي غرور مات کړي او له ماضي سره زموږ د ولس ذهني رابطه وشلوي. د فرهنګ پرځای د ولس په ذهن کې د جنګ مفکوره خوره او ولس له فرهنګي فقر سره مخامخ کړي. د جنګ له لارې افرادو ته تغذيې لاره اواره کړي او د فرهنګ مادي ملاتړ ختم کړي. اوس په افغاني ټولنه کې د فرهنګ له لارې د ورځيني ژوند د چارو خړوبول ډېر ګران شوي دي. په همدې وجه فرهنګي ارزښتونه او فرهنګي هڅې د ورځيني ژوند د نورو ستونزو تر سيورې لاندې راغلي دي. نو که غواړو خپله ټولنه له دغه رنځېدونکي او کړېدونکي حالته راوباسو نو څه بايد وکړو؟ له فرهنګه يې پيل کړو؟ که له سياسته؟ او که له اقتصاده؟ سره له دې چې دا درې توکه يو له بل سره نږدې اړيکي لري، خو زيات اشخاص شايد پر دې خبره

Downloaded from: ketabton.com

متفق وي چې د يوې ټولنې د هوساينې بنسټيز عامل فرهنګ دی. د بې فرهنګه او وچ سياست پايلې (نتيجې) موږ په خپل هېواد کې په خپلو سترګو وليدلې، له اقتصادي پلوه هم زموږ هېواد د زياتو طبيعي شتمنيو خاوند دی، خو رابرسېره کول يې علمي کادرونه او زيات وسايط غواړي. د پيداګوژۍ پوهان عقيده لري چې اقتصاد او فرهنګ يو د بل لازم او ملزوم دي بايد دواړو ته ژوره پاملرنه وشي. عيني تجربو ښودلې ده، هغه ټولنې چې له فرهنګي پلوه بډايې دي، په اقتصادي لحاظ هم ډېرې شاته نه پاتې کېږي. المان او جاپان د دويمې نړيوالې جګړې درانه زيانونه وزغمل، خو څرنګه چې ټولنې يې له فرهنګي پلوه رسېدلې وې، خپل هېوادونه يې بېرته ودان کړل. نو فرهنګ بايد پياوړی، شفاف او روښانه شي، چې د ژوند لارې او کوڅې پرې په روښانه ډول ووينو.

Downloaded from: ketabton.com

# د عقايدو بحران

دا ليکنه له پېښوره خپربدونکې ارمان جريدې د ۱۳۷۳ ل کال د سلواغې پر ۳مه نېټه په خپله (۵) گڼه کې خپره کړې ده.

څو کاله دمخه يوه افغاني پوهاند ويلي وو: ((په افغانستان کې د عقيدې بحران او د معنويت سقوط منځته راغلی دی)).
پر يو بل نه باور او اوږدې فزيکي جگړې د ژوند جوړوونکو خواوو توازن گډوډ کړ او داسې حالت رامنځته شو چې ليدل يې سترگې برېښوي او اورېدل يې عواطف او زړونه راپاروي.
په افغانستان کې د متضادو عقيده يي سيستمونو د نادرست استعمال په پايله کې عقده يي ټکر منځته راغی، ددغه عقيده يي تصادم په نتيجه کې ولس پر ډلو او ډلگيو ووېشل شو او ذهني پاشنه منځته راغله، کله چې هر يوه د خپلو عقايدو د برلاسي لپاره فزيکي جگړه پيل کړه، نو خپله گروهه ورته داسې تفهيم شوه، چې د مخالف لوري د محوه کولو لپاره بايد له هر امکان څخه کار واخيستل شي.
د لرغوني يونان يو ليکوال وايي: ((جگړه چې په هر نوم او د هر مقصد لپاره وي، په بشريت کې د وحشت، ذلت، فقر او بدمرغۍ طاعون زېږوي.)) د افغانستان جگړې هم دا بد گڼې

Downloaded from: ketabton.com

لرلي، جګړې په وګړو کې عاطفه او زړه خوږی ختم کړل او ځینې ډلې لا په رواني لحاظ د بېته هم ورسېدې، چې د مقابل لوري له وژنې او نابودۍ څخه د خپلو روحي نا ارامیو د تسکین لپاره کار واخلي.

عقایدو او له عقایدو سره په ناپوهېدلي ډول افراطي چلند د دوی په ذهن کې د اوږدې جګړې او وینې شیندلو ځواک پیاوړی کړ او د بېته وزګار نه شول، چې د عقیدې په رښتیني مفهوم د خپل زړه پردې د عاطفې په اوبو ووینځي او د مینې غېږه پرانیزي.

د مرحوم استاد الفت په نظر؛ عقیده د انسان په ژوند کې تر ټولو مهم اصل او ارزښت دی، چې بې له هغې ژوند ناممکن بریښي. خو راځو د بېته چې هر فکر، هر اند، هر ذهني تاثر او هره اخیستنه عقیده کېدی شي؟ او سیاست هم د عقیدې تر سرحده اوچتېدی شي او که نه؟

یو سیاستپوه په افغانستان کې د جګړې مهم لامل دا ګڼلی چې تقریباً ټولو سیاسي ډلو سیاست د عقیدې تر پولې اوچت کړی دی. څرنګه چې عقیده د انسان په ذهن کې یو سپېڅلی او مقدس شیز دی، نو انسان د هغې پر وړاندې هر ډول راولاړ شوی عمل نه شي زغملای. په داسې حال کې چې په ځینو نورو ټولنو کې د سیاست او عقیدې ترمنځ ذهني پولې موجودې دي. سیاست د ټولنې د ورځیني ژوند د تخنیکي او اقتصادي چارو د سمون لپاره کارول کېږي او عقیده د انسان د روحي

Downloaded from: ketabton.com

سپېڅلتیا ، اخلاقي روغمنتیا ، رواني ارامۍ او اخروي نړۍ د لاسته راوړلو لاره ده. ځینې شاید ووایي چې سیاست د عقیدې د پلي کولو اغېزمنه وسیله او د هغې د عملي تطبیق لپاره ورته اړتیا ده. که سیاست دلته د پورتني مقصد او مفهوم لپاره استعمال شي، نو بیا هم واسطه او وسیله وګڼل شوه، خو وسایل د وخت په تېرېدلو سره بدلون مومي او عقیده د انساني ذهن نه بېلېدونکی توک دی. همدارنګه کوم اعمال چې په سیاست کې ترسره کېږي او په اصطلاح جواز ګڼل کېږي، په عقیده کې هغو ته ځای نه شته.

خو اوس راځو خپلې ټولنې ته: زموږ په ټولنه کې دا دوه ژوند جوړوونکي توکي (عقیده او سیاست) داسې استعمال شوي چې کله هم له عقیدې نه د یوې وسیلې او کله هم له سیاست نه د یوې عقیدې په توګه کار اخیستل شوی او په پایله کې نه یوازې یو سیاسي کړکېچ، بلکې یو عقیده یي بحران هم رامنځته شوی دی. په دې عقیده یي بحران کې هغو اشخاصو خاصه ونډه درلوده، چې د عقایدو د ممثل او مظروف په شکل یې خلکو ته ځان پېژانده، څرنګه چې مظروف او ممثل صیقل شوی، شفاف او روښانه نه وو، نو د عقیدې روښانه او نرمې وړانګې ترې د عام ولس ذهن ته ښې ونه رسېدې او د ولس ذهن یې د عقیدې له اصلي ماهیت نه همداسې په ابهام کې وساته. په همدې وجه د ولس یوه برخه له ذهني کنټروله ووته او د مادي لذایزو د ګټلو لپاره یې مادي وسایطو ته ورمخه کړه

Downloaded from: ketabton.com

او فزیکي ټکرونو ته لاره اواره شوه. ان تر دې چې د یوې عقیدې لارویان هم د خپلو عقیده يي آرونو (اصولو) پر خلاف پر ذهني او فزیکي جګړو اخته شول. اوس نو زموږ ټولنه نه یوازې سیاسي او مادي بیا رغونې ته ضرورت لري، بلکې په لومړي ګام کې ذهني او عقیده يي بیا رغونې ته هم اړتیا لري.

Downloaded from: ketabton.com

# که خبر نه یې نو و اوره !

دا لیکنه هم له پېښوره خپرېدونکې وفا جریدې په خپله ۵-۶ گڼه کې چې د ۱۳۷۳ل کال د سلواغې له ۲۲ سره برابره ده د (نیازي) په مستعار نامه خپره کړې ده. اصلاً ((که خبر نه یې نو و اوره)) د دې جریدې د یوه کالم نوم و، چې همداسې ورځنیو مسایلو ته وقف شوی و، ما هم څو ځله دې کالم ته ورې ورې لیکنې ورلېږلې وې، هغه هم په بدل نامه، دا لیکنه هم د (نیازي) په بدل نامه خپره شوې ده، خو نورې لیکنې زما لاس ته رانغلې، دا یوه یې د بېلگې په توگه دلته وړاندې کوم:

په وروستیو څه کم دریو کلونو کې د کابل - جلال اباد د لویې لارې د پاټکونو، پوستو او وسله والو اشخاصو چلند هر هغه چاته چې پر دې لاره یې یو ځل هم سفر کړی وي، ډېر ښه څرگند بریږي. خو له دې ستونزو او کړاوونو سره سره ځینې نورې خبرې هم شته چې هم دردونکې دي او هم خندوونکې:

✸ د سروبي د نښترو دویم بڼ چې اوس یې له منځه وړی (تگاب ته د ورغلي سړک) د پیلېدو ترڅنگ د څښاک د اوبو د پخواني حوض پر یوه دېوال لیکل شوي: ((سه چیز مسلمان بر مسلمان حرام است، خونش، ابرویش و مالش (روایت مسلم/ محصلین))) د همدې حوض ترڅنگ د مجاهدینو (!) یو پاټک هم واقع دی او له همدغو دریو شیزونو سره یې کار دی.

✸ کله چې تر سروبي پورته د نغلو اوار ځای ته ورسېږې، نو دا شعار به دې هم تر سترگو شي: ((ایمان، تقوی، تنظیم، جهاد

Downloaded from: ketabton.com

في سبيل الله)) د دې شعار ترڅنګ هم يو پاټک پروت دی. دغه راز د سروبي له بازار راکښته په يوې بلې تنظيمي پوځي قرارګاه کې چې د سړک غاړې ته پرته ده ليکل شوي: ((په خپله ساحه کې د خلکو د سر او مال تضمين ورکوي.))

✸ د انسانانو د سرونو او غړو د اره کولو داستان به پرځای پرېږدو اوس به راشو د بمبونو او برېښنا مزو د اره کولو او پرېکولو کيسې ته. بمونه تر انسانانو (غيرتي او غچ اخيستونکي ښکاري) خو زموږ ولس لا تر اوسه پورې له خپلو اره کوونکو او پرې کوونکو څخه انتقام نه دی اخيستی. د بمونو د انتقام کيسه داده: ((د بګرام هوايي ډګر چې اوس د شوراي نظار په لاس کې دی، د افغانستان يو لوی پوځي هوايي ډګر و. په دې هوايي ډګر کې ډېرې وسلې او له هغې جملې ډېر ستر بمونه چې د جنګي الوتکو له خوا غورځول کېږي، هم موجود وو. څرنګه چې په دې بمونو کې تر ۲۰-۳۰ منو پورې باروت وي او نن سبا د يو من باروتو بيه تر ۳۰۰۰۰ افغانيو هم پورته شوې، نو ځينو سوداګرو د ميدان د پيره دارانو په مرسته دا بمونه اره کول او باروت يې ځنې کښل. يوه ورځ د بم د اره کولو پر وخت د زيات حرارت له کبله يو بم انفلاق وکړ، ورپسې نورو بمونو هم انفجار وکړ او له سوداګرو او باروت خرڅوونکو څخه يې خپل انتقام واخيست.)) خو برېښنا مزو لا تر اوسه له خپلو غوڅوونکو څخه انتقام نه دی اخيستی. له جبل السراج نه تر کابل پورې چې د برېښنا کوم مزي غځېدلي وو، هغه خو لا

Downloaded from: ketabton.com

پخوا ټول شوي او بازار ته وراندې شوي وو، خو اوس يې د هغه ځای د بريښنا د پايو (ستنو) پر پرېکولو او غوځولو هم لاس پورې کړی دی. دا ناروغي يوازې هلته پاتې نه شوه، بلکې د کابل- سروبي، کابل- نغلو بريښنا مزو ته هم راورسېده، ځکه چې بريښنا مزي له مسو څخه جوړ شوي او يو من مس په تور بازار کې په ډېره لوړه بيه پلورل کېږي، نو وسله والو او نورو غلو ته تر دې غوره غنيمت کله په لاس ورځي. د کابل- سروبي، کابل- نغلو بريښنا مزي نوي فيصده غوڅ شوي دي. د کباړ او تالان دا ناروغي ان کليو او بانډو ته هم رسېدلې، د کباړ دا لړۍ د هغې سيمې خلکو ته ښه معلومه ده، چې له لغمان ولايت نه الينګار ولسوالۍ ته تګ راتګ لري. د لغمان- الينګار په لويه لاره کې يو زيات شمېر عسکري موټر او درانه ټانکونه، ځينې ويجاړ او ځينې نيمه ويجاړ پاتې وو، خو کباړيانو ان له پاکستان څخه ورپسې مسلکي کسان او وسايل يوړل، هغه يې پرې ټوټې ټوټې کړل او پاکستان ته يې واړول.

له اوسپنو او ټانکو پرته، دې ډول خلکو پر شنو ونو او بوټو هم صرفه ونه کړ، په کابل کې يې د خلکو له باغونو څخه ډېرې د مڼو او نورو مېوو ونې ووهلې، د سون د لرګيو او پوځي مورچلو په جوړولو کې يې ترې کار واخيست، د سروبي د نښترو پورتنی شين بڼ يې هم پر سپېره ډاګ بدل کړ.

Downloaded from: ketabton.com

# جګړه او روحي ستونزې

دا لیکنه له پېښوره خپرېدونکې ارمان جریدې د لومړي کال په ۷ ګڼه کې چې د ۱۳۷۳ل کال د دلوې له۲۹ نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.

په افغانستان کې د پنځلس کلنې فزیکي جګړې له پیل سره سم او ان د هغې تر پیله لا دمخه د رواني، ذهني، عقیده یي او یا د اعصابو د جګړې لپاره د پیلامې ټکي ایښودل شوي وو. د ثلو ښتمو کلونو په لومړۍ نیمایي کې چې زموږ په هېواد کې د لویو ځواکونو له مالي او عقیده یي سرچینو څخه خړوبېدونکو سیاسي ډلګیو ته د پنځېدو لاره اوارېده، د دې ډول جګړې لومړني ځرکونه ولیدل شول. کله چې په هېواد کې ګرمه جګړه پیل شوه، نو هر لوی ځواک د خپلو پلویانو تر شا ودرېد. په توده جګړه کې کورنیو او بهرنیو غاړو هر یوه تر خپله وسه خپل رول ولوباوه. پخواني شوروي اتحاد پر ځاني تلفاتو سربېره **۹۵** ملیارده ډالره، لویدیځو هېوادو او د هغو ملګرو **۷۵** ملیارده ډالره، د دې جګړې د دوام لپاره په تله کې ایښي وو. دا چې د دې لګښت تخریبي ساحه څومره وه، هغه بېل بحث دی، خو د دې ترڅنګ هغوی د ذهني تخریب او رواني جګړې لپاره هم یو لړ لګښتونه کړي، چې زموږ د ولس

Downloaded from: ketabton.com

ترمنځ ذهني واټن، روحي او فکري عقده او بحران رامنځته کړي.

پخواني شوروي اتحاد د پښتو او فارسي ژبو په ګډون د نړۍ په **۵۲** ژبو خپروني کولې او هم يې راډيويي، تلويزيوني او نورې خپرونې په ډېر ځواک سره فعالې وې. د افغانستان لپاره د دوی خپرونې بې له شکه زموږ د ولس پر ذهني وېش لويه اغېزه شيندلې، لويديز هېوادونه او د هغوی متحدين هم په دې لوبه کې تر هغوی وروسته پاتې نه شول او د افغانستان په باب يې په يوه شپه ورځ کې يوازې خپلې راديويي خپرونې (۱۱۰) ساعتونو ته ورسولې. په کابل کې د ۸۰ عنوانو په شاوخوا کې چاپي خپرونو ترڅنګ راډيو او تلويزيون هم په اوونۍ کې په لسګونو خپروني کولې، پاکستان، ايران او د مجاهدينو تنظيمونو هم تر خپلو همسيالو ځان شاته ونه شو زغملای او په مجموعي توګه ټولو داسې يو څه زموږ د ولس ذهن ته وړاندې کړل، چې د هغوی د ذهني وېش، ستړيا او روحي نارامۍ سبب شول. په دې ذهني جګړه کې نه يوازې مطبوعاتو، بلکې د هغو پر بنسټ رامنځته شويو مبلغينو هم خپله ونډه واخيسته. که د جګړې د مهال د ټولو غاړو مطبوعات سره پرتله کړو، نو وبه ګورو چې ټول پر سخت دردونکي او رنځوونکي ذهني جنګ اخته دي. د هرې غاړې له کلام او بيان څخه د کينې او وينو بوی راځي او يو د بل پر نظرياتو او شتوالي د نابودۍ اورونه شيندي او بيا داسې

Downloaded from: ketabton.com

وخت راغـی چې د وخت واکمنو لـه دې روانـي جګـړې څخه د ستړيا احساس وکړ. کله چې د پخواني شوروي اتحاد مشر میخایل ګرباچف پر شوروي باندې د مسلط عقیده یي سیستم پر نه بري معتقد شو، نو په لویدیځ کې یې د ژورنالستانو په یوه مطبوعاتي کنفرانس کې وویل، چې ژورنالیزم تراوسه خپل مسوولیت ترسره کړی نه دی. د نوموړي مقصد دا و چې د نړۍ خپرونې د سیاستوالو تر کنټرول لاندې دي، خو دا د ژورنالستانو مسوولیت او دنده ده، چې نړیوالو ته د دوستۍ، مینې او عاطفې پیغام ورسوي. خو د افغانستان په باب خپرېدونکو خپرونو له ځینو ښېګڼو پرته د سیاستوالو له هیلو سره سم ذهني جګړه جاري ساتله.

په پایله کې داسې وشول، چې د فزیکي جګړې ناخوالو، سیاسي دښمنیو، د عقایدو په نوم له عقیده یي آرونو تېری، اقتصادي ستونزو او د رواني جګړې وسایلو په ګډه داسې یو حالت رامنځته کړ، چې زموږ ولس له سختو رواني ستونزو او ذهني بحران سره مخ شي. اوس نو تقریباً هره ورځ له هرو دریو افغانانو څخه دوه تنه ضرور پر بې نتیجې سیاسي بحثونو خپل وخت تېروي، نو لږ تر لږه که له ۱۵ ملیونه افغانانو څخه لس ملیونه افغانان د ورځې یو ساعت پر سیاسي خبرو تېر کړي، نو په یوه ورځ کې به مو ۱۰ ملیونه ساعته وخت ضایع کړی وي او که دا په یو کال کې ضرب کړو (۱۰×۳۶۵) نو (۳۶۵۰) ملیونه ساعته وخت به شي او که دا بیا په ۱۵ کالو کې

Downloaded from: ketabton.com

ضرب کړو (۱۵×۳۶۵) نو (۵۴۷۵۰) ملیونه ساعته وخت به مو یوازې پر بې نتیجې سیاسي بحثونو ضایع کړی وي او دا دومره خت دی چې د نړۍ هېڅ ملت به هم پر داسې بې نتیجې مسایلو نه وي لګولای.

له دې بې نتیجې تونده سیاسي بحثونو څخه چې زیات پر احساساتو ولاړ دي، داسې هم پېښ شوي، چې د یوه کور غړي سره پر بېلابېلو لارو روان کړي او یو د بل پر وړاندې د حقارت او بد ګڼلو عقده په زړه کې وروزي. دې عقدې روښنفکري ذهن کې هم ځای نیولای، د هېواد یو شمېر روښنفکرانو او لیکوالو یوازې د یو بل پر غندلو د خپل فکر او لیکوالۍ ځواک او به کړ.

له خپرنیو هڅو او ساړه جنګ پرته، تودې جګړې هم د هېواد وګړو ته درانه رواني زیانونه اړولي وو. د پخواني دولت له یوه افسر څخه پوښتل شوي و، چې د خپل روحي ژوند په باب وغږېږي، هغه ویلي وو، چې زه د خپلې دندې پر وخت له سختې رواني ستړیا او وېرې سره مخامخ وم، کله چې به مې د شپې سترګه پټه کړه، نو پر جګړه به بوخت وم، زموږ او د مجاهدینو ترمنځ به سخت جنګ روان و، په همدې وېره کې به له خوبه راپاڅېدم، ټول وجود به مې خوله شوی و. همدا پوښتنه له یوه مجاهد څخه هم شوې، هغه هم په خپل خوب کې د رواني پېښې خبرې کوي او وایي: ((د جګړې په شپو او ورځو کې کله چې زه ویده شوی یم، نو شاوخوا مې ټانکونه او

Downloaded from: ketabton.com

عسکر تاو وي او په همدې شېبه کې له خوبه راپاڅېدلی یم)).
دا خو د جګړې دواړه عملي خواوې وې. خو پر عام ولس بیا دا دواړه وېروونکې خپسې ناستې وې او هېڅکله به هم په دې څو کلونو کې په ارام روح او روان خوب نه وي کړی. د پخواني دولت تر کنټرول لاندې ځوانه پرګنه د پوځ په ټولګیو کې له جبري تنظیم څخه تر سخت رواني فشار لاندې وه. روښنفکران د خپل راتلونکي ژوند پر لړ لید ډاډمن نه وو او عوامو کې د جګړې تر څنګ د زیاتېدونکي اقتصادي فقر له کبله رواني ستونزې نورې هم په زیاتېدو وې. دې ستونزو هغه وخت لا ځواکمنتیا وموندله چې په کابل کې سیاسي نظام بدل شو، خو حالات د خلکو د هیلو خلاف لا پسې ویجاړ شول. لنډه دا چې د ولس زیاته برخه په ډول ډول رواني ستونزو واوښته. د کابل پوهنتون له یوه استاد څخه مې د دغه درد شریکولو په ترڅ کې واورېدل چې د افغانستان زیات وګړي، تقریباً (۹۵) فیصده پر یوې نه یوې ډول روحي ناروغۍ اخته دي، هغه وویل: ((تا ته چې کوم روغ ښکاري هغه هم ناروغ دی؟ ځکه چې دا دردونکې او غملړلې پېښې پرې ولې تاثیر نه کوي؟))

Downloaded from: ketabton.com

# فرهنګي ټولنې او فرهنګي مسئوليتونه

دا ليکنه له پېښبوره خپرېدونکې ارمان جريدې د ۱۳۷۴ ل کال د وري پر ۱۳مه نېټه په خپله (۱۱) ګڼه کې خپره کړې ده.

د افغاني ټولنې جوړښت او برخليک همداسې راغلی، چې ټول تاريخ يې له جګړو، لوړو، ژورو، سياسي کړکېچونو او ناندريو څخه ډک دی. د وخت د تاريخي وېش په اندول ډېره لږه موده ليدلای شو، چې افغانانو پکې ارامه ساه ايستلې وي. خو زمونږ ولس د خپلې فرهنګي سليقې، مينې، استعداد، ذوق او شوق په زور، وخت پر وخت د فرهنګ او ادب ښکلې ماڼۍ تياري کړي او سينګار کړي دي. دا چې ولې دا ماڼۍ بيا ژر له خاورو سره برابرې شوي او د ايرو پر ځلو بدلې شوي؟ دا نو د هېواد د سياسي پېښليک په هنداره کې مطالعه کېدی شي.

په افغانستان کې سياسي واکمنو (له استثناتو پرته) هغه وخت فرهنګپالنې او فرهنګ بډاينې ته غبرګه پرانيستې، چې د دوی له سياسي او ځاني ګټو سره يې سمون لرلای دی. دا خبره په ځانګړي ډول د پښتو ژبې او پښتني فرهنګ په باب د صدق وړ ده. هم په افغانستان او هم په کوزه پښتونخوا کې وخت پر

Downloaded from: ketabton.com

وخت پښتو ژبه او پښتني فرهنګ د سیاسي معاملو په تله کې اېښودل شوي دي. خو له دې سره سره بیا هم په سیاسي واکمنو او نا واکمنو کړیو کې دلته او هلته ځینې ځانګړې شخصیتونه وو، چې له خپلې ژبې او فرهنګ سره یې بې کچې مینه درلوده او د قربانۍ تر پولې یې خپلې هڅې نه دي سپمولې. د همدې مقصد لپاره هم د دولت په چوکاټ او هم په خپلواکه توګه ځینې فرهنګي ټولنې جوړې شوي، چې تر خپله وسه یې خپل فرهنګي مسوولیت ترسره کړی دی.

یو وخت داسې هم راغی چې روښنفکرو فرهنګپالو او فرهنګ مینه والو خپله په خپلواکه توګه دې ډګر ته راودانګل او نور یې نو د بېته ونه کتل چې سیاسي واکوالو او نورو ته دې د فرهنګ د خدمت په هیله کښېني. په همدې هیله د **۱۳۶۹**ل کال د عقرب پر **۲۵** نېټه په کابل کې د افغاني روښنفکرانو یو لوی فرهنګي مرکز ((خوشال فرهنګي ټولنه)) جوړ شو. ورپسې د ((علامه سید جمال الدین افغان فرهنګي ټولنه)) هم پرانیستل شوه. د خوشال فرهنګي ټولنې له هغې نېټې نه تراوسه پورې په لسګونو علمي غونډې، سیمینارونه او مشاعرې جوړې کړي او د خپل خپرني ارګان ((شمشاد)) مجلې په ګډون یې **۱۴** عنوانه علمي او ادبي اثار خپاره کړي دي. د علامه سید جمال الدین افغان فرهنګي ټولنې هم تراوسه پورې (**۹**) عنوانه بېلابېل علمي او ادبي اثار چاپ کړي دي.

Downloaded from: ketabton.com

کله چې په افغانستان کې د یوه ((ناتار)) له پاسه ((بل ناتار)) منځته راغی او د هېواد پاتې فرهنګي شتمنیو ته پکې درانه زیانونه واوښتل، د هېواد د فرهنګیانو مسوولیت نور هم درونډ شو. په پېښور کې مېشتو افغاني فرهنګیانو وپتېیله چې د مهاجرت په ژوند کې هم د خپل فرهنګ لپاره خپلو هڅو ته انسجام او اوډون ورکړي. ((افغان ادبي بهیر)) یې جوړ او دا دی له څو میاشتو راهیسې خپلو اونیزو ادبي غونډو او نورو هڅو ته په اوډلي ډول دوام ورکوي. د ((افغان ادبي بهیر)) اوسنۍ هڅې د لیکوالو ترمنځ د کره کتنې د زغم پیدا کولو، د ادبي لیکنو د بېلابېلو ډولونو د څرنګوالي او د استعدادونو د غوړولو په برخه کې ډېرې اغېزمنې دي.

د ۱۳۷۳ل کال د کب پر ۲۸مه نېټه د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ او زرغونتیا لپاره یو بل ګام هم پورته شو. پر همدې نېټه په جلال اباد په ښار کې ((ننګرهار فرهنګي ټولنه)) جوړه شوه. د دې فرهنګي ټولنې په پرانیستونکې غونډه کې د هېواد ځینو لیکوالو، شاعرانو، د ننګرهار جهادي شورا ځینو غړو، د ننګرهار ولایت ځینو مخورو، فرهنګیانو او فرهنګپالو برخه اخیستې وه، د غونډې برخه والو د هېواد نومیالي لیکوال استاد محمد اصف صمیم د نوموړې فرهنګي ټولنې د مشر په توګه وټاکه. د دې ټولنې لومړۍ مېوه د ځوان او هڅاند لیکوال حفیظ الله تراب د لنډو کیسو مجموعه ده چې (ورکه) نومېږي او د نوموړې ټولنې له خوا تازه خپره شوې ده.

Downloaded from: ketabton.com

د خوښۍ خبره خو دا ده چې د فرهنګي ټولنو له تعدد څخه د هېوادنيو ملي او فرهنګي چارو په باب بنسټيز اختلافونه، نه رامنځته کېږي او د ځينو سياسي ګوندونو په شان د هر څه حل د برچې د زور په هنداره کې نه مطالعه کوي. هره فرهنګي ټولنه کېدی شي په ټوليزه ډول ټول فرهنګ او په ځانګړي ډول د فرهنګ د يوې مشخصې څانګې د ښېرازۍ لپاره غوره خدمتونه وکړي.

اوس نو د فرهنګښېرازۍ او فرهنګپالۍ لپاره همدغو فرهنګي ټولنو ته د هيلو سترګې اوښتي، زموږ په شان يوه ټولنه کې خو هسې هم په پوره مانا د يوه ځواکمن دولت تنستې په اسانۍ ټينګېدی نه شي، نو ژبه او فرهنګ د همدغو فرهنګي ټولنو، ليکوالو او شاعرانو په هڅو ژوندي او خړوب دي.

Downloaded from: ketabton.com

# د کابل طب انستیتیوت، د زیان تر پښې لاندې

ما په کابل کې د تنظیمي جګړو پر مهال ډېر وختونه تېر کړي. د افغانستان هرې اقتصادي، علمي او فرهنګي شتمنۍ ته چې به زیان رسېده، نو زموږ له زړونو به وینې څڅېدلې، هغه وخت ما په خپل او بدل نامه ځینو فرهنګي او اقتصادي موسسو ته د اوښتو زیانونو په باب معلومات راټول او چاپول. فرهنګي موسساتو ته د اوښتو زیانونو په باب معلومات بیا په یوه ځانګړي اثر کې راټول او چاپ شول. دا لیکنه هم، همغه وخت شوې وه او د (مروان) په مستعار نامه له پېښور خپرېدونکې ارمان جریدې په ۱۸ګڼه کې، چې د ۱۳۷۴ل کال د چنګاښ پر ۱۱مه نېټه چاپ شوې، خپره شوې ده.

د تېرو درې کلنو جګړو په لړ کې د هېواد د نورو لویو او وړو تحصیلي، تعلیمي، اقتصادي او کلتوري موسسو د ړنګولو په لړۍ کې د کابل د طب انستیتیوت ته هم درانه زیانونه اړول شوي دي. په یاد شوي زماني واټن کې نه یوازې دا چې نوموړې روزنځي ته اقتصادي او مالي درانه زیانونه اوښتي، بلکې ډېر درونډ معنوي زیان یې هم زغملی دی. په دې موده کې د محصلینو درسونه یا په نیمه او یا په بشپړ ډول ودرول شوي وو. که د محصلینو د شمېر په تناسب د درسي ساعتونو شمېر په پام کې ونیسو، نو په مجموعي توګه به نوموړې

Downloaded from: ketabton.com

انستیتیوت ته د لسو ملیونو په شاوخوا کې د درسي ساعتونو دضایع کېدو زیان اوښتی وي.

د طب انستیتیوت (د جنسي مدیریت) مدیر ښاغلي محمد اصف وویل: ((سره له دې چې انستیتیوت ته د ټولو رسېدلو زیانونو دقیق شمېر خورا ګران کار دی، خو بیا هم په اټکلیز ډول د زیانونو اندازه څه ناڅه لګېدی شي. په انستیتیوت کې د پتالوژۍ، بیوشیمۍ، هستولوژۍ، فارمکولوژۍ، مکروبیالوژۍ، اناتومۍ، کیمیا او فزیک دیپارتمنونه موجود دي. دې څانګو خپل خپل مجهز لابراتوارونه لرل، چې د طبي علومو په زیاتو عصري وسایلو سمبال وو. دا لابراتوارونه له ټولو وسایطو او وسایلو سره له منځه وړل شوي دي، چې مالي ارزښت یې په سوونو ملیونو افغانیو ته رسېږي. د انستیتیوت فزیکي ساختمان او نورو درسي وسایطو او وسایلو ته هم درون زیان اوښتی. د ودانیو ۳۰ په سلو کې برخې تخریب شوي، د اوبو او برېښنا سیستم یې هم ویجاړ شوی، د انستیتیوت ۲۰ عرادې بېلابېل موټر غلا شوي: د قرطاسیې ډیپوګانې چور شوي، د انستیتیوت ټول سمعي او بصري مواد لکه د عکاسۍ کمرې، مایکونه، پروجکتورونه، لوډسپیکرونه، علمي سینمایي فلمونه، هنري سینمایي فلمونه، ګرځند امپي فایرونه، تلویزیونونه، ترانسفرمرونه، ویدو کیستې او داسې نور غلا شوي. له دې

Downloaded from: ketabton.com

پرته د انستیتیوت ډېره مجهزه چاپخونه (مطبعه) له منځه وړل شوې ده)).

د بیالوژۍ څانګې یوه سابقه لرونکي استاد وویل: ((یوازې یې زموږ د څانګې (بیالوژۍ) له لابراتوار څخه یې په لسګونو میکروسکوپونه، د تسلیخ بکسونه، د میکروسکوپ ګروپونه، تثبیت شوي مختلف سلایډونه ۵۰۰۰ دانې، ساده سلایدونه، ۲۰۰ دانې، درجه لرونکي استوانې، یخچالونه او نور وسایل چور او له منځه وړي دي)).

د انستیتیوت یو تن مسوول وویل: ((کېدی شي د انستیتیوت د ودانیو د بیا جوړولو لپاره زر ملیونه افغانۍ کفایت وکړي، خو دا خبره دقیقه نه ده، د زیانونو د تثبیت کمیسیون په دې خبره کار کوي، چې وروسته به دقیق زیان معلوم کړي)). بل دروند او نه جبرانېدونکی زیان چې نوموړي انستیتیوت ته اوښتی هغه د علمي او درسي کتابونو له منځه تلل دي. د کابل طب انستیتیوت یو ډېر مجهز کتابتون درلود. د نوموړي کتابتون امر ښاغلي غلام علي وویل: ((د انستیتیوت کتابتون درې منزله درلودل، په دې کې دوه خونې د محصلینو د مطالعې لپاره وې. د کتابتون فزیکي جوړښت په ډېر علمي سیستم او ښې جوړ شوی و. په دې کتابتون کې پنځوس زره عنوانه بېلابېل علمي کتابونه موجود وو، چې زیاتره یې په انګلیسي ژبه وو، کله چې دلته د جګړې اور ولګېد، نو د کتابتون درې واړه منزله وسیزل شول، زیات

Downloaded from: ketabton.com

کتابونه پکې ایره شول، د طب انستیتیوت په هڅه او هاند یوازې ۲۰۰۰ عنوانه کتابونه له انستیتیوت څخه یو مصئون ځای ته انتقال او د حالاتو په ښه کېدو سره بېرته انستیتیوت ته راوړل شول، چې اوس تري محصلین ګټه اخلي. د انستیتیوت په کتابتون کې د دې انستیتیوت د استادانو هغه ۵۰۰۰ عنوانه علمي کتابونه هم موجود وو، چې دوی په بېلابېلو وختونو کې د خپلو علمي ترفیعاتو لپاره لیکلي وو او دلته یې یوه یوه خطي نسخه موجوده وه. دا اثار هم د جګړې د طاعون ښکار شول)).

Downloaded from: ketabton.com

# د افغانستان د ملي ګالرۍ برخليک

دا ليکنه هم د وفا جريدې د ځلورم کال ۳۹-۴۰ ګڼه کې چې د ۱۳۷۴ل کال د لړم له ۹ نېټې سره سمون خوري، د(نيازي) په مستعار نامه خپره شوې ده. د تنظيمواکۍ په بهير کې چې په کابل کې سخت جنګونه روان او وخت پر وخت زموږ فرهنګي اثار لوټېدل، نو زه او زما په شان نور هېوادوال پرې زيات دردېدل، همغه وخت ما د دې کلتوري تراژيديو په باب معلومات راټولول، دا ليکنه هم د همغې لړۍ يوه کړۍ ده چې وروسته بيا ترې يو ځانګړی کتاب جوړ شو.

ملي ګالري د ۱۳۶۲ل کال د ثور پر مياشت افتتاح شوې ده. د ګالرۍ د پرانيستو په مراسمو کې د کندهار له ولايت، د کابل له موزيم او له سلطنتي قصر څخه (۲۰۰) هنري او تاريخي اثار راوړل شوي او ننداريې ته ايښودل شوي وو.

دا موسسه د اسمايي واټ په هغه تعمير کې جوړه شوې وه، چې اصلاً د غلام نبي خان چرخي ملکيت و او وروسته بيا په اطلاعاتو او کلتور وزارت پورې تړل شوی و. سره له دې چې دا ودانۍ د ملي ګالرۍ د اثارو د ساتنې او ننداريې لپاره مناسبه هم نه وه، خو بيا هم دا اثار په کې ننداريې ته کېښودل شول.

Downloaded from: ketabton.com

د ملي ګالرۍ د ۱۲ کلن فعالیت په لړ کې هر کال د پلان او بودیجې له مخې د هېواد د معاصرو هنرمندانو اثار اخیستل کېدل. په دې لړ کې د نقاشۍ، میناتورۍ، مجسمې او ظریفه اثارو ۵۹۲ اثار اخیستل شوي او ملي ګالرۍ ته تحویل شوي وو. د دې اثارو زیاته برخه د غلام محمد میمنګي، عبدالغفور برېښنا، استاد عبدالعزیز، استاد غوث الدین، استاد یوسف کهزاد، استاد عطایي، استاد خیرمحمد یاري، استاد کریم، استاد قربانعلي عزیزي او داسې نورو استادانو اثار وو.

تر یوې لسیزې په زیاته موده کې دې ګالرۍ هر کال لس زره لیدونکي درلودل او د افغان ولس لرغونی او تاریخي فرهنګ یې تمثیلاوه. کله چې ۱۳۷۱ل کال پیل شو او جهادي تنظیمونه کابل ته داخل شول، پر دې وخت نو د اطلاعاتو او کلتور وزارت اداري، حقوقي او فرهنګي مسوولین په دې هیله وو، چې هر څه به خوندي پاتې شي، خو امنیتي چارواکي او غالباً وسله وال جهادي افراد د یو توند باد په شان راخواره شول او د ګالرۍ دېوالونه یې ولړزول. کله چې وسله والو افرادو د وزارت ټول اداري قیمتي وسایل او وسایط، لکه غالۍ، فرشونه او موټر چور کړل، نو د ملي ګالرۍ د منځه تلو وېره لا پسې ګړندۍ شوه. د ۱۳۷۱ل کال د سنبلې پر ۲۳ نېټه د وسله والو کسانو له خوا د استاد غوث الدین او نورو هنرمندانو څلور تابلوګانې غلا شوې، دولتي ادارو ته خبر ورکړ شو، چې د ګالرۍ پیره دارانو دا کار ترسره کړی دی او په راتلونکې کې

Downloaded from: ketabton.com

هم دا وېره شته، خو هغوی بې تفاوته پاتې شول او د ګالرۍ د برخلیک په باره کې یې هېڅ پرېکړه ونه کړه، ان دا چې د اطلاعاتو او کلتور وزارت د هغه وخت د اداري رئیس په دستور او د هغه وخت د کوپوني مغازې د مدیر په واسطه د ۱۳۷۱ ل کال د سنبلې پر ۴ نېټه تر ۳۰ موټرو زیات د ډبرو سکاره د ملي ګالرۍ په انګړ کې وغورځول شول. دې کار ددې مخه ونیوله چې د ګالرۍ اثار راټول او یو مصئون ځای ته انتقال شي، ان تر دې چې د ګالرۍ یو زیات شمېر ښکلي او ناب اثار د ډبرو سکرو په تور ګرد ککړ شول او د ګالرۍ تعمیر او لوازم هم د ډبرو سکرو په شان تور واوښتل. دې کار د هېواد ټول فرهنګپال او فرهنګیان متاثر کړل او د یادو شویو کسانو عمل یې وغنده. ویل کېږي چې د نوموړ اشخاصو عمل قصدي و، د ګالرۍ اثار به یې د ((بتانو)) په نوم ونو یادول.

د ۱۳۷۲ل کال د ثور پر ۵نېټه په ګالرۍ کې د ځای پرځای شویو وسله والو کسانو له خوا ۳ نور هنري اثار هم غلا شول، پر دې کار باندې د وزارت امنیتي ځانګو هم ځان غلی ونیو او بیا یې هم د ګالرۍ د اثارو د ساتنې کوم مشخص تدبیر ونه نیو.

د ۱۳۷۳ل کال د ثور پر ۱۳نېټه د ګالرۍ د امنیتي ساتونکو له خوا د هنري نقاشۍ ۲۲ اثار غلا شول، دا ګالرۍ ته دومره لوی زیان و، چې جبران نه کېدونکی ګڼل کېږي. دې ټولو پېښو ته د اطلاعاتو او کلتور وزارت لوړو مقامونو او نورو اړوندو

Downloaded from: ketabton.com

ادارو هېڅ پاملرنه ونه کړه. کله چې د ګالرۍ د بېخي له منځه تلو وېرې د ځينو زړونه ودردول، نو په اطلاعاتو او کلتور وزارت کې ځينو اشخاصو له هغه جملې نه د نوموړي وزارت د هنر د رئيس په ځاني هلو ځلو او د ځينو نورو مسولينو په مرسته د ملي ګالرۍ ۲۹۲ تاريخي اثار له اصلي تعمير څخه د وزارت تعمير ته را انتقال شول.

تر دې نږدې تېرو ورځو پورې هم د ګالرۍ تعمير د وسله والو کسانو په لاس کې و، معلومه نه ده چې تر کومه به په دې تعمير کې د دوی واکمني وي. په هغو ځايونو کې چې پخوا په کې ظريفه او ښکلي اثار ځوړند وو اوس يې بيا تري تشنابونه جوړ کړي او يا هم پخلنځي، کېدی شي د يو څه وخت په تېرېدو سره د تعمير پاتې برخه هم ونړېږي.

هغه اثار چې له ملي ګالرۍ څخه د وزارت مقر ته راوړل شول اوس هم مصئون نه دي او داسې ګونګسي هم دي، چې د وزارت په مقر کې هم د ځينو چارواکو له خوا د ګالرۍ ځينې اثار غلا شوي او دا لړۍ کېدی شي، نوره هم ادامه پيدا کړي.

Downloaded from: ketabton.com

# د کابل د اوسنۍ اداري څو ځانګړتياوې

| |
|---|
| دا ليکنه له پېښوره د خپرېدنکې وفا جريدې د څلورم کال په **۴۵-۴۶** ګڼه کې چې د **۱۳۷۴**ل کال د ليندۍ **۲۴** نېټې سره سمون خوري، د (نيازي) په مستعار نامه خپره شوې ده او د هغه وخت د اداري انځور نه کوي. |

له هغې ورځې چې په کابل کې دولتي سيستم ړنګ شوی او نوې اداره جوړه شوې، نو پر ټول افغانستان په تېره بيا پر کابل د اورونو او غمونو، لوږو او تندو، سختيو او بدمرغيو قحطيو او قيمتيو سخت ناتار اوري.

هغه څه چې د تېرو غميزو له ناتار څخه خوندي پاتې وو، د تنظيمي اداري د ځان غوښتنو او ډول ډول منفي فکري تمايلاتو د اور په څپو کې ايره شول. سره له دې چې په افغانستان کې له دريو کلونو راهيسې حکومت او دولت نه شته، خو القاب شته: جمهور رئيس(!) او د دفاع وزارت(!) اسلامي اردو، د وسله والو پوځ اعلی قوماندانی او دې ته ورته نومونې اورېدل کېږي. له دفاع وزارت سره د افغانستان نوم اخيستل کېږي (د افغانستان د دفاع وزارت) خو د دفاع غړيې يوازې د کابل ښار له څو ناحيو څخه پورته کېږي او

Downloaded from: ketabton.com

اعلاميو کې يې دا ټکي هم راغلي وي: ((که چېرې مخالفين د کابل پر ښار خپلو راکټي حملو ته دوام ورکړي، نو د اسلامي اردو ځواکونه به د کابل شاوخوا ته نږدې ښارونه تر غوڅو هوايي بمباريو لاندې ونيسي)) مقصد يې ميدان ښار، چهاراسياب او د لوګر ولايت مرکز دی. د دوی په فکر، چهاراسياب، ميدان ښار، لوګر او د هېواد نورې سيمې چې د مخالفينو په لاس کې دي، هغه افغانستان نه ګڼل کېږي. له کابل راډيو څخه داسې خبرونه هم اورېدل شوي: ((د اسلامي اردو ځواکونو او مجاهدينو تېره شپه او نن سهار د غوڅو او ځپونکو عملياتو په نتيجه کې د ناولو وملېشو له وجود څخه يو کلی په بشپړ ډول پاک کړ، د دې عملياتو په نتيجه کې چې په ډېرې لوړې او عالي روحيې سره ترسره شول، د دښمن دوه ټېنګ سنګرونه او د هغوی يوه زياته اندازه سپکه او درنه وسله د اسلامي اردو د ځواکونو لاسته ورغلې ده.))

دا د اسلامي اردو د ځواکمنۍ جاج و، چې يو کلی يې له مخالفينو څخه نيولی و او د دفاع وزارت بيا د خپلو ښارونو اوسېدونکو ته اخطار ورکوي، چې سخته بمباري به پرې وکړي. د نورو ملکو د دفاع وزارتونه خو يو بل ته د جنګ اخطار ورکوي او د خپلو سيمو او هېوادونو دفاع کوي، خو د کابل د دفاع وزارت بيا معکوس دی. که چا يوازې د سږکال د حمل له مياشتې راهيسې، کابل راډيو په پرله پسې ډول اورېدلې وي، نو داسې شپه به نه وي، چې د کابل د ادارې يو

Downloaded from: ketabton.com

پیغام کوم بهر ملک ته نه وي خپور شوی. په دې پیغامونو کې هم د تسلیت پیغامونه دي او هم د مبارکۍ.

دا سې وختونه هم راغلي، چې تنظیمي ادارې د یو هېواد مشر ته د مبارکۍ پیغام لېږلی، ورپسې د اسلامي اردو د ځواکونو او د مخالفینو ترمنځ د جګړې خبر خپور شوی او په خبر کې ویل شوي، چې دومره مو مړه، دومره مو ټپیان او دومره مو اسیران کړل. یوه ورځ دې ادارې د انګلستان د ملکې د زېږېدو د کالیزې په ویاړ هغې ته د مبارکۍ پیغام لېږلی و، په پیغام کې د هغې روغتیا او د عمر د اوږدوالي غوښتنه شوې وه، خو همدا ورځ په کابل کې یوه غملړلې ورځ وه، تر شلو پورې کسان مړه او ټپیان وو، د فکر خاوندانو به ویل: ((افرین په دې اداره ))( ! ) چې دلته د ورځې په لسګونو وژني او هلته د یو شخص د روغتیا او د عمر د اوږدوالي لپاره پیغامونه لېږي. دې ته ورته خبرونه نور هم زیات خپاره شوي دي.

د ۲۹/۸/۱۳۷۴ نېټه دې ادارې د مصر جمهور رئیس حسن مبارک ته په اسلام اباد کې د مصر سفارت ته د ایښودل شوي بم له امله د خواشینۍ او ډاډګېرنې پیغام لېږلی و. په پیغام کې ادارې د نوموړې پېښې له کبله د افسوس او خواشینۍ اسویلي ښکاره کړي وو، پر همدې ورځ په کابل ښار کې د جګړې له امله ۱۰ تنه مړه او ۱۲ تنه زخمیان شوي وو، خو ادارې د هغوی پر حال یوه اوښکه هم تویه نه کړه. بله ورځ یې بیا په

Downloaded from: ketabton.com

سعودي عربستان کې د امريکا پوځي اډې کې د چاودلي بم له املـه د سعودي حکومت تـه د خواشينۍ او ډاډګېرنـې پيغـام ورلېږلـی و ، پـر دې ورځ هـم پـه کابـل کـې ۸ تنـه هنرمندان او د طلوع کورس ۱۲ تنه شاګردان وژل شوي وو ، ددې پيغامونو لـه کثـرت څخـه د اداري يـو مقصـد دا دی چـې پـه خبرونـو کـې د اداري نوم يـاد شـي، نـور خو نـه دوی پـر هېـواد حاکميت لـري، چـې دوی د هېـواد بېلابېلـو سـيمو تـه لاړ شـي او لـه بېلابېلـو قومونو سره وګوري او يا کومې ابادۍ، ودانۍ او يا هم د کوم علمـي کـار ډبره کېـږدي، هغـه سيمې چـې د نومـوړې اداري تـر کنټرول لاندې دي، پـه هغـو کـې هم د خيـر کـوم کـار نـه ترسـره کېږي، چې د اداري مشـران پـه پرانيسـتو کـې برخه واخلي او نوم يې ياد شي، نو دوی ته يـوازې همدا پيغامونـه پـاتې دي او بس. پـه پيغـامونو کـې د يـادونې وړ بـل ټکـی دادی چې داسې منظم شوي، چې هره شـپه بايـد يـو پيغـام وي مـثلاً د اسد د ۲۸ نېټې په باب له يو هېواد څخه يو پيغام رالېږل شوی و ، څرنګه چې د پيغامونو لېږل او رالېږل زيات وو او هره شپه بايد د نامـه لپـاره يـو پيغـام نشـر شـوی وای، نـو دا پيغـام يـې د سـنبلې مياشتې په پای کې نشر کړ، چې يوه مياشت د هغې ورځې لـه مناسبت څخـه تېـره شـوې وه. لـه ايـران، هنـد ، چـين، سـوريې، البانيـا ، امريکـا ، ترکيـې، اذربايجـان، ارمنسـتان، سـعودي، قطر او ځينو نورو مشهورو هېوادونو نه پرته ځينو نورو داسې هېوادونـو تـه هـم پيغامونـه لېـږل شـوي، چـې هغـه ګرد سره لـه

Downloaded from: ketabton.com

افغانستان سره نه ښخوا او نه هم اوس ډیپلوماتیکي اړیکي لري. د اکثرو پیغامونو متن کتې مټ یو شان وي، داسې فکر کېږي چې پیغامونه مخکې تر مخکې تیار لیکل شوي، یوازې د هغه هېواد او جمهور رئیس د نوم لیکل ورته په کار دي.

یوه بله اساسي موخه چې د کابل اداره یې له دې ډول پیغامونو څخه لري، هغه داده، چې دوی فکر کوي ځانته به مشروعیت او بین المللي ملاتړ ترلاسه کړي او بیا به خلکو ته ووایي هغه دی ټول ملکونه موږ په رسمیت پېژني، خو په دې خبر نه دي چې ولس اوس پر ټولو خبرو پوره پوهېږي.

Downloaded from: ketabton.com

# د جدي د ۶ نېټې غمیزه
# او د هغې مرکزي کرکټر

دا لیکنه د وفا جریدې د څلورم کال په ۴۷-۴۸ گڼه کې چې د ۱۳۷۴ل کال د جدي له ۱۰ نېټې سره سمون خوري، د (ا.نیازي) په مستعار نامه خپره شوې ده.

هره ټولنه او ولس ځانته د ویاړونو، پرتمونو، نېکمرغیو، بدمرغیو، غمیزو او کړاوونو شپې ورځې لري. دا پېښې او یادونه د ولس په ذهن کې انځور شوي وي او له یوه نسل څخه بل ته انتقالېږي. څرگنده خبره ده چې پېښې په خپل سر نه رامنځته کېږي، اشخاص او د ژوند نور پېچلي شرایط د پېښو د رامنځته کېدو سبب گرځي او د پېښو په لړۍ کې نور اشخاص روزل کېږي. هغه اشخاص چې د ذهني، فکري، اخلاقي، اجتماعي او نورو ښېگڼو له پلوه کمزوري وي او لویو کارونو ته لاس اچوي، نو نتیجه یې ډېره کرغېړنه او بدمرغه راوځي. دا ډول اشخاص د منفي کرکټرونو په توگه د ولس په ذهن کې ځای نیسي او ولس ته د وراړول شوي درد او زیان له کبله د هغو د سختې کرکې سبب گرځي. زموږ د هېواد د معاصر تاریخ تر ټولو بدمرغه ورځ د ۱۳۵۸ لمریز کال د مرغومي شپږمه نېټه ده. ددې غمیزې مرکزي کرکټر ببرک

Downloaded from: ketabton.com

کارمل دی، چې پر نوموړي نېټه د شوروي اتحاد د سرو لښکرو په زور د کابل پر تخت کېنول شو.

((ببرک کارمل د جنرال محمد حسین خان زوی د بګرامیو د کمریو او سپدونکی و، د ببرک کارمل د نیکه محمد هاشم پلرونه له کشمیر نه کابل ته راغلي دي. د بهرنیو چارو د پخواني وزیر عبدالوکیل نیکه، د نوموړي پلار (محمد حسین) حربي ښوونځي کې شامل او وروسته یې خپله لور هم ورته ورکړه)). ببرک کارمل د کابل پوهنتون د حقوقو له پوهنځي څخه فارغ شوی او بیا یې د پلان په وزارت او ځینو نورو دولتي ارګانونو کې کار کړی دی. نوموړی د **۱۹۶۵**-**۱۳۴۳** کال د (خلکو دموکراتیک ګوند) د لومړۍ کنګرې له غړو څخه و. وروسته یې د (پرچم) په نامه یوه بېله سیاسي ډله جوړه کړه. ده د خپل سیاست د پیل له کلونو څخه د شوروي اتحاد له سفارت سره لار درلوده، په همدې وجه خو روسانو تر بل هر چا پر ده زیات باور درلود. دی د شوروي سفارت کار کوونکو ته دومره نږدې و، چې د هغوی په ډېرو خصوصي غونډو او مېلمستیاوو کې هم د ګډون بلنه ورکول کېدله.

د ((پلوشې)) جریدې د **۱۳۷۴**ل کال **۳**ګڼه د سردار محمد داود خان د وخت د کابینې د یوه غړي له خولې لیکي: ((مونږ په کابل کې د شوروي سفارت له خوا رسماً د ځینو خبرو لپاره نوموړي سفارت ته بلل شوي وو، کله چې سفارت ته ورددننه شو، نو د سفارت کار کوونکو مونږ ته هرکلی ووایه، د هرکلي

Downloaded from: ketabton.com

ويونکو په ډله کې دی (کارمل) هم، لکه د سفارت د يو غړي په توګه ولاړ و)).

((جګړن ولاديمير کوزيچ کين چې په ايران کې د افغانستان په ارتباط د کې.جي. بي مامور و، د ۱۹۷۲کال د نومبر پر ۱۱ نېټه له بي بي سي سره د يوې مرکې په ترڅ کې دی د کې.جي.بي يو لوړ رتبه مامور وباله)). د همدغو روابطو نتيجه وه چې دی په چکوسلواکيا کې د افغانستان له سفارت څخه په مخفي ډول مسکو ته بوتلل شو.

((د کې.جي.بي د جاسوسۍ ضد مشر تورنجنرال لوکين وايي: کې. جي.بي کولای شول، چې د ټولنو او افرادو په خصوصي او عمومي تاريخ کې بدلون راولي او د کماندو داسې افراد يې په واک کې وو، چې د شوروي تر پولو د باندې هم په هر ډول تهاجمي او تروريستي عملياتو لاس پورې کړي، چې له همدې قطعې نه يوه ډله چې په مستعار نامه (زينت) يادېدله، د سفارت د ساتنې په پلمه کابل ته ولېږل شوه او د جنرال ويکتور پاپوتين قوماندې ته ورکړل شوه.

نوموړی وايي: ((د مرغومي پر پنځمه نېټه د کې.جي.بي له مشر اندروپوف سره ناست و، چې له کابل نه د کې. جي.بي نماينده د امين د وژلو او د عملياتو د بريالیتوب خبر ورکړ، اندروپوف احساساتي و او ويې ويل چې کارمل ژر پيدا او د بيانيې متن ورته جوړ کړئ!)).

Downloaded from: ketabton.com

بیا ((له تاشکند راډیو نه د حفیظ الله امین د وژنې اعلان له یو اشنا ستوني نه راووت او دا اعلان د مفصلې وینا په ترڅ کې د هغه له خوا د تاشکند د راډیو په څپو کې څو ځلې تکرار شو، چې وروسته یې خپلې غلطۍ ته پام شو، کابل راډیو یې قطع او خپله خپرونه یې د کابل راډیو په نامه کړله.

کله چې دی د امین له مرګ نه پوره ډاډه شو، نو د کې.جي.بي له مېلمستون نه له خپلو تنبېتېدلو ملګرو سره بېرته کابل ته راوستل شو او پر تخت کېنول شو.

برژنیف او روسي مشرانو د یو تلګرام په ترڅ کې ده ته د بریالیتوب مبارکي ورکړه.))

کله چې دی د کابل پر تخت کېنول شو، بیا نو ده په زغرده د شوروي اتحاد پر دوستۍ او اړیکو ویاړ کاوه، ان دا چې د یوه محفل په ترڅ کې یې د ګرمو احساساتو په وجه خپل هر څه په ډاګه کړل.

نوموړی د روسپالنې په مینه کې دومره ډوب و چې ان د خپل زوی نوم یې (واستوک) ایښی و او د شوروي اتحاد دوستي یې تلپاتې او خلل نه منونکې بلله.

سره له دې چې ده د جدي د ۶نېټې پېښه د انقلاب نوی بشپړتیايي پړاو باله، خو د دې پړاو په بري کې یې د شوروي له رول څخه په خپله پرده اوچته کړه. دی وایي: ((هر گاه کمکهای بی شایبه و برادرانه اتحاد شوروي سوسیالستی نمیبود، انقلاب پیروزمند ثور وارد مرحلهء نوین خود

Downloaded from: ketabton.com

نمیگشت و امروز نه تنها در افغانستان، بلکه در منطقه یک فاجعهء عظیم تاریخ رُخ میداد )). (کابل کالنۍ، **۱۵**مخ، **۵۸-۵۹** کال گڼه).

نو موړي د ګران هېواد د ویاړونو، پرتمونو او رزمونو د ماضي پاڼې نه وې لوستې او د هېواد ژوند او بقا یې په ((ستر شوروي اتحاد)) پورې تړله. په سلګونو ځله به یې په رسمي او خصوصي غونډو کې دا خبرې تکرارولې: ((که د شوروي اتحاد د محدودو قواوو شته والی نه وای نن به زموږ هېواد د امپریالیزم خولې ته لوېدلی وای)). (کابل کالنۍ **۵۸-۵۹**کال ګڼه، **۱۱۷**مخ)

((در حالی که استقلال ملی کشور ما را خطر جدی ناشی از تجاوزات امپریالستی تهدید میکرد یکبار دیگر دوست بزرگ و ازموده مردم افغانستان، اتحاد شوروی درکنار ما قرار گرفت)). (کالنۍ، **۱۸۹**مخ)

ده د خپل هېواد عظمت، غیرت او همت ته نه کتل، یوازې جغرافیایي حدود، د نفوسو د شمېر خرنګوالی او ځینو مادي وسایطو یې د ذهن سترګې ورپټې کړې وې، ځکه یې نو پخپلو خبرو کې خپل هېواد ډېر کوچنی او خپل دوست هېواد(!) یې ډېر لوی معرفي کاوه. ((کمک بلاعوض خلقهای شوروی به مردم افغانستان نمونهء برجسته است در مناسبات بین المللی که از روابط حسنه یک کشور بزرگ و کبیر با یک دولت کوچک...)).

Downloaded from: ketabton.com

ده زيات زيار ايسته چې د ژوند په ټولو چارو کې د شوروي اتحاد له تجربو او کړنو نه ګټه پورته کړي، که د افغاني ټولنې له ژوند چارو سره سمون خوري او که نه؟ دا نو بېله خبره ده، د ده هڅه دا وه چې د دوو بېلابېلو ټولنو ژوند هماهنګ وښيي او په اصطلاح د شوروي اتحاد له تجربو څخه ګټه پورته کړي، نو ځکه به يې په زياتو غونډو کې د شوروي پر تجربو ټينګار کاوه. د ښځو يوې غونډې ته د خبرو په ترځ کې ددې تجربو يادونه او د ځوانانو يوې غونډې ته ددې تجربو د يادونې ترځنګ د شوروي ځوانانو د کمسمول له سازمان څخه مننه څرګندوي: (( بشريت مترقى تجارب ارزشمند در ارتباط با جنبش زنان اندوخته است، در زمينه بيش از همه تجربه تاريخى کشورهاى سوسيالستى و در درجه اول اتحاد شوروى ارزش والا و بزرگى دارد )).

((اجازه راکړئ چې د هېواد د ځوانانو د دغې سترې غونډې او پيوستون په کار کې د زړه له کومې د ښو او لويو برياليتوبونو هيله وکړم او يو ځل بيا د سوسيالستي هېوادونو او د نړۍ د نورو هېوادونو د ځوانانو د بين المللي سازمانونو په سر کې د شوروي اتحاد د ليننې کمسمول سازمان مخکښو استازيو ته خپلې مننې څرګندې کړم )). (کالنی، ۲۱۲مخ). ده به تل د خپلو خبرو په ترځ کې پر څو خبرو باندې ډېر ټينګار کاوه: (( د افغان شوروي دوستي )) او (( د انقلاب نوی پړاو )). ده په دې يادونو کې د افراط تر وروستۍ

Downloaded from: ketabton.com

بریده ځان رسولای و. ((اگر مرحلهء نوین انقلاب صورت نمیگرفت، اکنون افغانستان در نقشهء سیاسی جهان وجود نمیداشت)). (کالنۍ، ۲۸۳مخ) ((دور نمای دوستی افغان و شوروي خلل ناپذیر وخدشهء ناپذیر است و از یک پیروزی به پیروزی دیگر موج به موج به طرف تکامل و استحکام خود پیش میرود)). (کالنۍ، ۳۱۲مخ)

دی د جدي تر ۲ نېټې وروسته شوروي ته د خپل سفر اهمیت داسې څرګندوي: ((د ثور انقلاب د نوي پړاو تر بریالیتوب وروسته په بین المللي لحاظ زموږ لپاره ستره سیاسي پېښه هماغه شوروي اتحاد ته زموږ د ګوندي او دولتي لوړې رهبرۍ د هئیت سفر او په مسکو کې د افغانستان او شوروي اتحاد د خبرو بریالي سرته رسول وو، د دغو خبر اهمیت د اوسنۍ شېبې د خبرو له چوکاټ څخه ډېر لوړ دی او ځینو برخو کې د دوه اړخیزو اړیکو له چوکاټ څخه هم لوړ ځي)). (کالنۍ، ۲۷۸مخ).

که په پورته عبارت کې د ((چوکاټ)) کلمې ته ځیر شو، نو ډېرې سپورې مانا وې ځنې راځي، په عادي ورځنۍ محاوره کې هم له (چوکاټه وتل) په منفي مانا کارول کېږي، خو ده د کلمو پرځای کارونې ته هم پام نه دی اړولای، هغه ((دوستي)) چې له چوکاټه ووځي، نو طبیعي ده چې نور څه ترې راولاړېږي.

بله خبره چې ده د هغو په باب بېلابېل متضاد نظرونه څرګند کړي، هغه د شورویانو د راتګ مساله وه، سره له دې چې موږ

Downloaded from: ketabton.com

پورته یادونه وکړه. ده ویلي: ((هرگاه کمکهای بی شایبه و برادرانه اتحاد جماهیر شوروی سوسیالستی نمیبود انقلاب پیروزمند ثور وارد مرحلهء نوین خود نمیگشت)). (کالنۍ، **۱۵**مخ). خو بیا به یې هم کله کله دا د افغانستان- شوروي د **۱۹۷۸** کال د دسمبر د **۵** او د **۱۳۵۷** کال د قوس د **۱۴** نېټې د تړون پر اساس چې د ده په قول د دواړو هېوادونو د حکومتونو ترمنځ شوی و، راغلي، کله به یې ویل چې د ملګرو ملتونو د منشور د (**۵۱**) مادې پر اساس راغلي، خو کله چې به د هېواد په دننه کې انتقادونه او فشارونه پرې تر حده زیات شول، نو بیا به یې ویل چې دا خو ((امین راوستي))، دا خبرې به ده هغه وخت کولې، چې نورو نو د روسانو او پر خپل بري ورته شک پیدا شوی و. د خپل قدرت پر لومړي کال خو یې ځان د شوروي اتحاد یو وجود باله دا ویاړ(!) یې چاته نه ورکاوه او همدا به یې ویل: ((در این دوستی و در این روابط میتوانیم بگویم که هیچ قدرت درجهان اعم از ارتجاع سیاه، امپریالیزم جهانی، شوونیزم چین و دیگر نیروهای طاغوتی هر گز نمیتوانند کوچکترین خدشه وارد سازند)). (کالنۍ، **۴۳۳**مخ) ((زنده باد دوستی خلل ناپذیر جمهوری دموکراتیک افغانستان و اتحاد شوروی دوست و برادر جاودان و همیشه گی ما!)). (کالنۍ **۴۵۲**مخ)

د اسوشیتد پرس خبریال له ده څخه پوښتنه وکړ: ((قسمی که جلالتمآب شما فرمودید و قبلاً گفتید که امین ایجنت

Downloaded from: ketabton.com

امپریالیزم امریکا بود پس او چرا قشون شوروی را در افغانستان دعوت کرد ؟ ) ).

جواب: ((حفیظ الله امین ایجنت امپریالیزم امریکا از اتحاد شوروی طلب کمک قطعات محدود نکرده بود ، بلکه این کمک به اراده و تصویب نزدیک به اتفاق ارای شورای انقلابی جمهوری دموکراتیک افغانستان صورت گرفته است ) ). (کالنی ۳۲۵مخ )

دلته که له انقلابي شوری څخه مقصد د نورمحمد تره کی ((انقلابی شوری ) ) وي، نو د هغه پر ژوند خو روسان رانغلل، نو د هغه تر مرګه وروسته روسانو د هغه ترون عملي کاوه؟ او که د امین د وخت انقلابی شوری څخه یې مقصد وي، نو هغه خو دی خپله ردوي چې امین نه دي راغوښتي. بله عجیبه خبره خو داده چې راغوښتي هغو دي( ! ) خو قدرت ته یې دی ورساوه !؟

Downloaded from: ketabton.com

# کابل: رنځونه، مرګونه او کړاوونه

دا لیکنه له پېښوره د خپرېدونکې وفا جریدې د پنځم کال په ۷-۸ ګڼه کې چې د ۱۳۷۴ل کال د کب ۱۰ نېټې سره سمون خوري، د(نیازي) په مستعار نامه خپره شوې ده. دا لیکنه په کابل کې د همغه مهال د حالاتو تصویر کاږي.

په کابل کې د ژوند د سختوالي، تنګوالي او نورو کړاوونو په وجه خلک له ډېرو ستونزو سره مخ دي. دې ستونزو خلک ډول ډول کارو ته مجبور کړي دي، د چا کوکې پورته شوې، د چا فریادونه، چا چور وکړ، څوک چور شول، څوک مړه شول او چا د مړو په شتمنیو د ژوند د هوساینې چارې برابرې کړې. ژوند د افراط او تفریط له څپو سره یوځای شو، او س نو په ښار کې هره ورځ یوه نه څو داسې رنګینې متضادې، خندوونکې او ژړوونکې پېښې پېښېږي، چې د انسان عواطف دردوي او خوځوي.

څو موده د مخه د کابل د موسی کلا یوه مسجد ته یو څوک د شپې ورننوتی و، د مسجد غالۍ او نور فرشونه یې وړي وو. سهار چې لمونځ کوونکي مسجد ته دننه شول، ګوري چې مسجد کې فرشونه نه شته، کله چې لږ رڼایي شوه او د مسجد

Downloaded from: ketabton.com

دروازې ته يې پام شو ، نو په يوه کاغذ کې په روښانه ډول ليکل شوي وو:

((زه ډېر مجبور وم، نو ځکه مې د مسجد سامان او فرشونه يوړل، هر کله چې زما مجبوريت رفع شو ، نو مسجد ته به دا شيان بيا واخلم او راپه يې وړم. په احترام)).

د روان کال د مرغومي پر مياشت په کابل کې قحطي او قيمتي د يو شمېر کورنيو د ژوند د ورځينيو چارو د خړوبولو تنابونه دومره سست کړي وو ، چې نور نو د ټينګولو نه وو ، ان دا چې ځينې کورنۍ د خپلو ماشومانو په ساتنه پکو شوې دي.

د خيرخانې مېنې يوه جامع مسجد ته يو سړي خپل دوه تنه ماشومان راوستل او په مسجد کې پر ناستو لمونځ کوونکو يې غږ وکړ: ((هر څوک چې دا ماشومان ساتلای شي، د ټول عمر لپاره دې ځان سره بوځي)). دې ته ورته پېښې د کابل په نورو جوماتونو کې هم شوې دي.

په همدې ساړه ژمي کې نه يوازې په مسجدونو ، بلکې په نورو عامه ټولنو او بازارونو کې هم د ماشومانو د سپارلو خبرې شوې دي. د روان کال د دلوې مياشتې په لومړيو ورځو کې، د کابل د پښتني تجارتي بانک مخې ته، يو سړي خپل ماشومان ترلاسه نيولي وو او په زوره زوره يې چيغې وهلې: ((او خلکو راشئ ! دا ماشومان ځان سره بوځئ ! زه نور ددې توان نه لرم، چې دوی ته ډوډۍ ورکړم، په تن يې پټ او په نس يې ماړه کړم، دا مري، زه د دوی قتل په خپله غاړه نه شم

Downloaded from: ketabton.com

اخیستی، څوک چې ددې توان لري، دا دې بوځي ! که نه نو دا خو مري، بیا به نو قتل د دوی پر غاړه وي، ما خو خپله غاړه خلاصه کړه، نوره مو خپله خوښه )).

د قحطۍ او قیمتۍ مرګ او درد تر څنګه یخنۍ هم پر ښار خپله خوله لګولې ده. د سون مواد په ډېره لوړه بیه خرڅېږي. په همدې وجه خلک مجبور دي، د سون له هغو موادو څخه هم ګټه پورته کړي، چې له ځاړویو څخه لاسته راځي، د کابل ښار یو تن تحصیل کړی ښاري، ددې موادو د لاسته راوړلو داستان داسې بیان کړ: (( څو موده دمخه په دې لټه کې وم، چې د سون نسبتاً ارزانه مواد لاسته راوړم، چا راته پته راکړه، چې د ښار په څنډو کې له شپنو سره د ګډو یو، مېښو او وریو پچې پیدا کېږي، تیارې یې په بوجیو کې اچولې او د بوجیو په توګه یې خرڅوي، سره له دې چې د سون دا مواد هم ارزانه نه وو او د چا خبره د کشمشو په بیه خرڅېدل، خو مجبوریت و، وامې خیستل، ټولې څلور بوجۍ شوې، ښار ته راروانې یوې لارۍ موټر کې مې دا بوجۍ واچولې او زه پرې له پاسه کېناستم، څو دقیقې لانه وې تېرې شوې، چې موټر ودرېد او یو ټوپکوال رادمخه شو، سر له واره یې پوښتنه وکړه، دا څه شی دي؟ او د چا دي؟ ما نو په ډېر جرئت وویل: دا خو د وریو پچې دي، کور ته یې وړم سېزو یې. نو ماته رابرګ شو، هله راشه ددې محصول راکړه، ما ویل پچې ! دي پچې د پچو مې محصول لیدلی نه دی، سړی ډېر په قهر شو او راته یې وویل: ډېرې

Downloaded from: ketabton.com

خبرې مه کوه ژر شه هله د بوجۍ په سر زر افغانۍ راکړه، ما چې فریاد کاوه سړی راته نور هم بدو رګی کېده، نو په پای کې مجبور شوم څلور زره افغانۍ مې ورکړې او کور ته راغلم.))

په کابل ښار کې د نورو بدمرغیو ترڅنګ غلا، اختناق، وژنې او نورې ناروا چارې هم خپل شتون وخت پر وخت ثابتوي، څو موده دمخه یو وسله وال ګروپ د خیرخانې مېنې یو کور ته داخل شو، دوی غوښتل چې پر رڼا ورځ ددې کور یوه ښځه وتښتوي، سره له دې چې په دې کور کې پر دې وخت د کور مشر او کوم بل نارینه نه و، یو مېل وسله، همدا ښځه او تقریباً یو دولس کلن کوچنی موجود وو، کوچنی او ښځه چې د وسله والو کسانو په نیت پوه شول، نو کوچني وسلې ته لاس کړ، ددې وسله والو کسانو قوماندان یې مړ او څو نور یې ټپیان کړل او پاتې نور وتښتېدل. دا ډول پېښې نه یوازې په کابل کې دي، بلکې د هېواد په ګوټ ګوټ کې دې ته ورته پېښې هم ترسره شوي او تر سره کېږي.

د کابل ترڅنګ په ولایاتو کې هم د غلاوو، تالاوو او بدمرغیو بازار تود دی، د مثال په ډول:

د لغمان ولایت د الینګار ولسوالۍ د (سید کلا) نومي کلي کې د شپې د سپکې وسلې پرله پسې ډزې وشوې او بیا وروسته پته ولګېده چې: ((په نوموړي کلي کې یوه کور ته چې یو غړی یې ایران ته د مزدورۍ لپاره تلی و، څه پیسې رالېږلې وې، وایي چې غله له دې رازه خبر وو، نو د شپې درې تنه له

Downloaded from: ketabton.com

وسلو سره دې کور ته ور واوښتل، د کور مېرمن پرې ویښه شوه، غله د پیسو غوښتنه کوله، دې غیرتي مور هغه له اوږدو وښتانو ونیوه، وسله یې ترې واخیسته او راچپه یې کړ، غله سمدلاسه خپل بل ملګري ته چغه کړه ! هله وله یې چې مړ یې کړم او نه مې خوشې کوي، هغه چې کله ډز وکړ، نو خپل ملګری یې په ښه وویشت، غله چغه کړه: زه دې وویشتم ښځه پاتې ده، ښځې لکه زمری غوندې غل کلک له وښتو نیولی و او کشاوه یې، دې بل غله بیا ماشې ته ګوته وروړه، ماشینګڼه یې ضربه کړه او د ښځې له زړه او ګوګله ګولۍ ووتې. ښځې خپل روح خدای(ج) ته وسپاره او په ابدي خوب ویده شوه. غلو د شهیدې له منګولو څخه د غله وښته خلاص کړل او خپل ټپي یې پر شا واچوه، پکول، څپلۍ او کلاشینکوف ورڅخه پاتې شول او خپله وتښتېدل، غلو لا خپل ملګری تر یوه ځایه نه و رسولی چې ساه یې وخته، کله چې د لغمان چارواکي خبر شول، نو د غلو اقارب یې ونیول، د غله مړی ډېر ځنډ په لغمان ښار کې د عامو خلکو مخې ته پروت و او ټولو پرې لعنت وایه، د یوه کلي خلک هم حاضر نه شول چې په خپله هدیره کې د هغه مړی پر ښېږدي. داسې اوازې هم وې چې د غله مړی بیا په پټه په یوه باغچه کې ښخ کړای شوی و، خو کله چې خلک خبر شوي وو، د شپې څوک ور اوښتي و او قبر یې ورته لوڅ کړی و. د لغمان چارواکو هڅه کوله چې دده نور ملګري ونیسي او په عام محضر کې یې په سزا ورسوي، ځینې ګونګوسې وې، چا

Downloaded from: ketabton.com

وې چې غله يې نيولي دي، نن او سبا بـه ورتـه سزا ورکړ شـي، چـا وې چې تښـتېدلي دي، خـو تراوسـه پرېکـونې خبـره نـه ده شوې.

Downloaded from: ketabton.com

# کابل بیا په وینو ولمبل

دا لیکنه هم له پېښور څخه خپرېدونکې وفا جریدې د پنځم کال په ۲۵-۲۲ گڼه کې چې د ۱۳۷۵ل کال د چنگاښ له ۲۵ نېټې سره سمون خوري، د (نیازي) په مستعار نامه خپره کړې ده.

نن یو ځل بیا سېزل شوي او لمبه شوي کابل د خپلو بچیانو (سلو) جنازو ته اوږه ورکړه. دا لومړی ځل نه دی چې له دې ښار نه دومره جنازې پورته کېږي، دا څلورم کال دی چې هره ورځ د دې ښار د سیاسي سوداگرو ترمنځ د سرونو سودا کېږي، هره ورځ پر دې ښار د مرگونو سېلۍ گرځي او هره ورځ د غمونو یوه نوې ټکه راغورځېږي.

د کابل ښاریان هغه قربانیان دي، چې هم په جوړه کې زیان مومي او هم په جگړه کې. یو لیکوال د یوه ښاروي (پسه) له خولې لیکلي وو: ((زه نن ډېر خفه یم))، چا ورته وویل چې ولې؟ او په څه دومره پرېشانه یې؟. پسه په ځواب کې ورته وویل: ((خبر به یې چې نن زموږ د کلي د دوو لویو خانانو د پخلاینې ورځ ده. دا هغه خانان دي چې کلونه کلونه یو د بل وینو ته تږي ناست وو او یو د بل ډېر کسان یې وژلي دي. موږ ته پکې هم ډېر زیات زیان رارسېدلی و. خو نن نه پوهېږم د کوم مجبوریت له

Downloaded from: ketabton.com

مخې سره پخلا شول او يو بل ته يې د دوستۍ لاسونه ورکړل، نو ته ولې د دوی پر دې دوستۍ خفه يې؟ پسه پر خپلو شونډو يوه مړاوې او مرګونۍ خندا تېره کړه، ځنګه به خفه نه يم؛ د دې خانانو پخلاينه نن د ډېرو شاندارو مراسمو په ترڅ کې ترسره کېږي، هلته به يو خان بل ته د دوستۍ لاس ورکوي او يو بل به غېږ کې نيسي، کله چې دوی سره لاسونه ورکړل، نو د غه مهال ما د دوی په پښو کې حلالوي چې وينه تويه شي او نوره دښمني پای ته ورسېږي.))

کابل ښاريان چې د څه کم دوو لسيزو او په تېره بيا د تېرو څلورو کلونو د رنځورونکي ژوند درانه پېټي پر ملا کړوپ کړي دي. دا پېښه په ډېره ښه نظر ځارله، څو ورځې د مخه د خلکو په ذهنونو کې د کومې غميزې څرکونه لګېدل، زه هم د دې پېښې يو ليدونکی او شاهد يم. د کابل پوهنتون د ادبياتو پوهنځي په يوه ټولګي کې پر تدريس بوخت وم، د درسي ساعت تر پای ورو سته محصلينو وويل: چې مور سبا نه راځو! ما وې ولې؟: مور ته کورنۍ اجازه نه راکوي ځکه چې د توغنديو د لګېدو احتمال حتمي دی. کله چې د چهارشنبې ورځ پوهنتون ته لاړم، نو پوهنتون له محصلينو تش و، ډېر لږ شمېر محصلين راغلي وو. زه له پوهنتونه ښار ته د عامه کتابتون پر لور رهي شوم. سره له دې چې د توغنديو د لګېدو امکان راته حتمي برېښېده، خو د يو ضروري راسپارل شوي څېړنيز کار لپاره مې هلته تګ ضرور وګاڼه. د سهار ۹ بجې وې، د

Downloaded from: ketabton.com

اطلاعاتو او کلتور وزارت ته ورڅېرمه د بيهقي کتاب پلورلو غرفې ته چې ورسېدم، نو د دريو توغنديو لومړنی اواز مې ترغوږ شو، لږ تم شوم، بيا يې په نسبتاً لرې سيمو کې د لګېدو غږ راغی، بېرته راوګرځېدم، کله چې د پوهنتون تمځي ته راورسېدم، نو د نورو توغنديو د (ډم، ډم، ډم) غږ راغی، خلکو اخوا دېخوا لکه د مرغيو د بچيانو په څېر منډې وهلې، داسې لکه پر چنچڼو او يا هم د سيسيو پر بچيو چې باښه پرېوزي، ټول غلي غلي په دکانو او اخوا دېخوا ځايونو کې ننوتل. هر څوک (انسان) چې د کابل د خلکو دا حال ووينې، نو له سترګو څه چې له ذهن او زړه نه به يې هم ورته وينې او اوښکې وڅاڅي.

يو سرويس موټر په ډېرې وارخطايي په همدې تمځي کې ودرېده، په موټر کې پورته شوم او د پوهنتون پر لور رهي شوم، په لاره کې د توپونو د نورو پرله پسې ډزو غږونه راتلل او د اجل نيولو تر روحه يې ځان رساوه. کله چې پوهنتون ته ورسېدم، نو نيم ساعت وروسته يو چا دا خبر راوړ، چې د پوهنتون په تمځي (پل باغ عمومي) کې د دوو ټکسي موټرو ترمنځ توغندی ولګېده او دواړه له سورلۍ ډکو ټکسيانو اور واخيست او ټول پکې ايره شول. يوه بجه شوه، له پوهنتون څخه د عمليې په موټر کې د کور (کارګري قصبې) پر لور رهي شوم. کله چې موټر د خيرخانې مېنې پنځه سوه کورنۍ ښلور لارې ته ورسېده، نو يو زيات شمېر نتلي، سپېره او رنګ الوتلي خلک موټر ته راوختل، يو سپين ږيري سمدلاسه په توبو او سپکو پيل وکړ، چا لا پوښتنه هم نه وه کړې، چې ده د ښار د مرګ ژوبلې داستان

Downloaded from: ketabton.com

پیل کړ، سره له دې چې عمر یې خوړلی و، خو همدا یې ویل (من امروز تولد شدم امروز تولد شدم) زما ترشا څوکۍ کې یو بل رنګ الوتي ځوان هم دا فریاد کاوه، هغه د سرحدونو چارو وزارت کارکوونکی و، په بنده بنده ژبه یې وویل: په خپلو سترګو مې ولید چې زموږ د وزارت د یو مدیر سر د هغه له تنې غوڅ شو، هغه په مینوبوس موټر کې ناست و، چې د توغندي یوه ګرمه او سره پارچه یې پر ستوني ولګېده او سر یې ورته له تنې څخه جلا کړ. په موټر کې خلکو دې ناستو حاکمانو ته دومره بد ورد ویل چې په لیکلي بڼه یې قلم او کاغذ له دود سره سم نه شي زغملای.

کله چې له موټر نه کښته شوم، نو د وزیراکبرخان له روغتون څخه یو تن راغی، وویل چې: نن یې دې روغتون ته زښت ډېر ټپیان او مړي راوړل، د چا لاس نه و، د چا پښه، څوک پر یو ځای لګېدلی، څوک پر بل ځای، د یوه پښه لاندې زنګېدله او په چیغو چیغو یې ژړل. ډاکټرانو یوه خوا او بله خوا منډې وهلې، ټپیان ډېر زیات وو، یو ډاکټر چې د دې ماشوم او نورو زیاتو ټپیانو حال ولید، نو پخپله پرې ضعف راغی او له نورو ناروغانو سره یې ده ته هم سیروم چالان کړ.

Downloaded from: ketabton.com

# د قدرت د انتقال مساله

دا لیکنه هم د وفا جریدې د پنځم کال په ۲۷-۲۸ گڼه کې چې د ۱۳۷۵ل کال د زمري ۹ نېټې سره سمون خوري، د (نیازي) په بدل نامه خپره شوې ده.

څلور کاله کېږي چې په کابل کې د قدرت( ! ) د انتقال پر سر ټول هېواد لـه ستونزمن، دردمن او رنځوونکي حالت سره مخامخ شوی دی. جنگونه وشول، مرگونه وشول، جرگې وشوې، مرکې وشوې، دسیسې او معاملې وشوې، لـه جلال اباده تر اسلام اباده، له کابله تر پېښوره، او ان تر لوړې کعبې شریفې پورې عهدونه وشول، قسمونه وخوړل شول، سوگندونه یاد شول، پر قرآن لاسونه کېښودل شول، دا وشول او هغه وشول او... خو دا ټول یو په بل پسې په اوبو لاهو شول، د ملت هیلو، غوښتنو، اتلولیو او د ولس ټول پاتې مادي او معنوي شته د ایرو او خاورو پر ځلو بدل کړای شول.

له ظاهري پلوه دا ټول زیانونه د قدرت پر سر پر پاتې کېدو، د کابل د چارواکو ټینگار او د دوی د راپرځوني لپاره د دوی د مخالفینو د هڅو په پایله کې رامنځته شوي دي. په اساسي مانا خو په افغانستان کې حکومتي ځوک د ۱۳۷۱ لمریز کال د ثور پر میاشت د یوې دسیسې په نتیجه کې چې خپله

Downloaded from: ketabton.com

چـاروا کي يـې هـم دا دې تـو طيې غـړي وو ، وپاشـل شـو او برخـه برخـه د جهـادي تنظيمونـو لاسـته ورغـی. د اوسـنيو چـاروا کو برخه هم پـه دې وېش کې د يـاد وړ وه او د دوی برخـه پـه دې هـم درنه شوه چې د دولـت( ! ) نـوم ورتـه ورکړ شـو. دغـه راز روسـي چاپ افغاني بانکنوټونه چې نور (تنظيمي حکومتونه ) ترې بې برخې وو ، روسانو دا (**نعمت**)( ! ) پر دوی ولوراوه.

چاروا کي په دې نظر وو ، چې له قانوني او نـا قـانوني لارې بـه د خپلو لاس لرلـو وسلو او بې پشـتوانې نوټونـو پـه زور خپـل مخالفين ژر له منځه يوسي، بيا نو که هر ډول اداره وي، د دوی مخالفين به نه وي او ((ولس به له يوه انجام شوي عمل سره مـخ وي ) ) خو داسې ونه شول، د مخالفينو د مخالفت په نتيجه کې کـه پخـواني مخـالفين کمـزوري او لـه دوی سـره يـې يوځـای سياسي حيثيت ختم شـو ، نـو نـوي او تـازه دم مخـالفين پيـدا شـول او ان تـر دې پـورې چې د چـرې څو کـه يـې د چـاروا کو تـر غـاړې ورنـږدې شـوه ، همدې فشـارونو چـاروا کي پـه اصـطلاح اسـتعفی کولـو تـه جبراً متمايـل کـړل، دغـه او هغـه نېټـه، دغـه ورځ او هغه ورځ به يې د خپلې استعفی نېټې وټاکلې، خو هغـه ورځ چې به رانږدې شوه ، بيا به يې پرې وفا ونه کـړه. پـه حقيقـت کې خو خبره دا ده چې چـاروا کي نـه اسـتعفی کـوي او نـه دې تـه حاضر دي او نه هم د استعفی کولـو پـوره وس لـري، اوس راځـو دې تـه چې ايـا چـاروا کي بـه دا خوندونـه او دا خزانـې بـل چاتـه پرېږدي؟؟

Downloaded from: ketabton.com

د ویـل دورانـت امریکـایي پـه قـول: ((اپلاتـون بـه ویـل چـې د وروسـتـه پـاتې ټولنـو د اداري لپـاره اشـرافي او دکتـاتوري حکومتونه په کار دي)) لـه اشرافي اشخاصو څخه د اپلاتـون مقصد دا و، چې د دوی زیاتې غریزې مخکې تر مخکې مرفوع شـوې وي او دکتـاتوري یې د یـوې وسیلې پـه توګـه د دې ډول ټولنـو لپـاره ځکـه غـوره ګڼلـه، چـې وروسـتـه پـاتې ټـولنې لـه دکتاتورۍ پرته نه شي کنټرولېدی او زیاتـه دموکراسي کېدی شي هغو ته په انارشي بدله شي.

کله چې موږ د ځینو چارواکو فردي شخصیت ته ګورو، نو پـه هغه کې د یـو سیاسي شخصـیت ډېرې نیمګړتیـاوې ترسـترګو کېږي: یو دا چې دی له فکري او روحي پلوه دې حد تـه نـه دی رسېدلای، چې څوکۍ دې تر خپل شخصیت ټیټه وګڼي. اوس هم پر خپل شخصیت هر ډول داغونو ایښودلو تـه تیـار دی، خو مقصد چې دی پر دې کرسۍ پاتې شي، ځکـه چې دا چـارواکي د ټـولنې لـه یـو ډېـر ټیـټ قشـر څخـه دي. نو هغـه څوک چې د اقتصادي محرومیت دغسې ټکلې غریزه ولري ایـا دا خزانـې چې اوس دی پرې ناست دی، ملت ته پرېږدي؟ د کابل ښار خو لا څه چې یو ازې دوه سپین تعمیرونه او دا ډول د پیسو خزانې ورسره وي. هېڅکله بـه یې چاتـه پـرې نـږدي، نـوم بـدوالی او د شخصیت کوم سپکاوی چې د هغو د کړنو پـه نتیجه کې هغـوی ته په برخه شوی، هغه باندې خو اوس د چا خبره سر هم نه ګروي ((اوبه چې په سر واوښتې څه یوه نیزه څه لس...)) لـه دې پرتـه

Downloaded from: ketabton.com

کوم ځيز چې د چارواکو پـه فکر او شخصيت کې پـه عملي، ذهني او ضمني ډول ليدل کېږي او زموږ د ولس د ګټو خلاف او د کرکې وړ دی، هغـه د هېواد د اکثريت قـوم پـر وړانـدې د کينې او تعصب درلودل دي.

کوم کسان چې د ځينو چارواکو پر شاوخوا راټول دي، هغوی ټـول خپلـه ګټـه او ژونـد پـه همدې جګړه کې وينـي، ځکـه چې اوس نه کوم قانون شته، نه کوم پارلمان، نه کومه پوښتنه او نـه کومه ارزونه (ارزيابي). يو چارواکي په (د افغانستان بانـک) کې يو ځانګړی حساب (۹۰۰۰) باب پرانيستی او دا د ده داسې باب دی، چې د پيسـو د لګښـت وجه يې څرګنده نه ده. داسې مياشت هم راغلې، چې يـوازې لـه دې بـاب څخه يې لـه لس زره مليونو نه نيولې تر پنځه لس زره مليونـه افغـانيو پـورې پيسـې بېلابېلو اشخاصو ته ورکړې دي، نـور حسـابونه د پيسـو خـو لا څه کوې، هلته بل چارواکي ځانته بله پاچاهي جوړه کړې ده. د پيسـو اصـلي ټولـواک هغـه دی. پيسـې لـه مسـکو نـه د بـاګرام هوايي ډګر ته راځي، څه چې يې زړه وي هغه هلته ستنوي او څه چې پـه کابل کې پکـارېږي، هغـه هلتـه لېـږي. لـه دې پرتـه ځينـې نور هم د پيسـو د وېش صلاحيت لـري. نـو اوس کـه ځيـر شـو پـه هېڅ يو ملک کې هېڅوک د پيسـو د داسې وېش صلاحيت نـه لري، نو ايا چارواکي له دې خزانو څخه څنګه پورته شي؟

هسـې د خبـرو او مـذاکرو لـه لارې د خبـرو سياسـي حـل يـو انسـاني اصـل دی او اکثـره اشـخاص هـم ظـاهراً پـه اخبـارونو،

Downloaded from: ketabton.com

مرکو او خبرو کې د تفاهم او خبرو اترو له لارې د قضيې حل غواړي، ان چارواکي هم د سولې له لارې د خبرو فيصله کولو ويناوې کوي، خو په زړه کې خبره بله ده.

ځينې چارواکي او هم نور اشخاص په خپلو زړونو کې ښه پوهېږي، چې دا اشخاص هېڅکله له خپل دې او سني حالت نه لاس نه اخلي، خو بيا هم په متحد المال ډول او د سياسي نزاکتونو (!) لپاره جګړه مار هم د سولې خبرې کوي او سوله دوست هم. که واقعيت او حقيقت ته پام وکړو، له سياسي نزاکتونو څخه سياسي واقعيتونو ته مخ راواړوو، نو وبه وايو چې له دغو لارو چارواکي سقوط نه شي کولای ؟ له هرې ممکنې لارې د بې پشتوانې روسي چاپ افغاني بانکنوټونو بندول او يا له هغو څخه د ځينو چارواکو د لاسونو لنډول د دې ادارې د سقوط عوامل کېدلای شي.

Downloaded from: ketabton.com

# یرغمل شوی ولس

دا لیکنه د وفا جریدې د پنځم کال په ۳۵-۳۶ گڼه کې چې د ۱۳۷۵ال کال د تلې له ۹ نېټې سره سمون خوري، د (نیازي) په مستعار نامه خپره شوې ده.

څه کم پنځه کاله کېږي، چې د کابل پر ښار باندې د بېلابېلو جګړه مارو ډلو او تنظیمونو بېلابېله او پرله پسې تنظیم واکې تېره شوې او تېرېږي. په دې موده کې په ښار کې تقریباً ټوله ملي شتمني او د ښار د خلکو اکثره شخصي شتمني د جګړه مارو ډلو له خوا چور شوې او یا له منځه وړل شوې ده.

په کابل ښار کې اکثره جګړې ((د کابل د دفاع))(!) په نامه ترسره شوې. هرې ډلې باندې به چې د بلې ډلې له خوا توغندي وویشتل شول، نو هغوی به دا بله غاړه ملامته کړه، چې پر کابل یې توغندي ویشتلي. که څه هم د دوی د ((دښار د دفاع))(!) توغندي هم پر همدې کابل لګېدلي، خو دې غاړې به د ښار بله غاړه او سیمه چې دمقابل لوري په لاس کې وه، د کابل څه چې بېخي د افغانستان برخه نه ګڼله. د ساري په توګه د ۱۳۷۱ کال د ثور میاشتې پر ۴ یا ۵ ورځ د کابل له واکوالو څخه دوه تنه یو بل ته د مخابروي خبرو اترو په ترڅ کې اخطار ورکوي چې کابل ښار ته خپلې لښکرې راونه لېږي که نه دی به د کابل له ښار او خلکو څخه ((دفاع))(!) وکړي. همدارنګه یو

Downloaded from: ketabton.com

بل حزب د خپل ځان دفاع، د کابل د غرب د خلکو دفاع ګڼله او همدارنګه نورو بېلابېلو تنظیمونو ترخپل لاس لاندې سیمې د خلکو د سر ومال د ساتنې او دفاع په نامه تر خپل واک لاندې ساتلې، خو حقیقت دادی چې ددې ډلو د موجودیت او ((دفاع))(!) په وجه د کابل هره برخه ویجاړه او هر ډول شتمنۍ چور او وسېزل شوې. د خلکو سر ومال، عفت او عزت ته درانه زیانونه واوښتل. عجیبه خبره خو دا وه چې د خلکو کورونو د دفاع په نامه د هغو کورونه چور، د سر او مال د ساتنې په نامه د هغو سرونه غوڅ او مالونه چور او عفت یې لوټ شو، خو د دفاع(!) هېڅ ډول پته ونه لګېده، خو که فرض کړو دا ((دفاع))(!) هېڅ نه وای، نو د کابل خلکو ته به څه زیان اوښتی وای؟ څرګنده خبره ده چې نه به څلوېښت زره ښاریان مړه شوي وای، نه به یو ملیون وګړي مهاجر شوي وای، نه به تقریباً اتیا زره کورونه او دوه زره لویې او وړې فابریکې او دستګاوې له منځه وړل شوې وای. عجیبه خبره خو دا وه چې د کابل ښاریانو څخه دا حق هم اخیستل شوی و، چې دوی په ډاګه ویلي وای چې ستاسو له ((دفاع)) نه مننه، خو موږ پرېږدئ چې په همدې بېدفاعۍ کې ژوند وکړو. کله کله خو داسې هم پېښ شوي، یوازې هغه سیمې چې د چارواکو تر ولکې لاندې وې، د کابل د ښار په نامه یادېدلې. مثلاً که د تنظیمونو له خوا به د ښار پر منځنۍ او یا شمالي برخه توغندي وورول شول، نو د کابل له راډیو څخه نیولې بیا تر

Downloaded from: ketabton.com

نورو بهرنیو راډیوګانو پورې تړلو به پر کابل د توغندیو خبر خپور کړ، خو کله چې به د کابل چارواکو د کابل پر دربېمې کارتې، جمال مېنې، سید نورمحمد شاه مېنې، رحمان مېنې، شاه شهید او ان پر زرګو مکروریانو توغندي او د الوتکو بمونه وورول، نو بیا به په هغه تېر څرنګوالي سره دا خبر نه خپرېده. د کابل هغه برخه چې د چارواکو ترلاس لاندې وه، د هغو ویاند به ویلې چې: ((د کابل دفاع))(!) زموږ حق دی. هغوی کابل همغه سیمه ګڼله چې د دوی تر واک لاندې وه. دوی د کابل د جنوب، جنوب ختیز او جنوب لویدیز ورانول د کابل دفاع ګڼله.

چارواکو یو ځل بیا د کابل ښار او د هغه ولس، د خپلې ساتنې او ځان پټونې وسیله وګرځوله. دوی د ښار د ګڼ مېشتو سیمو په منځ کې درندې او وژونکې وسلې ایښې او هره شېبه د مخالفینو پر مورچلو ګولۍ وروې. کله چې هغوی هم د دوی په شان عمل ترسره کړي، نو دوی یو ځل بیا چیغې پورته کړې چې دا دی ښار یې وویشته او ولس یې تباه کړ، خو خپله یې چې د کابل ولس د یرغمل په څېر د خپلو توپونو او ټانکونو مخ ته ودرولی او تر شا یې پر خپل رقیب ډزې کوې. هغه خپل حق ګڼې. اوس د کابل ښار شاوخوا پرتې سیمې په ځانګړې ډول هغه سیمې چې هغه د مخالفینو لاس کې دي، هغه د دوی په نظر د افغانستان خاوره نه ګڼل کېږي او نه هلته افغانان اوسېږي، د هغو سیمو ورانول او ویشتل دوی ته هېڅ دي.

Downloaded from: ketabton.com


اوس یو ځل بیا د کابل ښار او د هغو د اوسېدونکو کورونه د مورچلونو حیثیت لري، چې له دې ځایه د دې ښار چاروا کي پر خپل دښمن ډزې کوي، خو هغوی پر دې ځای د ډزو کولو له کبله ګناهکار دي. د کابل ښاریانو ته یو ځل بیا دا سوال پیدا کېږي، چې د دې ((دفاع ))( ! ) ازرښت به څه وي، چې زموږ د کورونو له بامونو مو مورچې جوړې کړي او موږ ټول دې د خپل توپ مخې ته د یرغملیانو په شان ودرولي یو او ځان دې زموږ ترشا پټ کړی دی؟ مهرباني وکړه یا وړاندې لاړ شه او یا شاته لاړ شه ! موږ له دې ((دفاع ))( ! ) څخه په نه دفاع خوښ یو.

Downloaded from: ketabton.com

# غني، غني دی

> دا ليکنه له کابله خپرېدونکې (هنداره) جريدې د ۱۳۷۵ل کال د غويي پر ۱۲مه په خپله اتمه ګڼه کې خپره کړې ده.

کله چې د پښتون ملت د سترې ژوند د تاريخ پاڼې را اړوو، نو وينو چې دې کړېدلي، دردېدلي، سوزېدلي، خو ويارمن ملت د څومره غميزو توپانونه زغملي او زغمي يې. څومره چې د طبيعت ناخوالې او کړاوونه زيات شوي، همغومره لوی څښتن تعالی دې ملت ته د تورې او قلم داسې ډالۍ ښښلې، چې د هر يرغل او هر توپان پر وړاندې يې خپله شمله هسکه ساتلې ده.



که يو وخت د امير پولاد سوري زوی؛ امير کروړ جهان پهلوان په يوه تن له سلو جنګاورانو سره جنګېده او د غور پر غرونو به ((زه يم زمری پر دې نړۍ له ما اتل نسته- پر هند و سند و پر تخار و پر کابل نسته- بل پر زابل نسته- له ما اتل نسته)) پرتمينه سندره زمزمه کېده، غرج و باميان، تخار و

Downloaded from: ketabton.com

هرات د ده د تورې د ځلا ، پوهې او لوريښې تر سيوري لاندې ژوند تېراوه او ان تر ((رومه)) پېژندوی و ، نو بل وخت خو بيا سلطان شهاب الدين غوري او شېرشاه سوري د پښتنو د عظمت او پرتم بيرغ د نړۍ د ((سرو زرو مرغۍ)) او ((خم)) (هندوستان) په زړه کې ورپاوه.

که يو مهال (هوتک بابا) پښتانه زلمي د مغولو د يرغل پر وړاندې د خپل هېواد د پت ساتلو لپاره ننګ ته رابولي:

((پر سور غر بل راته نن اور دی- وګړيه جوړ راته پيغور دی
پر کلي کور باندې مغول راغی- هم پر غزني هم پر کابل راغی
آه د مرغې غښتليو راسئ- پر ننګ ولاړ د پښتونخوا سئ
تورې تېرې غشي تر ملا سئ- پر کلي کور باندې مغول راغی))

نو بل وخت خو بيا (روښان پير) هم د پرديو پر وړاندې د خپلې پوهې، همت او غيرت رپۍ اوچت کړی دی.

که يو وخت (ايمل خان) او (دريا خان) له مغولو سره په تاترو کې ډغرې وهلې او خان علين مکان (لوی خان خوشال خان خټک) د لويې پښتونخوا په غرونو کې د خپلواکۍ د باز او

Downloaded from: ketabton.com

شاهین وزرې خورولې او په همدې هیله له یوه ځولۍ ارمانونو او هیلو سره د داسې غره په لمن کې ځان له ابدیت سره یوځای کوي، چې د مغولو د سورو د اسونو گرد، دده پر قبر پرېنوزي، نو بل وخت یو بل لوی پښتون (میرویس نیکه)(رح) د پښتنو د برم شمله اوچتوي، د گورگیانو د وحشت برجونه نړوي، تر اصفهانه د پښتنو د واک عظمت خوروي او بیا پخپله (شاه حسین صفوي) خپل تاج له افغان فاتح (شاه محمود هوتک) سره غوره بولي.

که یو وخت نادر افشار د پښتون اتل سیدال خان ناصر سترگو ته چې د نور او غیرت سپرغۍ ورڅخه بادېدلې مخامخ کتلی نه شول او دواړه غبرگې سترگې یې د دوو په اور سرو دوکانو پواسطه ورڅخه را ایستلې، نو بل وخت غیرتي او لوی احمد شاه بابا تر ډهلي پورې د خپل پت او ابرو (پاني پت) جنگ ورساوه او د ایران د نیولو لپاره به خو په ((ډول په نغاره)) او خوشالۍ سره روان و.

خان عبدالغني خان د دغه ویاړمن او باتور ولس یو جنگیالی او فرهنگیالی استازی دی. غني په یوه داسې کورنۍ کې سترگې پرانیستي، چې د خپل ولس د ازادۍ لپاره یې شپه او ورځ پر ځان یوه کړې وه. غني له خپل بډایه شاعرانه فطرت سره په همدې گرم سیاسي چاپېریال کې ځوان شو، شاعر شو، مصور شو، جنگیالی شو، فلسفي شو، ((لېونی)) شو او د ژوند د ډول ډول ناخوالو جامونه یې پر سر واړول.

Downloaded from: ketabton.com

غني لا کوچنی و، چې له شعري مرغلرو ډک تخیل او شاعرانه فطرت یې زړګی وتخناوه، پر ښکلا یې مین کړ، پر ګلونو یې مین کړ، له مینې سره یې مینه وکړه، خپل روح او روان یې د مینې د زمزم په اوبو وو ینځه او د جام تر سیوري لاندې یې د قام د ارمانونو سندرې وو یلې:

((زهر یې څکل حرام ورته کتل بې مینې ژوندون دی، لکه بې سُر ستار))

غني د خپلې مینې لپاره د ښکلاک په (پنجره) کې ډېرې چغې ووهلې، د زړه له وینو یې ((پلوشې)) جوړې کړې او خپله ورته (پانوس) (پانوس) شو.

کله چې د غني فردي، کورني او ادبي ژوند ته پام را اړوو، نو په لومړي ګام کې خو د سړي په سترګو کې دا تصویر تېروبېر کېږي، چې غني ګنې په یوه مجلله- وړانګینه کورنۍ کې زېږېدلی، له دردونو، غمونو، کړاوونو او د زمانې له ربړونو څخه ګوښی پاتې شوی دی. د غني انځور ورته په یو داسې بڼه تداعي کېږي، چې یو ښکلی اشرافي شخص د سرو ګلونو په منځ کې د ورېښمین تخت له پاسه قلم په لاس د شعر ناوې جوړوي، په څنګ کې یې صراحي او جام ایښي او غني یوازې د شاعرانه تخیل په دریابونو کې ډوب دی، هو د غني په ښکلا او ښایست کې خو هېڅ شک نه شته: ((ډېر ښکلی و او د مور و پلار ډېر نازولی و. پر غاړه به یې د سرو زرو درنه اوربۍ وه او پر

Downloaded from: ketabton.com

ښي غوږ به يې د سرو زرو والۍ وه، پر سر به يې تيله داره د پونډونو ډکه ټوپۍ او په ټوپۍ کې به يې يوه زرينه جوغه ټومبلې وه، چې د جوغې نه چاپېر به دوه درې د نظر ماتې تاويزونه تاو شوي وو.)) هو غني ښکلی و، د هغه په ښکلا د ډهلي، پاريس او لندن ښاپېريو زړونه بايلولي وو.

هغه له کوچنيوالي ډېر ښکلی و، خو د غني د ټکلي، سوزېدلي او غمځپلي زړه او روح څخه هغه وخت څوک ښه خبرېدی شي، چې په ورځو ورځو او شپو د غني د تخيل، اند او فکر په لوړو او ژورو کې د يانه(سفر) تکل وکړي.

غني غني دی، هغه د پښتو ادب يو داسې ناسپړلې خزانه ده، چې سپړل يې لا ډېر وخت غواړي او ژور فکر. کله چې د غني په نړۍ کې سفر کوو، نو لومړی غواړو د هغه زړه ته ننوزو او وګورو چې د غني د سرو ټپونو په دې کان کې څومره سکروټې او اورونه پراته دي.

د غني زړه چې د مينې له ګلونو ډک دی، تر هر څه دمخه خپل زړه د لوی خدای(ج) کور ګڼي، هغه د خپل زړه په هنداره کې د لوی خدای(ج) د قدرت وړانګې ويني او دا هغه څه دي چې ده په بل ځای او مکان کې لاسته نه دي راوړي.

په جومات کې مې ونه موند- په مکه کې رانه ورک شو
خدای مې زړه کې راپيدا شو – چې مې مخ د يار کړ ښکل
دا هغه فکر او اند دی چې پر خدای پالنې ډېر ګروهمن(عقيده

Downloaded from: ketabton.com

من) پوهان په دې نظر دي او (زړه) د مينې د پالنې او روزنې ځای او ساتنځای ګڼي.

غني د يو خوځند، حساس او دراک انسان په توګه د ژوند د ډېرو رمزونو راز ته متوجه دی، دی ژوند له غم او خوشالو، ګډه او له خندا څخه يو رغېدلی څيز بولي.

د لرغوني يونان د اتيکا دورې يو نامتو ډرامه ليکونکی (اشايلوس) وايي: ((په ژوند کې بايد په هر غم پسې يوه ښادي او په هرې ښادۍ پسې يو غم راشي، چې د ژوند پاڼې مانيزې او رنګارنګ کړي.))

غني وايي:

چې په ژوند کې سختي نه وي – لکه بې مالګې طعام
چې په خوله کې خندا نه وي – لکه ډک د خاورو جام
ژوند نه خټه نه ماڼۍ وي – نه ډېرۍ د سرو لالونو
نه ياران نه معشوقې وي – نه باغونه د ګلونو
ژوند خو تله دي يو په مخه – غورځېدل او پاڅېدل دي
ټکی سوز او ټکی ساز – څه خندل دي څه ژړل دي.

قومپالنه او پښتونپالنه د غني د ژوند او شاعرۍ يو بل اړخ دی، د هغه د ځوانۍ په ژوند چې کله د پسرلنيو بارانونو وربېدل پيل شول، نو له دې سره جوخت يې کورنۍ د خپلواکۍ د ګټلو او د ښکېلاکګرو له جغ نه د خپل اندو ژوند د ازادولو لپاره سياسي مبارزه هم ښه په ګرمۍ سره روانه کړې وه. غني د

Downloaded from: ketabton.com

خپلې ځوانۍ شپې هم له همدې ایډیا څخه لوګی کړې ((د زلمي پښتون)) په نوم یې یو تحریک جوړ کړ، چې شاوخوا اتیا زره ځوانانو په کې ګډون درلود.

لکه څنګه چې د غني شعري سکښت او د ده د کلام له رواني او روحي مانا څخه ښکاري، غني د ګرمې وینې او ګرم احساس څښتن او رواني جوړښت یې د عامو پښتنو له جګړه ییز سایکلوژیک جوړښت پوره سمون درلود، نو د (عدم تشدد) د لارې په انډول یې د تورې په زور د دښمن ماتې غوره ګڼله، نو له دې کبله دده د اورني پښتني احساس، او د زړونو د پاچا (باچاخان) د عاطفې او احساس د ټکلارو ترمنځ ټکر منځته راغی. غني خان د خپل پلرني احساس او مینې تر سیورې لاندې خپله توره په ناهیلي زړه کېښوده او د شعر د نړۍ روحي ډاډ ځي ته یې پناه یوړه.

وايي پر هر چا چې غم زیات شي، نو دریو شیانو ته به مخه کوي: یا به شرابي کېږي، یا به لېونی کېږي او یا به شاعرۍ ته پناه وروړي.

نور غني هغه غني نه و، چې چا په پاریس، لندن او امریکا کې لیدلی و او نه هغه غني و، چې په ځوانه ځوانۍ کې د هند پارلمان ورته په یوه پښه ولاړ و. غني د قام د غمونو د هېرولو لپاره لکه خیام د جام سیورې ته پناه وروړې وه، اوس نو یوازې غني و او جام، د تخیل په وږمو پوښلې شاعرانه نړۍ او د خپل قام او ولس غمونه:

Downloaded from: ketabton.com

خدایه شکر چې پیدا دې له دې قام کړم
د پښتون د نر وجود دې یو اندام کړم
چې خړ مخی وروړ پښتون سینې له درشي
درنه هېر به تول ښایست د بحرو بر شي

په والله چې له جنته شم راستون
که کنځل په کې وانه ورم د پښتون.

لکه څنګه چې ښکاره ده، شاعر د عاطفې او احساس بچی دی، غني هم په خپل فردي ژوند کې د پلرنۍ - مورنۍ، مینې او عاطفې په سمندر کې ډوب و، د باچاخان عاطفي نړۍ، د غني د روح او روان تول مزي دا سې سره تړلي وو، چې د هغه ګرمه وینه او یاغي احساس یې مهار کړي وو. هغه د خپلې پلرنۍ مینې په څپو کې ډوب وو:

بابا ته:

ستا خطونه تول زما سرته پراته دي
زه یې لولم هره شپه دوبار دوبار
کله خاندم کله ژاړم لېوني یم
ای زما په بند کې پروت غریبه پلاره!
نه، ته نه یې غریب ته ډېر لوی او چت یې
مصیبت دی ستا عزت ته عزت داره
خدای به رحم و په تا باندې لږ کړي

Downloaded from: ketabton.com

بــل ښــه زوی بــه یــې و کتلــی ســتا د پــاره
چې په تا کې کوم جوهر دی ما کې نه شته
ســتا نیکــی زمــا بــدی دواړه بــې شــماره
تــه ســالار یــې د کــاروان پــه نېغــه لار ځــې
زه کـــوږ ځغلــم لکـــه اوښـــه بـــې مهـــاره
ســـتا د زړه فـــواري ډکـــې دي د مینـــې
زمـــا زړه دی وچ کـــوهي نـــه لـــري داره
وهــي منــډې تــا پســې خــو تــه هــم لــرې
ویـــنم ســـتا ایلـــه ایلـــه د پښـــو غبـــاره
پـروا نـه شـته کـه پـه منـډو منـډو مـړ شـم
فقــط ســتا او د خپــل قــوم د نــوم د پــاره.

غني لکه څنګه چې دی د پلار په عاطفي مینه کې ډوب دی همدارنګه د مور د غم هغه تپ چې ده د خپل عمر په ۵ کلنی کې لیدلی و، د ژوند ترپایه ورسره ملګری و.

ګر چې خاورو کې دی پټ وجود ستا مورې
مــا تــه یادې هغه شان ستا سترګې تورې
مـــورې ! ســـتا لاســونه ما نــه نه دي هېر
چــې تکلــیف کــې بــه زمــا نــه و چــا پــېر.

غني د یو مصور او انځورګر په توګه دا ځواک درلود، چې د یو ټاکلي تخیل د زخمونو فوارې انځور کړي، د خوب شېبې په

Downloaded from: ketabton.com

وینښه راواړوي او هغه څه چې په خولې نه شي ویل کېدی، د خوب په جامه کې د کاغذ پر مخ ترسیم کړي.

غني د (فریدون د مورخط) تر سرلیک لاندې په یو ښکلي شعر کې د خپلې مېرمنې د ښځینه احساس هغه نا ویلې او نا سپړلې عاطفي غوټې په شاعرانه ډول سپړلي چې تراوسه لا په پښتني ټولنه کې د ښځې د اندروني احساس او درد بیان، یا د ښځو د نالوستوب، کملوستۍ او نا بشپړ کلام له کبله او یا هم د حیا او شرم د اور تر کړیو لاندې، همغسې په خپل زړه کې ساتل کېږي.

غني دا درد او د زړه خواله د خوب په ښه انځور کړي او د یوې پښتني مېرمنې د زړه د دردونو پوره عکاسي یې کړې ده:

هغه وایي: ((دا زما د واده په دولسم کال په ۱۵ تاریخ د جون د میاشتې ۱۹۵۱ زما صرف یو او یوازنی زوی فریدون ((رستم جنګ)) پیدا شو. د هغه مور د پېښور په هسپتال کې وه او زه لرې په هزاره کې ناجوړ پروت وم. هر وخت به چې د کوټې د دروازې په مخکې یو تور بدرنګه ټوپک او سنګین په لاس پولیس ولاړ وو. ټول جهان تور او تاریک وو، د وجود د ناجوړتیا سره مې روح هم د مایوسۍ اخري مقام ته رسېدلی و چې ناګهانه خبر راغی چې زوی دې وشو. ما وی ښه ده غني روک خو یې میرات خو نه یې.

ددغې ورځې د درد او د خوشالۍ بیان زه نه شم کولای، خو درد او خوشالۍ دواړه انسان ډېر ستومانه کوي او چې اخر مې

Downloaded from: ketabton.com

ستر ګې د هوش دنیا ته پټې کړې، نو څه وینم چې د فریدون مور راغله او ماته یې یو خط په لاس کې کېښود.

دا هغه خط دی:

مـا د دوو لپـو خـاورې تـا لـه ژونـد او جهـان جـوړ کـه
خپلـې مینـې دا سـې یـوړم بـل مـې تاله جانـان جـوړ کـه
دا چـــې زه د وفـــا ډکـــه د جنـــون جهـــان لـــه لاړم
دا مـــې لال هغلتـــه ومونـــت د همـــه لالونـــو ښـــکلی
دا زمـــا د غـــرور نخښـــه د هغـــو ګیلـــو جـــواب دی
چـې بـه تـا پـه مابښـامي کـې ماتـه کـولې غلـې غلـې
دا ثبـــوت زمـــا د مینـــې د ایمـــان او د وفـــا دی
دا زمـا روح چـې روښـان شـو ، دده سـترګې یـې کـړې بلـې
دا تصـــویر زمـــا د ژونـــد دی څـــه خنـــدا ده څـــه ژړا ده
د شـــهبازو وزر شـــخ دی پوســـت ســـرونه د بلبلـــې
دا ثبـــوت د شـــاه د مینـــې، دا ازادي ده د غـــلام
دا انعـــام د ټولـــو ښـــکلی د همـــاو رنګینـــی جـــام
دا تعبیـــر ســـتا د خوبونـــو او زمـــا د مـــخ ارمـــان دی
مـا جـوړ کـړی د خپـل ځانـه ښـکلی عکس سـتا د ځـان دی
پـه صـحرا مـې وو خـور کـړی سـور څـادر د ګلسـتان دی
هـره سـاه کـې مـې لیکلـی نـوم د مینـې د جانـان دی
دا چـــې زه ســـتا د خوبونـــو د جنـــون تـــالاش کـــې لاړم
ستا خانۍ له مې جوړ کړی ستا نه ښه غوندې یو خان دی
دا چـــې مـــا ســـتا وزرونـــو کـــې ارمـــان د عقـــاب ولیـــد

Downloaded from: ketabton.com

دا عقاب مې ستا نه جوړ کړ، هم عقاب هم يې ارمان دی.

غني لکه هر شاعر پر حسن مين دی او دی په دې لاره کې دومره بې پروا دی چې هر څه په ډاګه وايي. شاعران ټول حسن پرست دي، يو شاعر وايي:

يار مې د سپين ستوري په څېر خوښېږي
لاس مې سپوږمۍ ځنې چاپېر خوښېږي
شاعر سړی يمه رښتيا به وايم
دا ښکلي نه دي، دا مې ډېر خوښېږي.
(کاروان)

غني هم د خدای(ج) له درباره د خپل جانان د ټيک لپاره د سپوږمۍ يو ځاځکی غواړي، هغه د نور څه وړی نه دی، هغه له مينې جوړ او پر حسن مين دی.

يو د سپوږمۍ ځاځکی درنه ټيک له د يار غواړمه
زه يم د خوبونو د لالونو ګدا نه يمه.

غني، مينه د (ادم) جوهر او حسن د ژوند رنګ بولي او لکه استاد الفت چې مينه د انساني ژوند د کړاوونو د خلاصون اساسي لاره ګڼي، هغه د مينې او مينتوب په باب په خپل يو نثر کې ليکي: سکندر له ډېر لوی لښکر سره د يوه ښار د نيولو هڅه وکړه، د ښار خلکو سخت مقاومت وکړ، سکندر ډېر په غوسه و او دا سې معلومېده چې د ښار تر نيولو وروسته به د ښار ټول خلک له تېغه تېر کړي، کله چې ښار ته د ننه شو په يوې ښکلې پېغلې يې سترګې ولګېدې، هغه زړه بايلود او

Downloaded from: ketabton.com

څنګه چې جنګ په زړه کېږي، نو هغه زړه بايلولی و. سکندر ددې پېغلې د مينې او ښکلا په وجه د ټول ښار وګړي وبښل.

غني هم په مينه کې ډوب او پر ښکلا مين، مينه وړی شاعر دی، هغه ښکلا يو سمندر، سپوږمۍ او زهرا بولي او مينه د ادميت جوهر او بې زواله حقيقت.

او تپوس د حسن مه کړه - سمندر شي ځوک تللی ځوک سپوږمۍ شي رانيولی - ځوک زهرا شي ښکلولی. دی وايي:

((حسن حسن لټومه - که په غرو يي که په سمه
زه په مينه مينه پايم - بې د مينې مرمه مرمه))

✲✲✲

ستوري ته اسمان کې يوه ورځ ووې هلال
خدای ادم له مينه ورکړه مونږ له تش جمال
زه به په خندا ورکړم دا خپل ښايست کمال
ما له که يو څاڅکی مينه راکړي څوک په سوال.

Downloaded from: ketabton.com


# ننګیال یو شاعرانه شخصیت

دا لیکنه ما د اسحق ننګیال د زوکړې د څلوېښتمې کلیزې په
ویاړ کړې وه او په هغه علمي غونډه کې هم اورول شوې وه، چې
پر ۱۳۷۵ل کال د ننګیال د څلوېښتمې کلیزې په ویاړ د لیکوالو د
ټولنې له خوا په کابل کې د هغې ټولنې په مقر کې جوړه شوې وه.
دا لیکنه هغه مهال له کابله خپرېدونکې هنداره جریدې د
۱۳۷۵ل کال د چنګاښ پر ۲۸مه په خپله یوولسمه ګڼه کې هم
خپره کړې ده. ددې لیکنې د لیکلو پرمهال مې له ننګیال صیب
سره ټوکې کولې، ما ویل کلیزې ملیزې دې مه نیسه چې بیا د
مرګي درته پام کېږي، اوس خو یې هېر یې چې څو کلن یې؟ کله
چې یې درته پام شو بیا دې نه پرېږدي، هغه له خندا شین شو،
پیرجانه چې همدا اوس یې راته نه نیسئ (کلیزه) نو بیا چې مړ
شوم بیا نو څه کوم؟ بیا یې نو...
کال لا وتی نه و چې له مرګ څخه زموږ د دواړو وېره پر ترخه
واقعیت بدله شوه، دا دی اوس چې مرحوم ننګیال پر ابدي نړۍ
دی، زه دا لیکنه یو ځل بیا چاپوم او د مرحوم ننګیال اروا ته د
دعا لاسونه پورته کوم.

وايي چې د یونان نامتو فیلسوف اپلاتون به د ښو او مثبتو
اړخونو درلودونکي او یا په شعر کې د یوې ښکلې او
نوښتګرې لارې څښتن ته د سبک خاوند وایه او هر سړی او هر
شاعر یې د سبک څښتن نه باله، خو د هغه شاګرد ارستو بیا دا

Downloaded from: ketabton.com

خبره نه منله او ویل به یې: ((هر سړی یو سبک لري خو د چا ښه د چا خراب.))



ځینې ټولنپوهان ټولنه د ضدینو یانې متضادو اړخونو مجموعه ګڼي، چې ښه او خراب، تور او سپین، خواږه او ترخه، غم او خوشالي یې په هنداره کې ځان ښکاره کوي. انګلیسي لیکوال جورج ارویل ټولنه له یوه ژوبڼ سره ورته بولي، چې رنګارنګ موجودات پکې ننداره کېدی شي. خو که چېرې ټولنه یو ژوبڼ وي، نو له دې ژوبڼ څخه به څوک (فاضله مدینه) جوړوي او څرنګه به یې جوړوي؟؟

استاد قیام الدین خادم د شاعر، عالم او سیاستمدار تر عنوان لاندې په یوه هنري نثر کې لیکي: عالم په کرونده کې کښت وکړي، شاعر د دې کښت پالنه او روزنه وکړي، خو کله چې د ثمر او مېوې وخت راشي، نو سیاستمدار یې مېوه، ورېږه او ثمر ټول کړي...

نن موږ هم د دغسې یو شخص (شاعر شخص) په باب خبرې کوو، چې په خپلو اوښکو او اوسېلیو د انسانانو په زړه کې د مینې د بزغلیو د زرغونېدو تکلیزې ولولې لري.

Downloaded from: ketabton.com

دا شاعر او دا شخصیت اسحق ننگیال دی، چې د **۱۳۳۵**ل کال د ثور پر میاشت یې د لغمان ولایت د الینګار د ښکلې او شاعرانه سیمې د بسرام په یوه زړه وړونکي ننداریز کلي کې د نړۍ ترخو او خوږو ته سترګې پرانیستي دي. اسحق ننګیال لا ډېر کوچنی و، چې د مینې عواطفو او ولولو یې د زړه تارونه لکه د یوه مینه وړي ربابي د رباب د تارونو په څېر ترنګولي وو او په ذهن کې یې ورته د یوې شاعرانه سندریزې جونګړې بنسټ ایښی و. پر **۱۳۵۰**المریز کال یانې د ژوند پر پنځه لسم پسرلي د شعر د الهې وربښـمینې ماڼۍ ته ننوت او د خپل ټکلي روح د درملتیا ارام یې وموند. له هغه راهیسې دا دی **۲۵** کاله تېر شول او نن موږ د همدغه **۲۵**کلن ویاړمن او ارزښتمن ژوند په ویاړونو او ارزښتونو د ننګیال د زړه محل ته ننوتی شو او د هغه د زړه او له هغه څخه د راوتلو شعري او ادبي ماڼیو ننداره کولای شو.

ننګیال خپلې لومړنۍ زده کړې د لغمان ولایت په روښان لیسه کې بشپړې کړې، بیا پر **۱۳۵۳**ل کال د پولیسو اکاډمۍ کې شامل او تر فارغېدو وروسته د نوموړې اکاډمۍ تدریسي غړی شو. وروسته یې د هېواد د پوځ په دې برخه کې په بېلابېلو ځایونو کې دنده سرته رسولې او هم یې د هېواد له فرهنګي او خپرنیو ارګانونو سره خپل اړیکي ساتلي، خو وروسته بیا دی د هېواد له فرهنګي او نورو خپرنیو بنسټونو سره دومره وتړل شو چې هڅه یې خپل آر مسلک هم له یاده

Downloaded from: ketabton.com

ووت او چا لا دا گومان قدرې هم نه شو کولای چې ننګیال دې ګڼې یو پوځي افسر وي. دده فرهنګي بوختیاوو، خواږه شعر او نرم قلم، ده ته د فرهنګ وربښمینه جامه اغوستې وه. په تېره بیا له شپېتمو کلونو راهیسې ننګیال دومره په فرهنګ کې حل شو چې د چا خبره سرګرولو ته یې هم وخت نه درلود. ننګیال د خپل **۲۵** کلن فرهنګي ژوند له ژورو یا پیل نه نیولې تر لوړو یا تر دې دمه پورې زیات وخت له قلم سره لوبېدلی او قلم یې لوبولی او دغه لاندې شعري ماڼۍ یې جوړې کړې دي:

**۱- ډالۍ:** د ننګیال د ژوند لومړۍ ماڼۍ (ډالۍ) نومېږي چې پر **۱۳۲۳**ل کال د کورنیو چارو وزارت د نشراتو د امریت له خوا خپره شوې ده.

**۲- سپېره ډاګونه او غوړېدلي بزغلي:** د شعرونو دویمه مجموعه ده، چې پر **۱۳۲۵**ل کال د وخت د ځوانانو سازمان له خوا خپره شوې ده.

**۳- هغه شپې هغه کلونه:** د شعرونو دریمه مجموعه ده، چې پر **۱۳۲۵**ل کال کې د چاپ او خپرونو د دولتي کومېټې له خوا چاپ شوې ده.

**۴- ځاځکي ځاځکي:** د ننګیال د شعرونو څلورمه مجموعه ده، چې د افغانستان د لیکوالو ټولنې له خوا پر **۱۳۲۸** لمریز کال چاپ شوې ده.

Downloaded from: ketabton.com

**۵- ښېرې په مالت کې:** د شعرونو پنځمه مجموعه ده، چې تر اوسه چاپ شوې نه ده.
**۶- سیند و نه هم مري:** د شعرونو شپږمه مجموعه ده، چې تر اوسه چاپ شوې نه ده.
**۷- نه جام نه څادر:** د شعرونو اوومه مجموعه ده، چې دا هم تر اوسه چاپ شوې نه ده.
**۸- سیند په منګي کې:** د بېلابېلو مقالو مجموعه ده، په مستقل ډول تر اوسه چاپ شوې نه ده.
**۹- سیوري:** ناول دی، چې د څو وروستیو کلونو د پېښو انځورنه کوي. تر اوسه چاپ شوی نه دی.

دغه راز د هېواد په بېلابېلو مهالنیو خپرونو کې ګڼ شمېر لیکنې. تر کومه ځایه چې د ننګیال په شخصیت پورې اړه لري او دده د شخصیت پر خبړنه، نو په لومړي ګام کې پخپله د شاعر شعرونه د سرې سترګو ته ودرېږي. په دې مانا چې شعرونه پخپله د شاعر د پېژندنې او د هغه د اندروني ولولو هنداره دي. که چا له پیله تر دې دمه د ننګیال شعرونه له نظره تېر کړي وي، نو تر ټولو دمخه یو شی، چې دده په شعرونو کې زیاته ځلا مومي، هغه مینه او عاطفه ده. ننګیال په خپل شعر کې زیات وخت د هیلیو له معصومو بچیانو، کبانو، هوسیو، ((ای ښکاري اشنا درته سلام کوم، پام کوه ماشې له ګوتې مه وروړه)) او د عاطفې او مینې نو رو زړه وړونکو موجوداتو

Downloaded from: ketabton.com

سره سفر کړی دی، دا منو چې کله کله به یې د کلتوري او ځینو نورو اغېزو له کبله د شعر ټوپک ته هم لاس کړی وي او پر دښمن به یې ډېرې ډزې کړې وي. ((جنګ دی جنګ دی پر ښایسته ننګرهار جنګ دی)) خو په ورځینې ژوند کې د چا پر ضد ټوپک ته څه چې چړې ته یې هم د لاس تېرولو خیال نه دی کړی. دده د خپلې وینا له مخې د چرګ د حلالولو توان هم نه لري، په همدې ډول دی په خپلو شعرونو کې د مینې په سیند د یوه لاهو شوي عاطفي شخص حیثیت لري. په شعر کې د ننګیال مینه او عاطفه په دې مانا نه ده چې ننګیال دې ګنې د ځینو ټولنیزو ستونزو او چوکاټونو په دننه کې راګیر وي او په دې وجه دې دا کار کوي. ننګیال څومره چې په شعر کې مینه وړی او عاطفي دی، هغومره بیا د ټولنیز دود د حاکمو او یا باب چوکاټونو خیال نه ساتي. هغه زموږ د ټولنې د حاکم دودیز چوکاټ پر خلاف ډېر ځله لکه د غني په شان د جام تر مورګو خپلې شونډې رسولي او خپل لوند ګرېوان یې بیا چا نه پټ کړی هم نه دی، که غني له سر زورۍ نه کار اخیست او چا یې مخه نه شوه نیولای، نو هغه خو یو خانزاده و او یو شهزاده. ننګیال سره له دې چې د شعر د شهزادګۍ رنګینه ډولۍ یې کور ته رانویستې، خو د نور سیاسي او اقتصادي ځواک غرونه یې نه وو ولاړ. د ټولنې له دې ډول حاکمو کلتوري دېوالونو څخه سر اوچتول څه اسانه خبره نه ده. د ننګیال په

Downloaded from: ketabton.com

وجـود کـې هغـه شـاعرانه خصـلت موجـود و، چـې د ټـولنې د دوديزو کړيو پر ضد بغاوت وکړي.

ځرنګه چې طبيعت د تحول په حال کې دی، نو انسـان چـې يـو طبيعي موجود دی. هم د بدلون پـه حـال کې دی. ننګيـال هـم پـه خپل شاعرانه ژوند او شاعرانه شخصيت کې د بدلون پـه حـال کـې دی. کـه د ننګيـال لـومړي شـعرونه او هـم يـې د ځـو کلونـو مخنی شخصيت له او سني هغو سره پرتله کړو، نو ډېر توپير بـه پـه کـې وګـورو. هغـه پـه لومړيـو وختونـو کـې يـو ځـه چاتـه ((ډالـۍ)) کـوي، غـواړي ((پـه سـپېرو ډاګونـو کـې غـوړېدلي بزغلي)) وکـري او خپلـې ((هغـه تېـرې شـېبې او هغـه کلونـه)) را پـه يـاد کـړي او بيـا پـرې ((ځـاځکي ځـاځکي)) وورېـږي، خـو وروستيو کلونو کې بيا داسې نه دی. ((پـه مالـت کـې د هغـه لـه خـولې نـه ښـېرې)) راوځـي، ((سـيندونه مـري او وچېـږي))، شاعر پکې (بې ځادره او بې جامه) کېږي. په شاعرانه مفـاهيمو کې جام لکه د قلم پـه شـان د شـاعر همېشـنی ملګری او دوست دی او د خپـل زړه د اورونـو لمبـې د جـام تـر شـونډو رسـوي او (ځادر) د يـو کلتـور او يـوې ټولنې د جامې يوه برخه ده، خو د زمانې ناخوالو شاعر له دې دواړو نه بې برخې کړی دی.

د ننګيـال پـه شـعرونو کـې دا بـدلون پـه دې مانـا نـه دی، چـې شاعر دې ګنې پر ببلا ببلو لارو تللی وي، بلکې پـه دې مانـا دی چـې دی پـه خپـل شعري يـون کـې پـوړ پـر پـوړ د لوړتيـا پـر لـور خوځېدلی دی. دده اوسني شعرونه هم د ښـکلا او هـم لـه مـانيز

Downloaded from: ketabton.com

پلوه تر پخوانیو شعرونو ډېر اوچت دي. څرنګه چې یې په شعرونو کې لوړتیا لیدل کېږي، دغه راز یې په شخصیت کې هم دې آروده کړې ده. ددې بهیر د دوام په حالت کې به ننګیال د خپل شخصیت د پوره بشپړاوي، نور پړاوونه هم ووهي. خو یو ځل بیا یادونه کوم چې له ننګیال نه به د بل ډول شخصیت؛ اجتماعي، سیاسي او نورو ډېره ډېره هیله نه کوو، خو د یو بشپړ شاعرانه شخصیت جوړېدل یې حتمي دي او دا ځکه چې ((شاعران له قیدوبنده بې پروا وي.))

Downloaded from: ketabton.com

# فرهنګي رغونه د افغاني ټولنې
# د رنځونو د یوه علاج په توګه

دا لیکنه هغه مهال له پېښبوره د خپرېدونکي تعاون مجلې په (۳) ګڼه کې چې د ۱۳۷۵ ل کال له (زمري-وږي) میاشتو سره سمون خوري، خپره شوې ده.

افغاني ټولنې ته د تېرو څه کم دوو لسیزو په ترڅ کې تر تصوره او چت زیانونه اوښتي، دې زیانونو د ژوند د ټولو ډګرونو رګونه نیولي او ځینې برخې خو یې ښېخي له کار او فعالیت څخه غورځولي دي. له اقتصادي، سیاسي، ټولنیزو او نورو برخو څخه نیولې تر فرهنګي او نورو چارو پورې هرې یوې دومره ټپونه زغملي چې بیا رغونه یې ډېر کلونه، ډېر تدبیرونه او ډېرې زیاتې اقتصادي پانګې او سرچینې ته اړتیا لري. د افغانانو دا تراژیدي نه یوازې له دې کبله د ډېرې اندېښنې وړ ده، چې د ملیونونو افغانانو ژوند یې اخیستی، بلکې له بېلابېلو خواوو د خپګان وړ ده. د شمېرنو او خپرونو له مخې تر اوسه پورې د افغانستان په دې اوږده او په درنو وسلو سمبال جګړه کې د یو نیم ملیون افغانانو ژوند اخیستل شوی او په همدې شمېر معیوب او معلول شوي دي. په دې مانا چې لږ تر لږه له هرو پنځه لسو افغانانو څخه (درې تنه،

Downloaded from: ketabton.com

معیوب، معلول او وژل شوي او په مجموعي توګه د شپږو تنو نه یو یې معلول دی او دا هغه درانه تلفات دي چې د نړۍ د جګړو په تاریخ کې بې ساري دي.)

همدا راز د افغانستان په جګړه کې د ټولو غارو له خوا دومره زیاتې پیسې لګول شوي، چې د افغانستان د سوونو کلونو بودجه پرې جوړېدلای شوه او همدارنګه د هېواد د اقتصادي منابعو لوټول او ړنګول. خو له دې ټولو ورانیو او تلفاتو سره سره کوم درد او زیان چې انساني فکر او هر هېواد مین افغان لپاره د زغم او تحمل تر بریده پورته دي، هغه د هېواد د هغو فرهنګي شتمنیو لوټول او له منځه وړل وو، چې نه یوازې د افغانستان د تاریخ او فرهنګ بابونه پرې ښکلي وو او زموږ د ماضي ژوند د اثبات او عزت عیني بېلګې وې، بلکې د نړیوال بشري فرهنګ لپاره هم د زیات ارزښت وړ وې.

زموږ د هېواد د فرهنګي ماڼیو د ړنګولو او فرهنګي شتمنیو د لوټولو په نتیجه کې ددې وېره راپیدا شوې، چې په ځینو برخو کې زموږ د هېواد د حال رابطه د هغه له ماضي پرتم سره وشلېږي او همدارنګه د هېواد د ځوان پښت ذهني اړیکي د هغو له ویاړلي ماضي څخه پرې شي.

په دې فرهنګي شتمنیو کې تر ټولو لویه شتمني د افغانستان ملي موزیم دی، چې د څه کم یوې پېړۍ په بهیر کې په ډېر زیات زیار او هڅو جوړ شوی و. په دې موزیم کې له لسو زرو کلونو څخه نیولې تر پنځوس زرو کلونو پورې تاریخي اثار وو

Downloaded from: ketabton.com

چې د افغانستان د تېر تاریخ، شان او شوکت برم او عزت څرګندونه یې کوله او د افغانانو لپاره د ډېر زیات ارزښت درلودونکي وو، یا چور او یا له منځه یوړل شول. د نانسي دوپري په وینا: (( د افغانستان د ملي موزیم اثار نه یوازې د افغانانو لپاره د زیات ارزښت وړ وو، بلکې د هغو له منځه وړل د نړیوال فرهنګ لپاره هم یو له غمه ډک خبر و )) ویل کېږي چې په دې موزیم کې یوازې شل زره طلایي سکې موجودې وې چې د هغو برخلیک هم معلوم نه دی او همدا رنګه نور قیمتي اثار. د افغاني فرهنګ بل درونډ زیان په هېوادنۍ سطحه هماغه تقریباً د (۳۵۰۰) ښوونځیو ړنګول او سېزل وو، چې د هېواد په بېلابېلو سیمو کې یې فعالیت کاوه. که په منځنۍ ډول په هر ښوونځي کې (۱۰۰۰) تنه زده کوونکي پر درس بوخت وای، نو په مجموعي ډول به د زده کوونکو شمېر (۳۵۰۰)×(۱۰۰۰)=(۳۵۰۰۰۰۰) تنه شوی وای، که لږ تر لږه له ښوونځي څخه د کال (۵۰) تنه فارغ شوي وای، نو د یو کال د فارغانو شمېر به (۳۵۰۰)×(۵۰)=(۱۷۵۰۰۰) تنه شوی وای او که له هر پنځو تنو څخه په کال کې یو تن د لوړو زده کو امکان پیدا کړی وای، نو په یوه کال کې به موږ لږ تر لږه (۳۵۰۰۰) تنه د لوړو زده کړو محصلین درلودل، که دا په (۱۷) کلونو کې ضرب کړو (۱۷×۳۵۰۰۰) نو له (۵۹۵۰۰۰) تنو سره مساوي کېږي، یاني اوس به مو د هېواد د دې شتو کادرونو ترڅنګ تقریباً شپږ لکه تنه نور متخصصین او د بېلابېلو مسلکونو

Downloaded from: ketabton.com

کادرونه درلودل او که یوازې د (۱۷) کلونو د دولسمو ټولګیو د فارغانو اټکلیز شمېر په پام کې ونیسو، نو (۱۷×۱۷۵۰۰۰)= (۱۹۷۵۰۰۰) تنه به شوی وای. د ښوونځیو پروډانیو شوی اقتصادي لګښت خو لا پرځای پرېږده.

له ښوونځیو پرته د لوړو زده کړو موسسو ته هم دا ډول زیانونه اوښتي دي. کابل پوهنتون ته د جګړو له کبله د (۵۰) ملیونه ډالره زیان اړول شوی. د دوو ملیونو په شاوخوا کې کتابونه یې یا سیزل شوي او یا لوټ شوي او د محصلینو د شمېر په تناسب یې (۲۱) ملیونه درسي ساعتونه ضایع کړي. کابل پولیتخنیک او کابل طب انستیتیوت هم په ملیونونو درسي ساعتونه او لکونو جلده کتابونه ضایع کړي دي. بیهقي کتاب خپرولو موسسه چې په بېلابېلو کتاب ساتنځایونو کې یې لږ تر لږه دوه ملیونه جلده بېلابېل کتابونه ایښودل شوي وو، ټول لوټ شوي، همدا رنګه د لیکوالو انجمن، عامه کتابتون د ژورنالیستانو اتحادیې، ملي ګالري او ځینو نورو فرهنګي موسسو هم همدې ته ورته زیانونه زغملي دي.

بل دردونکی فرهنګي زیان د کابل ننداري په سیمه کې د لاسي صنایعو پنځه لس نندارتونونه دي، چې تاریخي او اقتصادي ارزښت یې تر تصوره هم لوړ دی، دا نندارتونونه هم د جګړو په ترخ کې چور او د ایرو پر څلو بدل شول. په دې کې د قیمتي ډبرو او غالیو ننداتونونه د زیاتې یادونې وړ دي. همدا رنګه په کابل کې د کتاب چاپولو پنځه لس مجهزې

Downloaded from: ketabton.com

چاپخونې موجودې وې، چې اکثره يې له منځه وړل شوي، دولتي چاپخونې، د پوهنې مطبعې او د اريانا چاپخونې د زياتو امکاناتو په درلودلو سره د ټول هېواد په کچه ډېر زيات کتابونه چاپول. د ۱۳۷۱ کال د ثور د مياشتې پر (۹، ۸، ۷) نېټه پوهنې مطبعې ته دومره زيان اړول شوی، چې د همدې درې ورځو په زيان د ټول هېواد د هر وګړي لپاره (۳) جلده کتابونه چاپېدلای شول او وروستی ور رسېدلی زيان خو لا پرېږده. ددې چاپخونو اکثره وسايل او ماشينونه يا په ګاونډيو هېوادونو خرڅ شول، يا ويجاړ کړای شول او يا هم د کباړ په بڼه په ډېره ارزانه بيه وپلورل شول. د پوهنې وزارت، د هغې په چاپخونه، ښوونځيو او نورو ګودامونو کې چې په مليونونه ټوکه کتابونه خوندي وو، يا چور شول او يا وسيزل شول.

دغو ټولو درندو فرهنګي زيانونو هېواد له ستر معنوي او فرهنګي ګواښ سره مخامخ کړی دی. د ښوونځيو په نشتوالي کې نه يوازې د هېواد کوچنيان او ځوان ښنت له خپلې نېکمرغۍ راتلونکي څخه بې برخې کېږي، بلکې ځوان قشر د جګړه مارو غاړو د خامو موادو په توګه کارول کېږي او په دې توګه د دوی د ژوند د بربادۍ او د هېواد د ورانۍ سبب ګرځي.

اوس راځو دېته چې خپل هېواد او خپله ټولنه بايد څرنګه له دې ستر کړکېچ او بحرانه وباسو؟ پوهان او نور ځيرمن اشخاص پر دې ګروهمن دي، چې د ټولنې ددې ډول بحران د

Downloaded from: ketabton.com

نجات یوه اساسي لاره همدا فرهنګي وده او فرهنګپالنه ده.
نو که څوک د هېواد د اوسنۍ رنځورې ټولنې علاج غواړي نو بايد تر هرڅه دمخه فرهنګپالنې ته پام راواړوي. ښوونځي بايد له سره جوړ شي او ددې ترڅنګ علم يا زده کړه بايد خپله مادي پشتوانه (ملاتړ) لاسته راوړي. یانې دا چې د علم او پوهې د زده کړې په صورت کې بايد د هغه خاوند له دې لارې دومره اقتصادي امکانات پيدا کړي، چې دده ژوند پرې ښه شي، دغه راز د علم له زده کړې پرته له ځينو نورو ناوړو لارو د اقتصادي امکاناتو د لاسته راوړلو لارې چارې وتړل شي. اوس چې زموږ په ټولنه کې د يو شمېر اشخاصو لپاره د ژوند د ښه کېدو لار يوازې د ټوپک شپېلۍ ده او يو عادي ټوپکوال کولای شي د خپل ژوند چارې له همدې لارې ښې کړي او يو عالم، متخصص نه شي کولای د خپل کړي تحصيل په واسطه ځان او کورنۍ ته يوازې وچه ډوډۍ پيدا کړي، نو علم او زده کړه خپل مادي ارزښت او ملاتړ له لاسه ورکوي. پکار خو دا دی چې د ټولنې د وګړو اړتياوې له دې سالمې علمي لارې ښې شي.

په هېواد کې د پوهنتونونو رغول، د نويو پوهنتونونو جوړول او يا د نورو لوړو زده کړو موسسو تاسيسول نه يوازې د هېواد د علمي سطحې په اوچتيا کې اساسي رول لري، بلکې د هېواد د ملي قشر په زياتون کې هم برخه اخلي

Downloaded from: ketabton.com

او د زیاتو کادرونو روزل د هېواد د بېلابېلو تېپونو د علاج لپاره ضروري دي.

هغه ((پوهنتونونه)) چې د بېلابېلو عقایدو او ذوقونو پر بنسټ جوړ شوي او تر مسلکي موخو یې سیاسي مقصدونه زیات او لومړي ښکاري، باید تر سالم کنټرول لاندې ونیول شي، چې د هېواد روشنفکر اشخاص تر دې زیات له سیاسي او ذهني پلوه ونه وېشي او پر دښمنیو یې مصروف نه کړي. د متعددو پوهنتونونو موجودیت د هېواد په زیان نه دی، خو په دې شرط چې آره موخه یې یوازې یوازې د مسلکي او فني کادرونو روزل وي او بس.

د ملي موزیم، ملي آرشیف، ملي ګالري او د افغانستان د فرهنګ د بېلابېلو نندارتونونو بیا رغونه او جوړونه او همدارنګه د هغو لوټ شویو اثارو بیا راټولونه د هېواد د تېر برم د ساتنې د یوې وسیلې په توګه د افغانانو د ملي تاریخ په ژوندي ساتلو کې برخه اخیستلای شي.

د ښوونځیو، پوهنځیو او نورو فرهنګي موسسو په زیاتېدلو سره به په هېواد کې د زده کړو خاوندان زیات شي او د هغو نازده کړو اشخاصو شمېر به ورو ورو کم شي، چې جګړه ماري غاړې یې د جګړې لپاره د پیسو په مقابل کې استخداموي.

Downloaded from: ketabton.com

# په افغانستان کې تنظيمي اداره او پولي تورم

دا ليکنه هم د وفا جريدې د شپږم کال په ۳۳-۳۶ گڼه کې چې د ۱۳۷۶ل کال د تلې له ۸ نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده او هغه پولي تورم ته په کې اشاره شوې چې له څو کلونو، په تېره بيا د تنظيمي واکمنۍ پر مهال پر افغانستان راخور شوی و.

تېره څلورنيم کلنه جنجاليزه او ناندريزه تنظيمي اداره، له ډېرو زياتو بدمرغيو، جنگونو او کړاوونو ډکه وه. پر همدې وخت په شعوري او ناشعوري ډول زموږ د ولس، کلتوري، اقتصادي او ټولنيزې شتمنۍ ته دومره زيانونه واړول شول، چې که هرڅوک يې يو ځل له نظره تېر کړي، نو پر زړه به يې لمبې بلې شي. په اقتصادي برخه کې په لسگونو مليارده ډالر زيان واړول شو او د افغاني ټولنې د ژوند بېلابېلې برخې يې تر اغېزې لاندې راوستې. د گرمې جگړې په ترڅ کې د رسول شوي زيان ترڅنگ خلکو ته يو بل ډول زيان هم اړول کېده، دلته موږ ولس ته پر همدغه اړول شوي زيان خبرې کوو.

دا زيان پولي تورم او انفلاسيون دی، چې تېرې تنظيمي ادارې او واکوالو يې د خپلې بقا لپاره زموږ ولس ورسره لاس او گرېوان کړ. دوی په روسيه کې په ټنونو بې پشتوانې افغاني

Downloaded from: ketabton.com

بانکنوټونه چاپ او د جګړې لپاره یې پر خپلو افرادو ووېشل. نه یوازې دا چې د خلکو د عایداتو سطحه راټیټه کړای شوه، بلکې بېخي له منځه یوړل شوه. د ډاکټر نجیب الله د حکومت د وروستي کال او د تنظیمي ادارې د وروستي کال د شیانو د نرخونو ترمنځ خورا لوی واټن موجود دی. په دې زماني واټن کې نرخونو له (۵۰۰) ځله څخه نیولې تر (۱۵۰۰) ځلو پورې اوچت شوي دي. په داسې حال کې چې په تنظیمي اداره کې د مامورینو په معاش کې یوازې (۲۵) یا (۳۰) ځله زیاتوالی راغلی، هغه هم یوازې د وچو بې ارزښته کاغذي پیسو په شمېر کې. نه د هغوی په ارزښت او اهمیت کې او دا هم د کوپوني موادو په بدل کې. که د کوپوني موادو ارزښت په پام کې ونیسو، نو نه یوازې دا چې د مامورینو په معاش کې زیاتوالی نه دی راغلی، بلکې لا ډېر کمی هم راغلی دی. په حقیقت کې په تېره اداره کې هره میاشت انفلاسیون له ۵۰ فیصدو نه تر پوره سل فیصدو پورې لوړېده او کله لا تر دې هم زیاتېده. د تنظیمي ادارې چارواکو فکر کاوه چې د پیسو د چاپ انحصار د دوی په لاس کې دی او همدا کاغذي پیسې دي، چې په اوس وخت کې د مخالفینو او د ولس له چنګاله دوی ژغورلی شي، نو د پیسو چاپ ته یې کش ورکړ او دومره پیسې یې چاپ کړې، چې نه یوازې په افغانستان، بلکې د زماني واټن له مخې به یې په نړۍ کې هم ساری کم وي.

Downloaded from: ketabton.com

وګورئ د پخواني پاچا محمد ظاهر شاه په ټوله ۴۰ کلنه دوره کې ۱۹ ملیارده افغانۍ چاپ شوي، د سردار محمد داود خان په پنځه کلنه دوره کې ۲۸ ملیارده افغانۍ او کمونست رژیم په څوارلسو کلونو کې (۷۰۰) ملیارده افغاني چاپ کړي، خو د طالبانو وینا ده چې د ښاغلي رباني رژیم په څلورو کالو کې لږ تر لږه (۸۰۰۰) ملیارده افغانۍ چاپ کړي دي. د افغانستان بانک د یو تن کارکوونکي په قول دا رقم تر دې زیات دی. د ده په قول استاد رباني (۱۲۰۰۰) ملیارده افغانۍ چاپ کړي دي، چې د بانک کارکوونکو ته معلومې دي. د کتونکو او څېړونکو په اند کېدی شي، د دې ادارې له خوا چاپ شوې پیسې تر دې هم زیاتې وي، ځکه دا هغه شمېره ده چې لږ تر لږه د افغانستان بانک کې ثبت شوې او یا د بانک کارکوونکو ته معلومه ده، خو د دې تر څنګ د تېرې ادارې ځینو واکوالو هم ځانته په خپله خوښه د خپلې اړتیا وړ پیسې چاپ کړي، چې هغه لا په مرکزي بانک کې ثبت شوې نه دي. هماغسې لنډې د باګرام هوایي ډګر ته راوړل کېدې، بیا پنجشېر ته وړل کېدې او بیا یې د خپلو موخو لپاره لګولې، خو که دا خزانه په پام کې هم ونه نیول شي او یوازې د استاد رباني (۱۲۰۰۰) ملیارده افغانۍ په پام کې ونیسو، نو دا د افغانستان د تېرو شپېتو کالو د ټولو چاپ شویو بانکنوټونو ۱۵ برابره پیسې دي. د خواشینۍ خبره خو دا ده چې دې پیسو د هېواد اقتصادي او د ثابت عایده او لږ عایده خلکو حالت له سختو ستونزو سره مخامخ کړ. ټول هېواد له پولي تورم سره مخامخ شو او د پیسو ارزښت دومره راټیټ

Downloaded from: ketabton.com

کړای شو، چې نړدې و د چاپ له قیمت سره منطبق شي. هغه وخت چې پنځه زریز او لس زریز بانکنوټونه نه وو چاپ شوي، نو استاد رباني د زرو افغانیو په بدل کې څلور زره افغانۍ چاپولای شوې. کله چې دا حالت نور هم خراب شو، نو بیا دوی پنځه زره ګون او لس زره ګون نوټونه چاپ کړل. دې سره د زرګون په انډول د چاپ لګښت د هغه د لوړ رقم له کبله څه کم شو، خو تورم او انفلاسیون لا پسې زیات شول، خو استاد بیا هم د پیسو چاپ ته دوام ورکړ. د پیسو د بې ارزښتۍ یوه بله مرموزه او پټه وجه دا هم وه چې په یوه نمبر او یوه سریال نمبر باندې یو بنډل (سل سل) بانکنوټونه چاپ شول. یانې دا چې سل دانې زرګونونونه لیدل شوي، چې له پیله تر پایه په یوه نمبر چاپ شوي او همداسې نورې جعلکارۍ. بله ستره د بدمرغۍ خبره داده، چې تېرې ادارې تقریباً دا ټولې چاپ شوې پیسې د هېواد په تخریبي برخه کې مصرف کړي. که موږ په فرضي ډول د تېرې تنظیمي ادارې له خوا دا معلومې چاپ شوې پیسې (۱۲۰۰۰) ملیارده افغانۍ او نورې نامعلومې ټولې د افغانستان پر **۱۵** ملیونه نفوس باندې وو بشو، نو هر تن ته به په لکونو افغانۍ ورسېږي. که تنظیمي ادارې دا پیسې همداسې پر هر افغان وېشلې وای، نو د هر افغان لپاره یې په هېواد کې یو متوسط کور جوړولای شو. ادارې نه یوازې دا چې د چا کور ودان نه کړ، بلکې زموږ د هېوادوالو کورونه یې هم ونړول، یوازې د کابل په ښار کې یې تر اتیا زرو زیات کورونه د ځان مینې واکمنۍ په غرض د خاورو او ایرو پر ځلو واړول. بله بدمرغي خو داده چې

Downloaded from: ketabton.com

نه یوازې دا پیسې د ملت لاسته ورنغلې، بلکې د ملت د ژوند او ملي شتمنۍ پر ضد هم استعمال شوې او دا ثرګنده خبره ده، چې په تخریبي ساحه کې د یوې افغانۍ لګښت د سلو نورو افغانیو زیان اړولای شي، اوس نو که د استاد رباني له خوا دا چاپ شوې او معلومې (۱۲۰۰۰) ملیارده افغانۍ په تخریبي برخه کې د احتمالي زیان له مخې په سلو کې ضرب کړو ۱۲ زره ملیارده ضرب یې ۱۰۰ زره ملیارده، له ۱۲۰۰ زره ملیارده افغانیو سره به مساوي شي، یانې دا چې د استاد په واکمنۍ کې هېواد ته د هغه د چاپ شویو پیسو له مخې د معنوي، فرهنګي او نورو زیانونو ترڅنګ ۱۲۰۰۰ زره ملیارده افغانۍ زیان اړول شوی. په دې محاسبه کې لا هغه مادي شتمنۍ چې په کابل کې د ده تر واک د مخه موجوده وه او بیا لوټ شوه، شامله نه ده او هم هغه مالي او نور امکانات چې له نورو لارو استاد او د هغه یارانو ته رسېدل او بیا په جګړه کې ورڅخه کار اخیستل کېده.

Downloaded from: ketabton.com

# د محمد اسمعیل یون لنډه پېژندنه



محمد اسمعیل یون د حاجي محمد خان زوی په ۱۳۴۶ل کال، د لغمان ولایت د الینګار ولسوالۍ دنیازیو په یوې روښنفکرې کورنۍ کې زیږېدلی دی.

لومړنۍ زده کړې یې د الینګار ولسوالۍ د سلینګار په لومړني ښوونځي کې سرته رسولي دي، تر هغه وروسته کابل ته راغی او په خوشال خان لیسه کې شامل شو. په ۱۳۶۶ل کال له نوموړې لیسې څخه په دویم نومره بریالی او په ۱۳۶۷ل کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې محصل شو. په ۱۳۷۰ل کال له نوموړې څانګې څخه اول نومره بریالی او په همدې کال بېرته د پښتو څانګې د کدر غړی شو. په ۱۳۸۵ل کال په نوموړې څانګه

Downloaded from: ketabton.com

کې د ماسترۍ دوره پیل شوه، یون په ډېر ښه او بریالي ډول دا دوره پایته ورسوله.

محمد اسمعیل یون له ۱۳۷۰ل کال څخه بیا تر ننه پورې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي تدریسي غړی او د(پوهندوی) علمي پوړۍ ته رسېدلی دی، پر استادۍ سربېره، استاد یون د ((کابل پوهنتون))، ((هیلې)) او((شمشاد ))مجلو د چلوونکي دنده هم په ښه ډول ترسره کړې ده. په پېښور کې د چاپېدونکې ((معارف)) مجلې کتونکی غړی هم و. همدارنګه دیو شمېر نورو چاپي خپرونو همکار هم پاتې شوی دی.

استاد یون پر ۱۳۸۱ل کال، په جلال اباد کې بېړنۍ لویې جرګې ته د ختیزو ولایتونو د انتخاباتو د دفتر مشر شو، ددې جرګې لپاره تر ټاکنو وروسته د جرګې غړی، بیا د جرګې د غړو له خوا د بېړنۍ لویې جرګې دلومړي منشي په توګه انتخاب شو. استاد یون په دې جرګه کې تر خپل وروستي وسه خپل ملي او تاریخي مسولیت ادا کړ او د هېواد دښمنه عناصرو د توطیو مخه یې ونیوله.

تر دې جرګې وروسته، کله چې د افغانستان د اساسي قانون د تدوین بهیر پیل شو، نو استاد یون بیا ددې بهیر لپاره د ختیزو ولایتونو د دارالانشاد دفتر مشر وټاکل شو. په ختیزو ولایتونو کې د اساسي قانون د لویې جرګې لپاره انتخابات هم د همدې دفتر له خوا ترسره شول.استاد یون د اساسي قانون د تصویب په لویه جرګه کې د نوموړې جرګې د دارالانشا د غړي په توګه خپل فعال رول ادا

Downloaded from: ketabton.com

کړ. ټاکل شوې وه، استاد یون په ختیزو ولایتونو کې د افغانستان د جمهوري ریاست لپاره د عمومي ټاکنو د دفتر مسول شي، خو په کابل کې د لویو جنګسالارانو او ځینو تنظیمي مشرانو له خوا پر حکومت او ملګرو ملتونو د زیات فشار له امله له کاره ګوښه شو. ملګرو ملتونو (UNAMA) استاد یون ته وړاندیز وکړ، چې په کابل کې به تر دې لوړه دنده در وسپارو، خو استاد یون ونه منله او خپلې استادۍ ته یې دوام ورکړ.

درې کاله وروسته یې د ځینو ملګرو په زیات ټینګار او غوښتنه، د جمهوري ریاست د ملي امنیت شورا په دفتر کې د فرهنګي چارو د ریاست دنده و منله او په کابل پوهنتون کې پر استادۍ سربېره لا تر اوسه دا دنده پر مخ وړي. استاد یون پر ۱۳۸۵ل کال د افغانستان او پاکستان د امن ګډې جرګې لپاره د افغانستان له خوا د منشي په توګه غوره شو او دا دنده یې هم په ښه ډول ترسره کړه.

استاد یون د خپلو اکیکوال په توګه په تېرو شلو کلونو کې ګڼ شمېر فرهنګي او ټولنیز خدمتونه ترسره کړي، په ګڼو چاپي، راډیویي او ټلویزیوني مرکو کې یې د واقعیتونو او حقایقو د څرګندیدو له امله د خلکو په زړونو کې ځای نیولی دی. که څه هم ډېر خلک د یون لیکنې، مرکې او نظریات خوښوي، خو یو شمېر داسې خلک هم شته، چې د یون سرسختي مخالفین دي. د هغه ملي او ګټورو نظریاتو ته هم غلط رنګ او تعبیر ورکوي، دا ډول اشخاص، چې اکثره یې زورواکي او د سیاسي ډلو ټپلو غړي او

Downloaded from: ketabton.com

مشران دي، د استاد یون نظریات خپلو شخصي او تنظیمي ګټو ته خطر بولي، نو ځکه یې په ټینګه مخالفت کوي. زه دد ې شاهد یم، هر کله چې یون کومه لیکنه او مرکه کړې، نو دده پر وړاندې یې مثبت او منفي غبرګونونه دواړه راپارولي دي، منفي غبرګونونه اکثره وخت د هغو اشخاصو او ډلو له خوا وي، چې په تېر کړکېچن سیاسي بهیر کې یې ډېرې نامشروع ګټې ترلاسه کړي او ځانونه یې مطرح کړي دي.

مثبت غبرګونونه اکثره د ولس د مشرانو، روښنفکرانو او نورو مخورو له خوا وي، خو استاد یون په دغسې سختو اغزنو او تنګو شرایطو کې بیا هم خپل فرهنګي، سیاسي او ټولنیز کار ته دوام ورکوي.

دا اوسنی فرهنګي کار، چې تاسو یې اوس په مسلسل ډول ګورئ، دا د تېرو شلو کلونو کارونه دي، چې له تېر یو نیم کال راهیسې پرې په منظم ډول کار شوی، او ډل شوي او دادی ستاسو مخې ته اینبودل کېږي، په داسې یو دولتي دفتر کې چې بوختیاوې په کې ډېرې وي، د منظم او ستر فرهنګي کار سرته رسول اسانه کار نه دی.استاد یون پر خپلو فرهنګي کارونو سربېره د ګڼو فرهنګي ټولنو د غړي، همکار او موسس غړي په توګه هم خپل فرهنګي رول ادا کړی، په پېښور کې یې د دوو المان مېشتو فرهنګي ټولنو (دافغانستان دکلتوري ودې ټولنې) او (د پښتني فرهنګ د ودې پراختیا ټولنې) د همکار په توګه د بېلابېلو لیکوالو په لسګونو

Downloaded from: ketabton.com

اثـار، ایډیټ او چـاپ کـړي دي. دغـه راز يـې پـه سـلګونو کورنيـو مشاعرو، ادبي غونډو او سيمينارونو کې ونډه اخيستې ده، خپله يې هم په لسګونو مشاعرې، سيمينارونه او علمي ورکشاپونه جوړ کړي دي.

سربېره پر دې، په يو زيات شمېر، ملي او نړيوالو کنفرانسـونو کې يې په ښه ډول د خپل هېواد استازي کړې ده. دلتـه بـه يې د اثارو يادونه وکړو:

## اثار

### الف- پنځونې:

| کتاب نوم | څرنګوالی | چاپکال |
|---|---|---|
| • متکور | لومړی شعري ټولګه | دويم ۱۳۸۷ |
| • په اورونو کې سندرې | دويمه شعري ټولګه | دويم ۱۳۸۷ |

### ب- راټولونې:

| | | |
|---|---|---|
| • هيلې | ګډه شعري ټولګه | دويم ۱۳۸۷ |
| • نيمګړي ارمانونه | د حيران شعري ټولګه | دويم ۱۳۸۷ |
| • د لوونو فصل | ګډه شعري ټولګه | دويم ۱۳۸۷ |
| • د نازو انا ياد | د سيمينار د ليکنو ټولګه | دويم ۱۳۸۷ |
| • د استاد الفت نثري کليات | د استاد الفت نثرونه | درېيم ۱۳۸۷ |
| • سيندونه هم مري | د اسحق ننګيال شعري منتخبات | دويم ۱۳۸۷ |

### ج- ژباړنې:

- د ټولنپوهنې له نظره: په افغانستان کې د واک جوړښتونه
د پوهنوال روستارتره کي اثر دويم ۱۳۸۷

Downloaded from: ketabton.com

- .د افغانستان فرهنگي میراثونو ته یوه کتنه
  د نینسي دوپرې اثر دویم ۱۳۸۷
- په افغانستان کې د جګړې جنایتکارانو محاکمه
  د پوهنوال روستار تره کی اثر دویم ۱۳۸۷

## د - یونلیکنې:

- د اماراتو سفر د اماراتو یونلیک دویم ۱۳۸۷
- که یون دی یون دی د اروپا یونلیک لومړی ۱۳۸۷
- د پښتانه ګون ترخنډو د امریکا یونلیک لومړی ۱۳۸۷

## هـ- څېړنې او شننې:

- د محمد ګل خان مومند اند و ژوند ته یوه لنډه کتنه دویم ۱۳۸۷
- استاد زیار د پښتني فرهنګ یو ځلاند ستوری دویم ۱۳۸۷
- د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي پښتو کتابښود دویم ۱۳۸۷
- د افغانستان فرهنګ ته اوښتي ژبانونه دویم ۱۳۸۷
- د پښتو شعر هندسي جوړښت شپږم ۱۳۸۷
- له افغانستانه د مسلکي کادرونو د فرار عوامل دویم ۱۳۸۷
- ساینسي پرمختیاوې دویم ۱۳۸۷
- ببرړنۍ لویه جرګه ولسواکي او زورواکي دویم ۱۳۸۷
- اندیال خوشال لومړی ۱۳۸۷
- هیله د خپلو سریزو په لمن کې لومړی ۱۳۸۷
- کلتوري یون لومړی ۱۳۸۷
- فرهنګي فقر لومړی ۱۳۸۷
- مرکه او مرکې لومړی ۱۳۸۷
- خوشال په خپل ایډیال لومړی ۱۳۸۷
- د کتابونو په وړمو کې لومړی ۱۳۸۷

Downloaded from: ketabton.com

- افغانستان په سیاسي کړلیچ کې    لومړی ۱۳۸۷
- پښتو لیکنی سمون    لومړی ۱۳۸۷
- اوسنۍ رسنۍ    لومړی ۱۳۸۷
- که نړیوال ماته وخوري؟    لومړی ۱۳۸۷

خدای(ج) دې استاد یون ته ډېر عمر ورکړي او جرئت دې ورته هم تاند لري، الله(ج) دې دی له هر ډول بدو بلاوو وژغوري، په فرهنګي کارو زیار کې ورته د نور زغم او سېلې هیله لرم.

په درناوي

وفاالرحمن وفا

کابل- افغانستان

Downloaded from: ketabton.com

# Farhangi Faqər

## (Cultural Poverty)

By:
M. Ismael yoon

ISBN 978-9936-500-23-5

د خپرونو لړ: (۲۴)

**Get More e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com - Digital Library**